مظلوم ورته خندېږي او ظالم کوي فریاد
د زړۀ په وینو تـکی دا زمـا قـلم لیکي

سیف الملوک صدیقي

# زه کومه انتظار ستا د سترګو

پښتو

ډاټ نېټ
Pukhto.net

# ټول حقونه محفوظ دي


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | زۀ انتظار کومه ستا د سترګو |
| شاعر | سیف الملوک صدیقي |
| د زېږون نېټه | ۹ فروري ۱۹۱۸ء |
| د وفات نېټه | ۹ فروري ۱۹۹۵ء |
| اهتمام | فضل ودود |
| کمپوزنګ | نقیب احمد جان |
| پروف | اتل افغان |
| ډیزائن /ټائټل | نقیب احمد جان |
| چاپه خانه | مشرف پرنټنګ ایجنسي |
| د چاپ کال | فروري ۲۰۱۱ء |
| شمېر | پنځه سوه |
| بیعه | ۲۵۰ (دوه نیم سوه) روپۍ |




ukhto.net

# ټرون

## زمونږ د هاغې مور

## په نامه

چا چې زمونږ د داجې په بسترِ مرګ تر پنځه کاله پورې داسې په مینه ، محبت او خلوص خدمت اوکړو چې خپل خو خپل دشمنان به ئې هم په دې خدمت ګواهي ورکړي .الله تعالی دې ورله د دې اجر ورکړي.آمین.

فضل ودود



ukhto.net

# دَ کان د جواهرو نه موتي راټولوم

که دې د خیاله بهر شوے نه یم
ستا صدیقي یم که دې یاد یمه زۀ

هر څو که وخت د انسان په ذهن او یاد داشتو د خپلې برق رفتارۍ په اړه ګرد و غبار غورځوي او ډېر یادونه او خبرې د دې ګرد لاندې راځي خو بیا هم هغه یادونه او هاغه خبرې چې د بقا او دوام سند لري په څه نه څه وخت کښې او په څه نه څه چاپېریال کښې دغه ګردونه د خپل مخ نه اوسڼدي او یو ځلې بیا د خلقو په نظر کښې لکه د اسمان د برېښنا اوځلیږي . هر څو که د صدیقي صېب څلور چاپ شوي کتابونه اوس نایابه دي او تر دې حده چې د هغوئ اولنے کتاب (درد) خو د هغوئ د بچو سره هم نشته خو بیا هم د هغوئ د نامې نه دنیا اګاه ده او د هغوئ دا غزل چې

زۀ انتظار کوم ستا د سترګو
ولې پناه شوې تۀ زما د سترګو

وخت په وخت د هوا په چپو په ګرده نړۍ کښې خورېږي او د هغوئ نامه د نړۍ وګړو ته رایادوي. که د صدیقي صېب ویړ کلام یو اړخ ته کېښودې شي او هډو نې څوک ذکر هم او نه کړي بیاهم د هغوئ د نامې تر قیامته نه یواځې په لر و بر پښتونخوا بلکې په ګرده نړۍ د ژوندي ساتلو دپاره د هغوئ دغه یو غزل هم کافي دے د کوم مطلع چې پورته ذکر کړې شوه.



ukhto.net

صدیقي صیب هاغه وخت دا فاني دنیا پرېښې وه چې لاما د شعر و ادب سره څه اړیکې هم نه لرل .او سره د دې چې دواړه د یو کلي یو د شعر و ادب د اسمان د دې ځلنده ستوري دیدن زما په نصیب کښې نه وو .خو بیا هم ځان ډېر خوش قسمته ګڼم چې د هغوئ په چاپ کتابونو کښې درې کتابونه ما لوستي دي ، او دوه خو راسره اوس هم په لاس کښې دي .بله دا چې د هغوئ مینه مې د هغوئ په مشر خوی فضل ودود صیب باندې ماتېږي ، چا چې زما په دې درخواست (چې زۀ غواړم چې د صدیقي صیب د ځلورو واړو کتابونو یو کتاب د کلیات په شکل کښې چاپ کړو) ډېره په مینه زما سره ناسته او کړه او راته ئې اووئیل چې بچیه! دا خو یو طرف ته خو ما د خپل والد محترم ناچاپه کلام تراوسه پورې د سینې سره جُخت ساتلے دے او د سوات په سیمه د دې درې کلیز قیامت خېزه حالاتو په دور کښې ما د خپل کور جائیداد او اولاد نه وړاندې د دې دریو ډائریانو چې د صدیقي صیب ناچاپه کلام پکښې خوندې دے ، حفاظت مقدم ګڼلے دے .زۀ غواړم چې مخکښې دا چاپ کړم .او بیا ئې هم په هغه وخت هغه کلام ما ته د دې خبرې سره حواله کړو چې تر اوسه دا امانت ما اوساتل او اوس ستا په ذمه........ ما ځان ډېر خوش بخته هم اوګڼو او د دې سره سره زما اوږې یو دم د یو لوئے بار لاندې درنې هم شوې .کله چې زۀ د کتاب کمپوزنګ ته کښېناستم نو د هغوئ د املا ولاړۀل زما دپاره یوه ګرانه مرحله ثابته شوه خو بیا هم د لوئے الله شکر ګزار یم چې دا کار ما تر سره کړو .اوس که په کتاب کښې د قارئینو



ukhto.net

مخې ته کمې راځي نو دا دې د صديقي صېب نۀ بلکې زما په کاته کښې غورځوي ځکه چې هغوئ په خپله موجود نه وو صرف د هغوئ لاس ليک وو او ما چې د خپل کم علم په رڼا کښې تورے ځنګه ولاړ کړے دے ، ليکلے مې دے . بله دا چې ځنې توري ما هم هغسې ليکلي دي ځنګه چې صديقي صېب ادا کړي دي ، اګرچې د ليک دود په قواعدو کښې هغه داسې ليکل صحي نه ګڼلې کيږي لکه ـــــ د ‹کوي› په ځائے ‹کئ› يا د ‹ژړوي› په ځائے ‹ژړئ› د ‹اوچتوي› په ځائے ‹اوچتئ› وغېرهم .دا د دې ويرې نه که چرې د ليک دود د قواعدو خيال اوساتم او هم دغسې ئې قاري اولولي نوشعر يا مصرعه به د وزن نه ساقطه شي.د خپلې دې قصداً کوتاهۍ لپاره بخښنه غواړم.

کله چې ما مسوده ودود صېب ته وړاندې کړه او ورته مې اووئيل چې اوس ئې چاله ورکړو چې ليکل پرې اوکړي نو يو ځل بيا زۀ هغوئ د يو درونډ بوج لاندې راوستم او راته ئې اووئيل چې د کتاب په چاپ کؤلو کښې دا شته کوتاهي هم ډېره ده او زۀ دا نه غواړم چې په دې معامله کښې دې نور د لم لپټ نه کار واخستې شي .تۀ وړاندې په خپله چې څومره زر کېدے شي ليکل اوکړه.

دا سپيناؤے کؤل غواړم چې د ادب په مېدان کښې خان لاطفلِ مکتب ګڼم .د صديقي صېب په کتابونو د پرېشان خټک ، عبدالرحمان شباب ، شېر محمد مېنوش منډړ او د فېضانِ سوات غونډې ليکوالو ليکونه موجود دي .بل صديقي صېب د دې خبرې محتاج هم نه دے چې په کتاب او کلام دې ئې ځا مخا ديباچه


ukhto.net

اولیکلې شي .بیا هم دا وئیل غواړم چې صدیقي صیب د سوات په ګلورینه سیمه د قدرتي حسن په غیږ کښې پیدا شوے لوئے شوے شاعر دے په دې اړه حسن پرستي د هغوئ په کلام کښې لازمي او اهمه برخه لري.

مخ ته دې کاته کړي دغه شمس و قمر واړۀ
وروستو راتـه وایـه بـل طـرف تـه نظـر واړۀ

د صدیقي صیب غزل د تغزل نه ډک د خوند او رنګ په نړۍ لکه د افق د سرخۍ خور دے.

دلبر مې په خندا کښې په هنر حلالوی
قصاب د بهلتانه مې هر سحر حلالوی
مایوسه صدیقي شمه د هجر په تورتم کښې
زر ستا د مخ رڼا راته د سترګو سترګو شي

د صدیقي صیب کلام په نادره تشبیهاتو ، استعاراتو ، کنایو او صنعتونو مالامال دے.

ځان دې صدیقي اودرۀ په صف د عاشقانو کښې
خبر دے که نامراد لکه فرهاد شې خو غر واړۀ
جرګې زما په سر چې د اغیاره سره دي
تسبیح د یار په غاړه د زناره سره دي

د صدیقي صیب یو ځانګړے انداز دے چې د هغوئ په کلام کښې محسوسیږي .د هغوئ اکثرې غزلې داسې دي چې قافیه ئې


ukhto.net

څومره جُختـه وائـې دومره خوږند پېدا کوی .دا داسې انداز دے چې د صديقي صېب د کلام نه علاوه ما بل ځائے نه دے محسوس کړے .
لکه د مثال په توګه

رايـاد چـې سـلوکونه د زمـان و زمـن شـی
جاری مې پرې د سترګو نه ګنګا و جمن شی
د زړۀ نـه چـې يـو آه مـې د دهانـه پـورې ځـی
پـه شـان د تـېره غشـی د اسـمانه پـورې ځـی
پخه کـه دې په زړۀ کښې اراده په صداقت کړه
بـدل بـه دې قسمت هلتـه پـه لـوح و قلـم شـی
پـه مـا چې ايرابې کـوی پـه خپلـه بـه شيره شی
جرات مې دومره شته چې د پامير سره جنګېږم

هر څو کـه صديقي صـېب پـه فطری توګـه يـو رومـان پروره او حسـن پرسته غـزل ګـو شاعر دے خـو بيـا هم د پښتو نظم په نورو اصنافو پـه زړۀ پورې عبور لـری .د پښـتنو د حجرئيز ژوند ښائست چاربېتـه ډېره ښائسته ليکی .هـم د دې کتـاب د نظم په برخـه کښـې ډېرې ښائسـته چاربيتې موجـودې دی .د دې نـه عـلاوه پـه مربـع ، مثلث ، مخمـس ، مسدس نظم هم ښـه مضبوط لاس لـری .مستزاد نظم چې پـه پښـتو کښې ورته نيمګې وائی ډېر په ښائسته انداز کښې ليکی.

کلـه د سـرو شـونډو شـربت بـه دم پـه دم درکـوی
کله به غم درکوی


پښتو کتابتون
ukhto.net

کله ډالی د خپلې مینې په قسم درکوی
کله ماتم درکوی
کله په عقل کښې هوښیار لکه لقمان مزه کا
کله نادان مزه کا

د مثلث نظم ډېرې ښې تجربې ئې د کلام یوه اهمه برخه ده . د قطعاتو خو ئې ما په دې کتاب کښې ځان له برخه جوړه کړې ده .او د کتاب اخری برخه د فردیات په نامه چې د هغوئ د خپل کلام نه هم د هغوئ د خوښې چاڼ دے.

د صدیقی صیب په کلام د بحث دپاره خو د ځان له ضخیم کتابونو ضرورت مخې ته راځی خو د دې تعارفی لیک نه وروستو دا خبره سپینول غواړم چې د هغوئ دا کتاب زیاتره هغه کلام لری کوم چې هغوئ د ریاستِ سوات په پاکستان کښې د ادغام نه وروستو په سعودی عرب کښې د مسافرۍ په وخت کښې لیکلے دے. دې کتاب ته که زۀ د هغوئ د مسافرۍ د ورځو ډائری اووایم نو بې ځایه به نه وی په دې کتاب کښې هغوئ د نورو کتابونو په شان د یو حسن پرست او رومان پرور شاعر په حېث نه بلکې د یو حقیقت نګار او مصلح په ډول په نظر راځی .د کلام نه ئې دا هم جوتیږی چې هغه په خاندان کښې د ځنې خلقو نه خفګان هم لرلو چې زد ئې د هغوئ په زامنو هم راځی .ما دا خبره د کتاب د کمپوزنګ نه وروستو د ښاغلی فضل ودود صیب سره اوکړه ـــــــ هغوئ مسکی شول او وئې وئیل چې هغوئ څه


ukhto.net

هم لیکلی دی هم توری په توری ئې چاپ کړه. د هغوئ خفګان په خپل ځائے او زما د هغوئ سره مینه او احترام په خپل ځائے .زۀ ښاغلی ودود صېب ته داد ورکوم او لازم ګنم چې د یو فرمانبرداره او مئین زوی دې مینې ته سلام اوکړم چې هاغه خبرې چې په څه معنو کښې د هغه خلاف ځي .او ډېر په اسانه ئې د دې کتاب نه ویستې هم شوې خو داسې ئې او نه کړل او د خپل صداقت ، فرمانبرداری، او د پلار سره د مینې ثبوت ئې ورکړو .او ولې به نه وی چې هغه هم د صدیقی زوے دے .اګرچې د خپل خفګان چې په غلط فهمو ئې اړانه وه صدیقی صېب په بسترِ مرګ باندې غندنه هم کړې وه.

هیله لرم چې نه یواځې د سوات اولس بلکې د لر و بر پښتونخوا او په تېره تېره د ګردې نړۍ پښتون اولس به د دې پیاوړی او خوږ ژبی شاعر صدیقی صېب کلام ته ځیر شی ، د خپل ځادر پلیسکے به ورته اوغوړوی او د ښائسته شعرونو لعل و جواهر به ترینه پنډوکے کړی.

چې په زرګونو مسافر اودروی
داسې چاپونه د قدم پرېږده

په توله پښتنه مینه
**نقیب احمد جان**
جان کتاب کور کبل سوات

نېټه: ۲۱ فروری ۲۰۱۱ء


ukhto.net

# ژوندے صدیقي

ستا مینه تیغ بندی زما د غاړې چغاول شه
پهٔلاس کښې معشوقو سره خنجر جدا جدا دے

دا دیرې په خوا د تېرېدو په وخت د صدیقي صیب د قبر په خازه لیکلې شوي دې شعر زما د نظر سره سره زما د سوچ واګې هم کلکې اونیولې .او زما وړاندې تلونکي قدمونه ئې ځان پله داسې رابنکل لکه مقناطیس چې د اوسپنې ذرې راکاږي .زۀ د خاورو د



ukhto.net

هغه ډېرې خوا ته اودرېدم چې د سيورې لاندې ئې صديقي صېب داسې اوډۀ وو لکه چې د لق دق صحرا ستړے مسافر د تمامې ورځې د تګ نه وروستو د يوې غونډۍ سيورې ته د لږې ساه اخستو په نيت ناست وي .په چاپېر چل يوه دردناکه خاموشي خوره وه .داسې خاموشي چې ما پکښې د خپل زړۀ درزا صفا اورېدله د صديقي صېب د قبر خازه رو رو زما نظر ته خړېدله .شايد چې زما د سترګو کاسې د اوښکو ډکېدلې .او بيا د دې نه وړاندې چې زما اوښکې زما د سترګو د کاسو نه بهر څڅېدل شروع شوې وې ، ما د يادونو يوه تتـه دريځه اوليدله .بې دريغه مې نظرونه په دريځه ننؤتل .يو بې ځانه اواز مې د خُلې نه اووتلو «دا خو صديقي صېب دے»او د صديقي په شونډو هغه زړۀ راښکونکې مسکا ، د سترګو په ککو کښې هغه اثرناکه ځلا او په انتګو هغه د جلال او جمال ګډ وډ خواره رنګونه ، په چال کښې يوه ځانګړې ادا او په وينا کښې هغه مستانه انداز چې د يو روښانه ذهن او فکر انګازه لرې ، د صديقي صېب د شخصيت هغه خواږه اړخونه وو چې د هغوئ سکې رنګ ته ئې د ښائست نوې معنې اغوستؤلې وې .او د رحمان بابا د دې شعر يو ژوندے تصوير ئې ترې ساز کړے وو چې:

سپينې د خدائے د دنيا ډېرې
سکنه يوه نيمه پېښېږي په ملکونو


پښتو ukhto.net

د يادونو جنج د لاسه نيولے يو بل اړخ ته بوتلم .چرته چې يو نوے منظر زما د نظر منتظر وو .ما اوليدل د صديقي صيب دېره ده .په برونډه کښې په قطار کرسۍ پرتې دی .په دې کرسو د شعر و ادب د اسمان پرقبېدونکی ستوری سره د خپلو پلوشو داسې ناست دی چې د هر يو نه چاپېره د نور يوه څلاتاؤ ده .زما نظر اګرچې اوبرېښېدو خو بيا هم ما اوپېژندل ..... دا خاطر اپريدے دے ، ورسره جُخت دا مرزا زخمي جګر دے ، دا بل ..... هو دا خو محمد جان لوهار دے ، دا بل مېلمه څوک دے ؟ .... دا خو سعد الله جان برق دے چې حليم سرحدی صيب ته په غوږ کښې پټ پټ څه وائي . خو دا ښائسته ږيرې والا دا روښان مخے ...... هو کنه دا خو فېضان صيب دے او دا نرے فولادی وجود لرونکے دا زلمے څوک دے ؟؟ دا ...... دا خو عبد اللطيف شاهين دے .مخامخ تولـه دېره د خلقو ډکه ده .د هر طرف نه اوازونه دی ( دا بيا اووايه ، دا بيا اووايه ) صديقي صيب د لاسو په اشاره اوړېدونکی غلی کړی او ګويا شی.

خلقــو زغلــوٌلے خــو چــې تـهٔ وے راســره
خبــر مــې تولــوٌلے خــو چــې تـهٔ وے راســره
وائي صديقي چې وږے تږے به زهٔ ناست ووم
شــعر مــې لــيکلے خــو چــې تـهٔ وے راســره

د واه واه يو شور پورته شی او منظر بدل شی .صديقي صيب په يو شان په کرسۍ ناست وی .چاپېره د خوا ؤ شا سيمو ډېر خلق په توجه


ukhto.net

سره د صديقي صيب پله ګوري .مخامخ په ديوال د باني ٔ رياست سوات ميانګل عبدالودود باچا صيب تصوير لګيدلے وي .هو ... دا د مشير اعلى سيف الملوک صديقي صيب سرکاري دفتر دے . دلته د دې زيرک انسان په مشره ٔ کښې د رياست سوات د فلاح او بقا صلاح مشورې کيږي .د دې سترګه ور انسان نظر لکه د باز تر ډيره لرې رسي .ځکه خو پرې د رياست د والي د حده زيات اعتبار دے .او د دهٔ هره خبره او فيصله د کاڼي کرښه ګڼي .يوې ډډې ته د سوات مؤرخ اصف خان قلم کاغذ په لاس ناست د صديقي صيب يو يو لفظ د سرو زرو په اوبو ليکي .په دې کښې والي صيب تشريف راوړي .ټول محفل نيغ اودريږي .والي صيب د صديقي صيب خوا له ورځي ، په دوستانه انداز کښې ئې لاس په اوګه ږدي او په خپل مخصوص انداز کښې وائي (ويل ډن مائي فرينډ آئي ايم فراؤډ آف يو) ......... زما په سترګو يو خمار راځي ، بې ځانه د يوې ګړي دپاره پټيږي او چې بيا پورته کيږي نو منظر بدل وي .ـــــ . دا د صديقي صيب کور دے .د کورېانو د ناستې پاستې نه شائستګي ځاځي .د لوخو لرګو يو خاص ترتيب دا څرګندوي چې دا خاندان د يو خاص ترتيب د مرحلو نه تيروتے دے .د دې قلعه نما کور د دنګو دنګو کانيزو ديوالونو مينځ کښې څومره ريښمي زړونه ژوند کوي . دلته مينه ده ، خلوص دے او حيا ده .صديقي صيب د منډۀ په جي. ولاړ لويو کوڼکو خپلو بچو ته داسې په مينه ناک نظر ګوري لکه چې يو ماليار د ډير کړاؤ او زيار نه پس د خپل سمسور باغ په ننداره وي



ukhto.net

ـ يو داسې باغ چې هر يو ګل ئې جدا جدا رنګ او خوند لري ـ دلته نفرت نشته ، ځکه چې دلته صديقي صيب صرف او صرف د محبت کر د صدق په اوبه خوړ کړے دے ـ او په کوم کور کښې چې د صدق ډيوه بله وی هلته د انسانيت دوستان يعنی صديقان زيږی ـ چې هر وګړے ئې بې ويرې بې ترهې دروازې له تلے شی ـ.........ــــ.........ـ دروازۀ ډبيږی ـ يو ماشوم بهر اوځی ــــ او بېرته دا پېغام راوړی ، چې بهر يو سړے تاسو ليدل غواړی ـ صديقي صيب د دواړو زامنو د اوګو نه لاس اوچتوی ـ په خوا کښې ولاړې لور په سر د مينې ډک لاس راکاږی او بهر اوځی ـ د راغلی سړی په سترګو کښې د اوښکو په ليدو ئې په مخ د غم لړې خوريږی د جيب نه خپل رومال را اُوباسی د هغه اوښکې وچوی ـ په خوا پورې ئې نيسی ـ او ورته وائی ... زۀ د اولس تولې اوښکې خپلې اوښکې ګڼم ، خفه کيږه مه ، ستا غم زما غم دے ، که الله ته منظوره وه نو ستا کشاله به حل شی ـ ډاډ تسلی ورله ورکوی ـ او د اوښکو ډکې سترګې خندنۍ خندنۍ رخصتوی ـ سړے ځان سره ګويان کيږی ، صديقي صيب تا له دې الله لوئے ژوند درکړی ـ که تا له څه اوشو نو توله سيمه به يتيمه شی ــــ ـ خو ژوند که زر کاله شی پرېکون له ئې مرګے شته ـ ځکه خو زما نظر دا زړۀ غوڅوونکے منظر هم اوليدو ـ يوه انګولاده ، شور دے ، چغې دی ، اوښکې دی ، سلګۍ دی او اسمان لړزوونکی اسوېلی دی ـ نن يو شفيق پلار ، يو مئين خاوند ، يو همدرد رور ، يو دردمند مشر ، يو زيرک منتظم او يو خوږ ژبی


pukhto.net

شاعر همېشه همېشه دپاره سترګې پټې کړې .د سوات ګلونه د غم نه سرتيتي دی .د ابشارونو سندرې په نوحو کښې بدلې شوې . د سوات د سيند نه خپل بهير او د مرغو نه الوت هېر شو .دنګې واورينې څوکې نخترو ته ورتر غاړه وتې .د بوډۍ تال اوشلېدو رنګونه سر د لاندې را اوغورځېدل او په فضا کښې ورک شول .هغه اوګوره .ـــ .د پښتونخوا ټول شاعران د اوښکو په ډکو سترګو حېران حېران يو بل ته ګوري ، نن د فن د اسمان يو بل ستورے د فضا په وريځو کښې مخ سر اونغښتل .نن د فکرونو د زانګو پړی اوشلېدل.نن د تخيل لمن تار تار شوه.او نن غزل يتيم شو.زما د ذ هن په ورشو يو لفظ لکه د تندر پرېوتو.سوچ مې شل شو او عقل مې اوتر .ـــ.چې په غوږ کښې مې رو غوندې دا اواز راغے ...... نا .. صديقي صېب مړ نه دے ، ژوندے دے .ـــ .د خپلو افکارو په صورت کښې ، د خپلو فکرونو په شکل کښې ، او د خپلو ځانګړو تراکيبو ، کنايو او استعارو په قالب کښې ...... ليکوال نه مري ، ژوندي وی ، د خپل ليک د هر يو توري په سينه کښې .ـــــ . زما د سترګو نه دوه اوښکې اوڅڅېدې.او زمکې داسې جذب کړې لکه چې د مودو تږې ورته ناسته وي.

په ډېر درناوی

مفتاح الدين خاکسار

ستر سيکتر کبل پښتو ادبي ترون

نېټه: ۲۰فروري ۲۰۱۱ء



ukhto.net

# زمونږ داجي

الحمد لله ! زۀ د الله تعالی ډیر شکر گزار یم چي ما له ئي دومره توفیق راکړو چي ما د خپل پلار سیف الملوک صدیقی (مرحوم) د شعرونو دا مجموعه په کتابی شکل کښي راوسته . اگرچي ډیر ناوخته شوے دے . پکار وه چي دا د نن نه ډیر وړاندي منظرِ عام ته راغلی وے . خو د خاصو حالاتو او مجبورو د وجي نه زما نه دا کوتاهي سرزد شوه . په دي زۀ ډیر معذرت خواه یم . دا زما د ژوند یو ارمان وو او دا ویره هم راسره وه چي اکثر ارمانونه نیمگړی پاتي کیږی .

زما خیال وو چي په کتاب د دیباچي دپاره د صدیقی صیب دوستانو (شاعرانو ، ادیبانو ) ته خواست اوکړم خو بیا مي دا خیال شو چي هسي نه چي د هغوئ د مصروفیت د وجي نه نور هم نا وخته شي . زۀ د عزیزم نقیب احمد جان د کاوشونو ډیره ډیره مننه کوم چي هغه زما ډیره مرسته اوکړه او ما له ئي دومره حوصله راکړه چي زۀ د دي فرض د ادا کولو جوگه شوم . او په دي وجه ما نقیب احمد جان ته د دیباچي د لیکلو دعوت ورکړو . زما دعا ده چي الله دي هغه له د دي اجر ورکړی او د هغه په ژوند او اخرت کښي دي برکتونه واچوی چي زما گران کار ئي اسان کړو .



ukhto.net

دا د صديقي صېب د شعرونو اخري مجموعه ده نو دا ضروري ګنم چې د لوستونکو دپاره د هغوئ په ژوند لږه رڼا اوغورځوم.

سېف الملوک صديقي صېب په نهمه فروري ۱۹۱۸ء کښې په (چنداخوره) کبل کلي کښې پېدا شوے وو .د دوئ د والد صېب نوم قاضي عزيز الرحمان وو چې هغه د مفتي قريب الرحمان زوے وو .د قاضي عزيز الرحمان څلور زامن وو .مشر ډاکټر تاج الملوک (تور لالا) صېب (مرحوم)دويم سېف الملوک صديقي صېب دريم ډاکټر زين العابدين صېب او څلورم زين الزاهدين (برکا) صېب . دوئ د پلار د شفقت د سيورې نه ډېر په وړوکوالي محرومه شوي وو او د خاندان نورو افرادو د دوئ په مستقبل کښې څه دلچسپي نه لرله ، خو د دوئ باهمته مور حوصله او نه بائيلله او د خپلو زامنو د تعليم او تربيت ئې په ډېرو سختو پختو بندوبست اوکړو .د دوئ د مور دې همت ته سلام کول لازمي ګنم .صديقي صېب د کلي دمدرسې نه وروستو مډل تعليم د ودوديه سکول سېدو شريف نه حاصل کړو .او بيا ئې مېټرک د ګورنمنټ هائي سکول چارسدې (هشنغر) نه پاس کړو۔حالاتو د مزيد تعليم اجازت ور نه کړو او د روزګار په سلسله کښې ئې د جناب والئ سوات صېب سره رابطه اوکړه .او د بانئ سوات ميانګل عبدالودود باچا صېب په مشوره صديقي صېب د والئ سوات په دفتر کښې هم کلرک اولګېدو .او د رياستِ سوات د انتظامي او عدالتي نظام د اولنئ ستنې په حېث



ukhto.net

ئې کار شروع کړو .د خپلو اعلی خدماتو په سبب هغه بیا تحصیلدار بیا حاکم بیا حاکم اعلی او په اخره کښې مشیر شو .د صدیقی صېب د میانګل جهانزېب والئ سوات سره ډېره مینه وه . او دغه وجه وه چې والئ سوات هغه یو اعتباری او معتمد ملګرے او نوکر ګڼلو .او د هغې ثبوت دا وو چې هر کله والئ سوات ته د ریاستی امورو اختیار حواله شو نو د هغې ورځې نه تر د ریاستِ سوات په پاکستان کښې د ادغام ۲۸جولائی۱۹۲۹، پورې صدیقی صېب د هغوئ خدمت او کړو.

صدیقی صېب د مال دولت او جائیدادونو هیڅ شوق نه لرلو او دا به ئې وئیل

که د قارون په شانتې مال صدیقی چا جمع کړو
ګټه به او کړی خو د دوه ګزه ململ د پاره

اګرچې د مال ګټلو او د جائیدادونو جوړولو موقعې د هغوئ سره ډېرې زیاتې وې خو هغوئ دې له څه اهمیت نه ورکولو او یو قناعت پسند انسان وو .هغه ډېر دینداره ، پابندِ صوم و صلواة او د یو دردمند او خواخوږی زړۀ خاؤند وو .هغه د عام اولس د خبر ښېګړې او تعلیم دپاره هلې ځلې کؤلې .او د خپلې کورنۍ په مالی اعانت او تعلیم و تربیت په صدق سره ولاړ وو . هغه د کورنۍ او د خاندان د ټولو افرادو د تعلیم ببره په سر اخستی وه .او هم دا وجه ده چې د دې خاندان اکثریت تعلیم یافته او په حکومت کښې په ښه ښه



ukhto.net

عهدو پاتې شوی دی .د عام اولس په شان د کورنۍ هم ډېر خلق د صدیقي صیب په دې ښېګړو منکر دی خو بهر حال دنیا ګواه ده.

د صدیقي صیب درې بیبیانې وې چې د هغوئ نه ئې اووه زامن او پنځه لونه وې.زامن اختر علی ، فضل ودود ، فضل وهاب (مرحوم) ، اختر حسین ، شمس الملوک (کابل) ، عطاء الله ، او طارق دی.

صدیقي صیب په کال ۱۹۷۷ء کښې د سعودی عرب په یوه تعمیراتی کمپنۍ کښې د ملازمت په اړه جدې ته لاړو .د هغه نیت او اراده د پېسې ګټل نه وو خو په سعودی عرب کښې زیات قیام او د حرمېنو شریفېنو او د ټولو مقدسو مقامونو زیارتونه د هغوئ ارمان وو .الله تعالی چې په ریاستی دور کښې څومره عزت ورکړے وو نو دا اخری ارمان ئې ورله هم پوره کړو او هغوئ په جده ، مکه مکرمه او مدینه منوره کښې څلور کاله تېر کړل .او په دې ټول وخت کښې ئې زیات وخت په خانه کعبه یا مسجدِ نبوی کښې اوویستو .په ۲۵ دسمبر ۱۹۸۰ء کښې زما مور صاحبه وفات شوه .او صدیقي په جنوری ۱۹۸۱ء کښې مستقل خپل کور ته واپس راغے .په کال ۱۹۹۰ء کښې بیمار شو او د پنځه کالو ناروغتیا نه پس په ۹ فروری ۱۹۹۵ء کښې وفات شو او هم دلته په کبل کښې خاورو ته اوسپارلے شو.(انا لله و انا الیه راجعون)

صدیقي صیب د خپل ملازمت د انتهائی مصروف ژوند باوجود په ادبی دنیا کښې هم خپلې جندې اوچتې کړی وې .د



pukhto.net

هغوئ په شعري مجموعو کښې اولنے کتاب (درد) په کال ۱۹۵۴ء کښې دویم (پرهرونه تکورونه) په کال ۱۹۲۴ء کښې دریم (انداغ) په ۱۹۲۵ء کښې او څلورم (پیڼیلي زړونه) په کال ۱۹۷۱ء کښې چاپ شوي وو. د دې نه علاوه هغوئ په اردو ژبه کښې یو کتاب د (تعمیرِ ملت) په نامه په ریاستِ سوات باندې هم لیکلے وو. او چاپ شوے وو. په پښتو نثر کښې ئې درې ډرامې (پیغور)، (ګټه بېلاد) او (زرابه) لیکلې وې او د جشنِ سوات په موقعه ئې ستېج کړې هم وې خو افسوس چې دا شائع شوي نه وې. په ریاستي دور کښې ئې ډېر اوچت مقام وو خو د هغې نه ئې څه نا جائزې فائدې نه وې اخستې او هم دا وجه ده چې نن په کلي اولس د صدیقي صېب اولاد ته خلق په ډېره مینه او درناوي ګوري.

په اخره کښې زۀ د خپلو رونړو هم ډېره مننه کوم چې د دې کتاب په اشاعت کښې ئې زما سره ډېره مرسته او مدد اوکړو. د صدیقي صېب په دې یو شعر به اکتفا اوکړم چې:

صرف یو ثبوت د خپلې وفا ما سره موجود دے
په خپله خپل ضمیر ته ګناهګار نه یمه زۀ

په درناوي
فضل ودود

۹ فروري ۲۰۱۱ء



پښتو ukhto.net

# نظمونه

## بیت الله شریف ته مخامخ

چې خان ته ګورمه نو ستا په رضا پوهه نۀ شوم
ته رضا نه شوې زۀ په خپله خطا پوهه نۀ شوم

پښې ابله سرتور په عاجزۍ کفن په سر یمه ولاړ
په اسویلو په سترګو سرو چې دې په در یم ولاړ
په منتونو په زارو په دعا پوهه نۀ شوم

ستا د رضا دپاره توري ګټمې ښکلوم
په تېل روان یمه په ډاګه نه چې ئې پټې ښکلوم
خدا مې هېره شوه بیا هم په ژړا پوهه نۀ شوم



ukhto.net

کلـه رو رو سـتا پـه تکـل کـبنـېي کلـه منـډې وهـم
کلـه بـې سـا شـمه دا تـولې پـه سـالنډې وهـم
سـتا ثنـا وايمـه لـېکن پـه ثنـا پوهـه نـه شـوم

نمر چې مخ پټ کړو ما لبېک ستا په دربار کبنې اووې
پـه څو کراتـه مـې د خـوږ زړګـي پرهـار کبنـې اووې
اخـر رښـا شـوم خـو د زړۀ پـه رښـا پوهـه نـۀ شـوم

پـه نېـک نظـر سـتا د کـرم خبـر د حالـه بـه شـي
کـه نـا اُمېـده شـم دشـمن راښانـد خوشحاله بـه شـي
سـتا بـه عطـا وی زۀ نـادان پـه عطـا پوهـه نـۀ شـوم

پـه صـديقي بانـدې کـه سـخته کـه راحتـه راځـي
کـه ګناهګـار دے دا پـرې وارۀ سـتا د پتـه راځـي
عمـر ئـې تېـر شـو پـه معنـا د وفـا پوهـه نـۀ شـوم

جمـال چـې دې کـوم وخـت مـې پـه نظـر اولګېـدو
يـو غشـے مـې رسـا د زړۀ پـه سـر اولګېـدو



ukhto.net

چې نُور دې په دنیا او ما فیها باندې ښکاره شو
رڼا شوه د تیارو نه پرې سحر اولګېدو

چې ځان ته ئې طلب کړې ټول ئې لر کړو حجابونه
په تا په شفقتونو پاک اکبر اولګېدو

راغلی دی نبیان دلته یو لک څلېریشت زره
خاتم وې نوم د ټولو دې په سر اولګېدو

لولاک و لولاک وما خلقت الافلاک
په جهر په کونېنو دا خبر اولګېدو

په ټولو جنتونو نعمتونو ئې اوکړو فخر
پېغام د خوشحالۍ چې په کوثر اولګېدو

ټول اودرېدلو واړه کائنات په احترام
چې زېرے په دنیا د پېغمبر اولګېدو

هر څو که ګناهګار یمه خو ستا کلمه ویمه
تندے مې بختور وو ستا په در اولګېدو

خسنې مې وو پروت د ګناهونو په غولو کښې
قسمت مې شو راپورته بختور اولګېدو

روضه اقدس سرور کونېن مدینه منوره

۲۴،۰۳،۱۹۷۲



ukhto.net

ستا د دربـاره کـه سـرداره بـې نـوا لاړ شـم
خپلـو پـردو لويـو وړو تـه بـه رسـوا لاړ شـم
ډېـر پـه لتـو لتـو راغلـې يـم د لـرې نـه زهٔ
خوښـه ده ستا چـې پـه ژړا کـه پـه خنـدا لاړ شـم
غمـاز بـه مـا تـه پېغورونـه ستـا د مينـې کـوي
لاړ راتـه ښـايه هسـې نـه چـې زهٔ خطـا لاړ شـم
چې هم عاشق او هم معشوق وی ترې قربا ن شمه زهٔ
لعنـت پـه مـا شـه چـې د دې بشـر جـدا لاړ شـم
چـې سـتا د قبضـه زمـا برخـه د کـرم ونـه شـی
بيـا بـه د خلقـو پـه نظـر کښـې بـې وفـا لاړ شـم
خـالی جـولۍ خـالی لاسـونه چـې دشـمن مـې وينـی
دے بـه خنـدا کـړی نـا اُمېـده چـې زهٔ سـتا لاړ شـم

صـديقي وئـی دومـره نظـر رابانـدې اوکـړه ضـرور
خپلـو بـر بنـډ کـړمـه چـې سـتا نـه پـه حيـا لاړ شـم

«د متواتر اووه عمرو نه پس د حرم شريف په خوا کښې»



ukhto.net

تا له راغلے ووم يواځې ربه
چې زۀ واپس شومه دنيا اوليدم

دوست راته ګوری او دشمن مې وينی
چې ستا په کور کښې لېونے ګرځم
راپورې خاندی چې غمژن مې وينی
خو ستا په مينه سپېلنے ګرځم
د زړۀ پرهر خو په زولن مې وينی
لکه د قېس چې صحرانے ګرځم
يم ګناهګار خو نه يم بې ادبه
تا له راغلے ووم يواځې ربه
نن ئې په در د کبريا اوليدم
چې زۀ واپس شومه دنيا اوليدم

خوک به وينا کوی چې خوار ګرځی
ما له د صبر خزانې راکړې
بعضې به وائې چې نادار ګرځی
هم خو دې ډکې پېمانې راکړې
پروا مې نشته که اغيار ګرځی
چې د وحدت دې نشانې راکړې



ukhto.net

ما په امان ستا ته د بو لهبه
تا له راغلے ووم يواځې ربه
ستا ئې په حمد په ثنا اوليدم
چې زۀ واپس شومه دنيا اوليدم

ستا په ما حق دے چې بنده يمه ستا
ما له دې هم ژبه او ژبان راکړی
زۀ که صفا يم که ګنده ، يمه ستا
عزت ذلت دې په هر شان راکړی
کله چې مړ شم ، که زنده يمه ستا
د برې وعدې دې په قرآن راکړی
نه راځی دلته کښې څوک بې طلبه
تا له راغلے ووم يواځې ربه
مګر غليم خو بې نوا اوليدم
چې زۀ واپس شومه دنيا اوليدم

چې ستا د رحم سمندر مې اوليد
په خپل ګناه پورې خندا راغله
فيض بې حسابه ستا د در مې اوليد
په خپل نصيب پورې ژړا راغله



ukhto.net

په لوړه تنده کښې سرور مې اولید
زما په سترګو کښې حیا راغله
ویره مې اوشوه د قهر و غضبه
تا له راغلے ووم یواځې ربه
زۀ ئې په لبېک او مرحبا اولیدم
چې زۀ واپس شومه دنیا اولیدم

سود بې سودي ورته ظاهر ښکاري
صدیقي سترګې په کوم لور چې غړي
رب په هر څۀ ورته قادر ښکاري
په سخته نۀ دے خو تقدیر ئې ژړي
رحم و کرم ورته وافر ښکاري
په مُتازو به چرته نه خوری نمرِه
د خوند ئې لرې کړو هر جام د لبه
تا له راغلے ووم یواځې ربه
په څۀ حالت ئې نن سبا اولیدم
چې زۀ واپس شومه دنیا اولیدم

# پېغام

تـــا چـــې د ســـپوږمۍ پـــه مـــخ پېغـــام را ولېــــږو
دا دې ښــــکلې مـــــا تــــه پــــه مابنــــام راولېــــږو

اووئيـــــل ســـــپوږمۍ چـــــې زۀ راتلمـــــه يـــــار دې دا وې
يوســـه مـــې ديـــدن دا ئـــې پـــه نـــاز او پـــه خنـــدا وې
وروســــتو ئـــــې د اوښــــکو ډک ســــلام راولېــــږو

دا ئـــې وې چـــې ډېـــره نـــا قـــراره پـــه الفـــت کښـــې وه
ويښـــه کـــه اودۀ وه ســـتا پـــه مينـــه محبـــت کښـــې وه
تـــــا لـــــه ئـــــې ژونـــــدون واړه انعـــــام راولېـــــږو

مـــا وئيـــل چـــې مـــا تـــه مخـــامخ ده پـــه نظـــر کښـــې
ســـتا نـــه ډېـــره لـــرې ده زمـــا د زړۀ پـــه ســـر کښـــې
دا خـــــو د دنيـــــا ئـــــې رســـــمِ عـــــام راولېـــــږو

اووئيــــل ســــپوږمۍ چــــې صــــديقي زۀ دې حېرانــــه کــــړم
بيـــا بـــه ســـبا راشـــم دا خبـــر بـــه د جانانـــه کـــړم
تـــــا لـــــه ئـــــې د تـــــورو زلفـــــو دام راولېـــــږو



ukhto.net

# لولی

راشئ هر سړے چې دا محفل په ګډېدو کړمه
ما درلـه راوړی د مستئ يـوه سـندره ده
ګورمه چې بعضې راتـه ګوری شونډې بوسے کوی
لږ خـو دې د رب دپـاره خپل ګرېـوان تـه اوګـوری
بعضې د يو بل سره په غوږ کښې پُس پوسے کوی
سترګې چې رڼا کړی بيا دې سود او زيان ته اوګوری
داغ کـه ئې رېمـن وی زۀ بـه ئې نور په ځلېدو کړمه
راشئ هر سړے چې دا محفل په ګډېدو کړمه
زهـر کـه ګبين دے سپينه دا زمـا خبـره ده
ما درلـه راوړی د مستئ يـوه سـندره ده

ډکه د خنـدا زمـا کـوګئ ده کـه کتلـې شې
زۀ په شړنګا شړنګ کښې د ګنګرو چې ګډېده کوّم
زړۀ دې راته تينګ کړه که درينجقې مې زغملې شې
زۀ پـه کـړو وروخـو نـرو شـونډو موسـېده کـوّم
زۀ بـه ئې لکـه شمع د خپـل ځان پـه سوزېدو کړمه
راشئ هر سړے چې دا محفل په ګډېدو کړمه
دا زمـا ګـډا او کـه خنـدا ده خـو کنجـره ده



pukhto.net

ما درله راوړې د مستۍ یوه سندره ده

کله په غوږیمنې کله به ځان له په ټپلو شئ
کله به د جوشه لاس پړقولو کښې نعرې کړئ
کله به بې هوشه وارخطا په اسوېلو شئ
کله به زړګے کله ګرېوان پرې پرې کړئ
بس به کړمه زۀ چې یو د ځان په ورکېدو کړمه
راشئ هر سړے چې دا محفل په ګډېدو کړمه
باز ته مې د سترګو هر سړے لکه کونتره ده
ما درله راوړې د مستۍ یوه سندره ده

زۀ که بې وفا یمه نو ستاسو وفا کوم ده
نه راځي په لاس نه شم ورتلے د بل په لاس کښې
زۀ که بې حیا یمه دنیا کښې حیا کوم ده
نه ورکوم د مینې امانت د غم په لاس کښې
ما غوږلئ نو ځکه به دا ټول په غوږلېدو کړمه
راشئ هر سړے چې دا محفل په ګډېدو کړمه
ځان مې بازیګره کړو دنیل چې بازیګره ده
ما درله راوړې د مستۍ یوه سندره ده



pukhto.net

# دیدن

یار چې د یاره سره کوم ساعت شي غاړه غتې
حورې غلمان پاس د اسمان په ګډېدو ولګي

زړونه یو بل ته مخامخ شي په درزا ولګي
فکرونه ویښ سودونه ویښ شي ارمانونه ویښ شي
سترګې لمدې شونډې شي وچې په خندا ولګي
دردونه ویښ غمونه ویښ شي فریادونه ویښ شي
په غلچکو سترګو د یو بل نه په غلا ولګي



ukhto.net

زغمونه وینې آهونه وینې شي حسرتونه وینې شي
زړه ئې د وصل د پردو همه خوندونه لټې ځ
یار چې د یاره سره کوم ساعت شي غاړه غټې
رقیب غماز ولاړ مُتاز په رېبدو ولګي
حورې غلمان پاس د اسمان په ګډېدو ولګي

کله په جنګ کله پُخلا کله خاموشه کښېني
کله یو بل ته په رموز رموز خبرې کوي
کله د وصل په شرابو کښې بې هوشه کښېني
کله ترخې کله خوږې خوږې شکرې کوي
کله دنیا و ما فیها نه فراموشه کښېني
کله پېغور کله ژړا کله سندرې کوي
کله سلګۍ د ډېرې مینې چې یو بل پرې رټې ځ
یار چې د یاره سره کوم ساعت شي غاړه غټې
دغه نخرو ته ئې قدرت په موسېدو ولګي
حورې غلمان پاس د اسمان په ګډېدو ولګي

د ورځې شپه د شپې نه ورځ شي خو خبر پرې نه وي
د دېدن وږی تږی چرته مړېدلي نهٔ شي
د چا د زوږ او د غوغا نه هیڅ اثر پرې نه وي



ukhto.net

هجـر زپلـی د یــو بــل نــه تربــدلې نــۀ شــی
خوښ ئې خلوت وی چې د بل سړی ګزر پرې نۀ وی
روحونـه ئـې یـو وی د یـو بـل جـدا کېـدلې نـۀ شـی
هغــه تګــان وی چــې رازونــه د یــو بــل نــه پټــېږ
یـار چـې د یـاره سـره کـوم سـاعت شـی غـاړه غټـېږ
پـه درغلـی کښـې محبـت پـه کمېـدو ولګـی
حـورې غلمـان پـاس د اسـمان پـه ګډېـدو ولګـی

عبـث اُمېـد دے چـې بـه مـا لـه عزتونـه راکـېږ
پټ او ښـکاره چـې پـه عمـل کښـې شـرافت نـه لـری
د سـختې تښـتې مـا لـه څنـګ بـه راحتونـه راکـېږ
نینـې د اوسـپنو چیچـل وی چـې طاقـت نـه لـری
هغــه بــه څــۀ د محبــت مــا لــه ډاډنــه راکــېږ
خـوی او خصـلت کښـې د کـرم چـې شـراکت نـه لـری
مینـه نـیلاوم بـه پـه بـازار شـی چـې ببلـېږ کـه ګټـېږ
یـار چـې د یـاره سـره کـوم سـاعت شـی غـاړه غټـېږ
د زړۀ قطـرې د صــدیقی پـــه تلبــدو ولګـــی
حـورې غلمـان پـاس د اسـمان پـه ګډېـدو ولګـی



ukhto.net

# هر کله

هر کله اشنا که مې د مرګ اواز په تا وشي
دومره درته ویم چرته په ما پسې ونهٔ ژاړې

مړ چې شمه خاورې شمه ستا نه چې فنا شمه
ستا د ګلو څانګې ته به زهٔ لکه د سرې شم
غږ به زما نه وی خو د لیک نه به وینا شمه
ستا په تصور کښې به خوږې لکه سندرې شم
یم که بې وفا لویو وړو ته به وفا شمه
زړونو ته نزدې که په نظر کښې درنه لرې شم
اوس که یم بې قدره وروستو قدر به زما وشي
هر کله اشنا که مې د مرګ اواز په تا وشي
زهٔ یم بې نوا په بې نوا پسې ونهٔ ژاړې
دومره درته ویم چرته په ما پسې ونهٔ ژاړې

ما سره فاقې دی ارمانونه دی غمونه دی
بل ځائے خوشحالي او ډک جامونه د شراب دی



ukhto.net

ما سره آهونه دی فکرونه حسرتونه دی
بل ځائے کښې نغمې دی اوازونه د رباب دی
ما سره لوېده دی پاڅېده او تندکونه دی
بل ځائے کښې ارام عېش و عشرت په هر يو باب دی
تا ته که زما د پاره هر چرته وينا وشی
هر کله اشنا که مې د مرګ اواز په تا وشی
زۀ يمه رسوا چې په رسوا پسې و نه ژاړې
دومره درته وېم چرته په ما پسې ونه ژاړې

ورکه دا جواب صديقي ښۀ وو که ناکاره وو
ده وې هنرمند د خپل هنره زۀ مجبوره يم
داسې معلومېږی د ازله چې بې ياره وو
دۀ نه به سل چنده ډېرو خلقو ته منظوره يم
دے خزان وهلے يو چمن چې بې بهاره دے
د ۀ سره استوګنه شرمېدلم ډک د نوره يم
ما نه کړه انکار چې خر رقيب ته دې بها وشی
هر کله اشنا که مې د مرګ اواز په تا وشی
زۀ يم بې بها په بې بها پسې و نه ژاړې
دومره درته وېم چرته په ما پسې ونه ژاړې


ukhto.net

راشه ستړې مینې چې قلاره شو دمه شو
راشه خوږې مینې ربابونو کښې نغمه شو

راشه چې په ساز کښې د شپېلۍ د اواز پورته شو
لاړ په تندکونو کښې د یار د کوڅې لورته شو
خود به تپوس اوکړی خو چې هلته مېلمانه شو

غم او د فکرونو بار به ټول د سر د لاندې کړو
تاج د خوشحالۍ به د مستۍ په تندی باندې کړو
شپه به ټوله روڼ سبا اوده به په غرمه شو

سېل ته د چمن په مازیګر به روانیږو
هلته به جوړه لکه کونترې مشغولیږو
ګل به د غوټۍ نه شو اخر کښې به وږمه شو

ټول خوارۀ راغونډ که صدیقي ته د ژوندون شي
بې له تا نه یاره هر ساعت په مېږتون شي
شکر پرې کوه د غېر غماز به په سېلمه شو



ukhto.net

## د پاکستان نېشنل سنټر منګوره اسسټنټ ريذيډنټ ډائريکټر عنايت الله خان د صدارتي دعوت شکريه .

نېټه: **۲۵** فروري ۱۹۸۲

تل دې بلنې ته عزت او محبت وايمه
په يو څو ټکو شکريه د عنايت وايمه
ما ته زما ياران درانه دي ان تر مرګه پورې
نا مناسب دي که د چا نه شکايت وايمه
د هر يو لوښي را وځي څۀ چې پراته وي پکښې
په درنو دروند په سپکو سپک دا حقيقت وايمه
پرون اشنا او نن ناشنا باچا نه لرې ګرځه
مرور نه شې دا خبرې د عبرت وايمه
د ملک او قوم چې په کار راشي هم هغه ژوندون دے
دغه ژوندون ته پس د مرګه به عظمت وايمه
چې لاس ئې رسي او ازار ترې د مخلوق و نۀ شي
دا رنګې عمر ته د پاک الله رحمت وايمه
هر يو عمل دے صديقي د اخرت دپاره
فاني ژوندون ته زۀ ازمېښت د اخرت وايمه



ukhto.net

# سېلانۍ

نشـــته وفـــا نشـــته مـــروره د هـــر چـــا نـــه يـــم
بيـــا بـــه چرتـــه راشـــې ګلـــه نـــن پـــه ســـېل روانـــه يـــم

څوک مې د سرو شونډو څوک په طمع د زلفانو دي
څوک د تورو سترګو څوک رنځور مې د مژګانو دي
څوک مې د چارګل څوک د ټټکۍ په زړۀ پرهر شولو
څـــوک شـــو لېـــونی پـــه چـــا کـــانې د ملنګـــانو دي
تـوقې راتـه ښکاری څکـه شـنه پـرې د خنـدا نـه يـم
بيـــا بـــه چرتـــه راشـــې ګلـــه نـــن پـــه ســـېل روانـــه يـــم

هـر ځـائې تـه چې څم د وصـال وړې راتـه ناسـت دي
وچـې شـونډې ډېـر د ديـدن تـږې راتـه ناسـت دي



ukhto.net

شرم پکښې نشته که ئې ورتېم نو خبر دے
ځان ته وائی ځوانان او سترګې مړې راته ناست دی
زۀ یم حیاناکه ځکه غلی د حیا نه یم
بیا به چرته راشې ګله نن په سېل روانه یم

ډېره یم حېرانه چې نظر مې په ګلزار شی
پا خو چې فکرونه په کړاؤ مې د مالیار شی
جوړې ترې غنچې شی یا هارونه رنګ په رنګ
ګوره بله ورځې خو چې مړاوی شی ګزار شی
دې سلوک ته ګورم مړه خوا پرې د دنیا نه یم
بیا به چرته راشې ګله نن په سېل روانه یم

ګرځه سر وهه د زمانې په حال خبر نۀ ئې
ځان ته وے هوښیار مګر اګاه د زهر او زوَر نۀ ئې
چا چې لوظ تینګ کړو بیا د وخت څپېړې اووهو
پوهه ته هرګز د جادوګرو په منتر نۀ ئې
واوره صدیقی که د هر چا یمه خوستا نۀ یم
بیا به چرته راشې ګله نن په سېل روانه یم



ukhto.net

د ژوند اخري ملګرې ته ......... د خط ځواب

از : حليفه ، مدينه منوره ..... ۲۵.۱۲.۱۹۷۵

اے زما د زړګی سره چې را ورسېدو ستا خط
ما د زړۀ په سترګو اوکوت ډېر په مينه په صحرا خط

په جُمات کښې مې لوُستلو د مخلوق نه جدا ناست ووم
ما پرې سود ستا د ديدن کړو هر تکے د ژړا خط
زما ښکلې خفه نه شې وصال تل وی په هجران کښې
دے زما او ستا د مينې په تقدير کښې د مولاخط
زړۀ چې سترګې کړمه پټې سر تا پايه مخامخ شې
داسې تۀ مې زړۀ کښې کېږده چې دراورسی زما خط



ukhto.net

که طارق دے که شمو ده که کابل دے که امو ده
زما ستا د زړۀ قطرې دی هم د سېتې عطاء الله خط
نور اولاد که سم په مینه تا ته نه ګوری نو خبر دے
تۀ شفقت لکه د مور کا ستا نصیب به شی رسا خط
ستا د مینې دا اثر دے چې په دې عمر کښې کار کوم
ځوانان پاتې شو په کور کښې زۀ لیکمه د بېدیا خط
ستا د مینې برکت دے بېت الله شریف مې اولید
په هر وخت به درلېږمه ډېر د مینې د دعا خط
که ګرمی وی که یخنی وی یا که لوږه وی که تنده
هیڅ اثر رابانډې نۀ وی چې یادومه دې زیبا خط
دا د اوسپنو نینې به کړم په ګاپو ګاپو ختم
د رب فضل ستا دعا به اخر سر کړی د تنها خط
چې دنیا رانه مخ واړۀ تا په غېږه کښې راټینګ کړم
دا غېرت دې مبارک شه په دنیا او په عقبا خط
پښتنه ئې ځان ته ګوره چرته وار دې خطا نه شی
زۀ به دلته وارخطا شم که دې راغے وارخطا خط

ته په دین دنیا ښائسته ئې زۀ اوس حج له روانېږم
چې په خبر باندې واپس شم نور به اولیکمه بیا خط


pukhto.net

# پت زما

اې د زړګي سره تا سره دې محبت زما
سختې تېرۀ مه چې معلوم شي حقيقت زما

ناست يم په صحرا کښې يخنى ده ئې د مانکيال په شان
نمر چې شي ښکاره بدن خؤلې د پشکال په شان
ما ورته نيؤلې زړۀ سندان او هم د ډال په شان
خائې مې د استوګنې ده پنجره او يا د جال په شان
تا ته دې پېغور چرته او نۀ شي په همت زما

ځکه که د سحر ورته چائې وائي هغه چائې څۀ دې
تور وي بې د پيو چې په خوا کښې ئې ګړوبې څۀ دې
وي سره ډوډۍ لکه څرمن غوندې يو شې څۀ دې
هر خوراک باسي وي خلق وائي چې پخلې څۀ دې
تل شکر او باسم فرق نه راځي په نيت زما


ukhto.net

خلق د دې زمکې په دنيا کښې حاسدان دي ډېر
خلق د دې زمکې د رسوله نافرمان دي ډېر
خلق ئې بې ژبې او بې لوظه بې ايمان دي ډېر
ځکه پاک الله دلته لېږلي رسولان دي ډېر
بيا هم خو زياتيږي لا په دې خاوره اُلفت زما

نه څۀ دا کمپني څۀ طريقه او انتظام لري
نه د يو شريف او کار کوُنکي احترام لري
نه څۀ بندوبست د چائے ډوډۍ سحر ماښام لري
مونږ يو بې وطنه خيال لري خو د خپل قام لري
ستاسو که دعا وي نور به هم ښۀ شي عادت زما

ښکلې چرته ستا نه چې طارق شمو خفه نۀ شي
بل عطاءالله سره کابل امو خفه نۀ شي
فکر په اختر کوه رحمت ، بدو خفه نۀ شي
مينه دې خوٚيندې واړه د سپدو ببو خفه نۀ شي
خېر د خدايه غواړه صبر اوکړه په فرقت زما

نه وايم چې مه ژاړه په صبر صبر ژاړه ته
بل مې خېريت د پاک الله د در نه غواړه ته



ukhto.net

تل په دعاګانو کړه باغونه راته شاړه ته
شکر د الله کړه چې لانهٔ ئې په ويجاړه ته
ته چې په حيا ئې دا حيا ده مسرت زما

مه کوه خفګان زهٔ په وجود کښې زړهٔ محکم لرم
تاؤ د خپل ځيګره ستا د زلفو پېچ و خم لرم
خبر دے وخت په وخت په خپلو سترګو کښې که نم لرم
دا مې خوشحالي ده ويښ اوده خو چې ستا غم لرم
ستا مينې مجرم کړم ښهٔ شو دا زېب و زينت زما

وصل چې پېدا شو نو هجران ورسره مل شو
هلته کښې ازغے وی په کوم بوټی کښې چې ګل شو
ځکه خو د مينې برکت پرې يو په سل شو
څوک چې زمانې ته سلامی شو نو خجل شو
فخر دے شکرونه ستا د مينې په تهمت زما

څوک که مې وو روڼه که زامن وو هغه چرته دی
څوک چې مې په غم باندې غمژن وو هغه چرته دی
څوک که مې ياران وو که خوږمن وو هغه چرته دی
څوک چې مې قائله په هر فن وو هغه چرته دی



ukhto.net

واړه به قائل شي امتحان کښې دے عزت زما

ناست زما په در وو مائې در له لته ورکړله
مائې هر ماښام او هر سحر له لته ورکړله
ما د ابن الوقتو ښځې نر له لته ورکړله
مائې په غېرت باندې هر سر له لته ورکړله
لاس چې رور عزیز ته پورته نۀ شي د حاجت زما

مونږه که جدا یو نو تر څو پورې جدا به یو
مونږه خو اخر یو ځائے په فضل د مولا به یو
رحم به الله کړی اخر خلاص د واویلا به یو
دا ژړا به تېره شي یو ځلې په خندا به یو
مل به ښکلي ته ئې په دنیا او اخرت زما

تۀ د صدیقي ئې صدیقي به ستا مدام وی
ژوند که وی باقي نو ستا سره به هم کلام وی
ناست به دې په خوا کښې هر سحر او هر ماښام وی
زړۀ او که ځیګر وی هر څۀ تا ته به انعام وی
تا د خپله وسه قدر کړے دے د پت زما



ukhto.net

# مه وایه

مه وایه مه ژاړه چې وصال دې ما له راکړه
ما به پکښې وینې د زړۀ سترګې دې بینا کړه



pukhto.net

ما تـه غرېـدلو هـم پـه پټـو سـترګو ښـکارې
سوزې پـه هجـران کښـې هـم پـه مثـل د انګـار ئـې
زۀ شـومه مجنـون نـو تـه خویونـه د لـیلا کـړه

سـخته پسـې عمـر لـه راحتـه را روانـه وی
هر څائے کښې بې ننګه په ازمېښت باندې ستومانه وی
دا یـو امتحـان دے پـرې شـکرونه د مـولا کـړه

ګورو چې پردی او خپل په داسې حال کښې څۀ کوی
ګُف د څَلې نه اونۀ کړې دوئ بد کوی کـه ښـۀ کوی
تـا مـې تـل منلـی دی دا هـم زمـا رضـا کـړه

دا دهجـر ورځـې چـې پـه تـا بانـدې اوږدې شـولې
څـومره چـې یـم لـرې دومـره زړۀ تـه مـې نـزدې شـولې
زۀ بـې وفـا نـه یمـه تـه هـم خپلـه وفـا کـړه

غـواړی صـدیقی د تسـلی خبـرې سـتا نـه
هـم د سـود او مینـې څـو خـوږې شـکرې سـتا نـه
دے درتـه دعـا کـوی تـه هـم ورتـه دعـا کـړه



ukhto.net

# د ترۀ د خط ځواب

ډېرې نېکـې دی د عـالي جناب بـه ځنـګ ولـيکم
تـرۀ سـتا د مينـې د دې خـط ځـواب بـه ځنګ ولـيکم

د هـر يـو ټکـې مـې قيمـت پـه ملغلـرو اوکـړو
سـتا شـکايت چې مې راجو تـه پـه سـندرو اوکـړو
يمـه حيـران چې د فرقـت عـذاب بـه ځنـګ ولـيکم

وعـده يـوه چـې پـه ريښـتينې د پرهـاره وُځـي
سـلونه ځـۀ کـړې پـه زرګونـو کښـې د شـماره وُځـي
خـو سـتا د مينـې محبـت حسـاب بـه ځنـګ ولـيکم

ښۀ شؤله ډېره چې خپل دوست دے که دشمن مې اوليد
ځوک ډېر خوشحاله ځوک په ځان پسې غمژن مې اوليد
شؤله معلومـه بيـا پـه دغـه بـاب بـه ځنـګ ولـيکم

مجنون صحرا فرهاد په غر کښې ختم کړے نۀ دے
چـا پـه ماښـام چـا پـه سـحر کښـې خـتم کـړے نـۀ دے
صـديقي وائـې د راجـو کتـاب بـه ځنـګ ولـيکم



ukhto.net

# مزه کا

کلـه خـوږې خـوږې خبـرې د جانـان مـزه کـا
کله هجران مزه کا
کلـه ګلونـه رنـګ پـه رنـګ کلـه خـزان مـزه کـا
کله هجران مزه کا

کلـه د سـرو شـونډو شـربت بـه دم پـه دم درکـوی
کله به غم درکوی
کلـه ډالـۍ د خپلـې مينـې پـه قسـم درکـوی
کله ماتم درکوی
کلـه پـه عقـل کښـې هوښـيار لکـه لقمـان مـزه کـا
کله نادان مزه کا



ukhto.net

کلــه د فکــر پــه تــال ځــانګی بــې مجالــه شــی څــوک
کله خوشحاله شی څوک
کلــه د زړۀ پــه ســترګو ګــوری باکمالــه شــی څــوک
کله پرکاله شی څوک
کلــه د ســترګو نــه د اوښــکو ئــې بــاران مــزه کــا
کله ګریان مزه کا

کلــه یــو بــل تــه وی پراتــه پــه تخــت ســریر نــه وینــی
کله تقدیر نه وینی
کلــه د وصــل پــه ځــانګو کښــې وی شــوګیر نــه وینــی
کله زنځیر نه وینی
کلــه د عشــق پــه ســمندر کښــې خرامــان مــزه کــا
کله طوفان مزه کا

کلــه وینــا د صــدیقی بانــدې خنــدا کــوی څــوک
کله ژړا کوی څوک
کلــه د ګــل او د جعفــر غونــدې دغــا کــوی څــوک
کله وفا کوی څوک
کلــه پــه دې پســې د خــوږ زړګــی ارمــان مــزه کــا
کله بهتان مزه کا


ukhto.net

# تضمین بر خوشحال خان ختک

## (په ښکاره نعرې وهم چې څُله ئې راکړه)

په نخرو چې خوا لـه راغلـه رقیب شا کړه
پـه ښـکاره نعـرې وهـم چـې څُلـه ئـې راکـړه



ukhto.net

چې د مینې په دریاب کښې سړے ډوب شي
بې خطره په تلاش کښې د محبوب شي
که ناسور شي که طاعون شي که مجذوب شي
د خپل رب په دې رضا لکه ایوب شي
ائینه ئې د ګوګل د زنګ صفا کړه
په ښکاره نعرې وهم چې خُله ئې راکړه

په تکل کښې مې احساس پاره پاره کړو
هر خواهش مې د زړګي نه کناره کړو
خپل هوس مې د بدن په تراره کړو
یو جانان مې د ټول عمر سهاره کړو
ما په دې هم ابتدا هم انتها کړه
په ښکاره نعرې وهم چې خُله ئې راکړه

هیڅ مې نهٔ وو په دنیا کښې چې یار نهٔ وو
کور مې نهٔ وو کلے نهٔ وو بازار نهٔ وو
ووم یواځې دوست مې نهٔ وو اغیار نهٔ وو
په نظر کښې مې ګل نهٔ وو ګلزار نهٔ وو
نهٔ د سوز مې څهٔ لیکل نهٔ مې وینا کړه



pukhto.net

پـه ښـکاره نعـرې وهـم چـې خُلـه ئـې راکـړه

چـې کـوم وختـې مـې ورک شـوے دلبـر بیامونـد
مـا د سـترګو پـه ککـو کښـې نظـر بیامونـد
تـګ مـې ځکـه د منـزل پـه سـفر بیامونـد
هـم د هجـر ترګمـو مـې سـحر بیامونـد
مینـه ډاګـې تـه دنیـا مـې تـرې فنـا کـړه
پـه ښـکاره نعـرې وهـم چـې خُلـه ئـې راکـړه

څـوک کوشش کـړی مشـهور چې پـه جهـان شـی
څـوک وسـم او خضـاب پـورې کـړی چې ځـوان شـی
څـوک د رب غضـب تـه ګـوری پـه لـړزان شـی
څـوک مرتـد څـوک منـافق څـوک بې ایمـان شـی
چـا پـه امـر چـا پـه نهـی بانـد سـودا کـړه
پـه ښـکاره نعـرې وهـم چـې خُلـه ئـې راکـړه

د غـم ډکـې دنیـاګۍ کښـې لتـون څـهٔ دے
د یـو خـس پـه لـوئے دریـاب کښـې ګـډون څـهٔ دے
نـه پـوهېږې چـې خوشـحال او زبـون څـهٔ دے
ځـان خبـر کـړه چـې وصـال او بېلتـون څـهٔ دے



pukhto.net

د عمـــل ســـره خـــان پوهـــه پـــه معنـــی کـــړه
پـــه ښـــکاره نعـــرې وهـــم چـــې خُلـــه ئـــې راکـــړه

مـــا د وخـــت پـــه غولېـــدو اعتمـــاد اوکـــړو
مـــا د ډم پـــه ګډېـــدو اعتمـــاد اوکـــړو
مـــا د نـــاز پـــه پټېـــدو اعتمـــاد اوکـــړو
مـــا د یـــار پـــه موســـېدو اعتمـــاد اوکـــړو
هـــر اشـــنا مـــې بـــل تـــه (او) او مـــا تـــه (نـــا) کـــړه
پـــه ښـــکاره نعـــرې وهـــم چـــې خُلـــه ئـــې راکـــړه

یـــار دې مـــوړ شـــی صـــدیقی وائـــی وږے نـــۀ یـــم
پـــه زمـــزم مـــې خـــان مـــوړ کـــړے تـــږے نـــۀ یـــم
یـــو چمـــن یـــم یـــو ګلـــزار یـــم غـــوټۍ نـــۀ یـــم
ښـــۀ سُـــتهرا یمـــه صـــفا یـــم بـــرګے نـــۀ یـــم
د خوشـــحال پـــه شـــان پـــه ډاګـــه مـــې وینـــا کـــړه
پـــه ښـــکاره نعـــرې وهـــم چـــې خُلـــه ئـــې راکـــړه


ukhto.net

# ثلور شعرونه

تصویر مې پټ کېږده په زړۀ کښې چې څوک پټ ئې نه کړي
د غـــل غـــدو پـــه خـــوا و شـــا کښـــې څـۀ حســـاب نشـــته

د تهمتونـــو کـــه پـــه تـــا بانـــدې بـــاران وريـــږي
ښـکلی يقـين سـاته څـۀ شـک مـې سـتا پـه بـاب نشـته

اختـــر کـــه لـــوئے دے کـــه وړوکے دے د خـــان اختـــر دے
ګـــل و ګلـــزار دې شـــي زمـــونږ پکښـــې ګـــلاب نشـــته

د ســـپېڅ کابـــل او د طـــارق ســـره ژوندون تېـــروه
زمـــونږ ګيلـــه څـــۀ د ودود ، فضـــل وهـــاب نشـــته



Pukhto.net

# سپوږمۍ ته

تا ته چې سپوږمۍ ګورم نو ښکلې راته ښکارې
اووایه چې داسې ولې راته ښکارې

ستا په مخ دې تاپې دیار صفا دے
هره شپه چې ګورمه ستا قد جُدا جُدا دے
ته خو د جانان په رنګ مړلې راته ښکارې



ukhto.net

زۀ چې درته ګورمه نو ما ته هو نظر کړه
ما ته تېولې نخښې مخامخ مې د دلبر کړه
تۀ مې د جانان په لورې تلې راته ښکارې

ستا نه کځو هم ورک شوے يار زما په شان دے
ځکه ناقلاره ئې سفر دې په اسمان دے
ما نه لرې زياته سروهلې راته ښکارې

اورسې چې هلته نو سلام مې ورته وايه
صبر د اُميد او سود پېغام مې ورته وايه
تۀ په هغه در کښې رسېدلې راته ښکارې

تا باندې اثر د صديقي د مينې نشته
ځکه چې په تا کښې څۀ خواږه د مينې نشته
زۀ يم ژړغونے ته خندلې راته ښکارې



ukhto.net

نمرې د غم نه ډکه وار په وار تېروم
دا شپې ورځې جانانه زۀ په شمار تېروم

دنیا د خلقو مینه ده زما وینا خو ته ئې
پېښو ته حیا وائی او زما حیا خو ته ئې
فرقت دې د وصال په انتظار تېروم



ukhto.net

هر ځائے کښې مسافر ته څوک کړې وائي څوک لوارې
څوک توقې کوي خاندي څوک کوي پورې پشارې
دا ژوند په بې وسۍ او که په چار تېرؤم

خو فضل د الله او ستا دعا ده سخته نشته
د پاکې زمکې خاوره کښې ګیله د بخته نشته
په خوا کښې د تربورئې سزاوار تېرؤم

دا وخت دے خپل پردي واړه په ګاس وهلی بښهٔ دي
چې څوک مطلب پرست وي په نخاس وهلی بښهٔ دي
معلوم چې شي نو خبر که خندې و خار تېرؤم

زهٔ مړ نهٔ یم ژوند ے یمه که ستا دپاره مړ شم
توفیق دې الله راکړي د خدمت چې پر ته وړ شم
جنت کښې په میشته یم که انګار تېرؤم

ژوندون د صدیقي څوړې عجب د تماشو دے
د غم په مشغولا کښې ستا د مینې په نشو دے
د رحم په اُمېد ئې د غفار تېرؤم



pukhto.net

# يو زړۀ دے يو دې غم دے

يـو زړۀ دے يـو دې غـم دے چـې دواړه مشـغوليږى
دا غـم زمـا نـه بنـۀ دے چـې سـتا سـره لـوبېږى

سـحر نـه د مابنـامه كارونـه دى كارونـه
كـوم وختـې چـې اوزګـار شـم نـو را دې شـى فكرونـه
سـتا زلفـې ورتـه تـال شـى سـختـى مـې پـرې زنګيـږى



ukhto.net

دا سـخته سـخته نـه ده زمـونږه امتحـان دے
زمـونږه پـرې رضـا ده رضـا چـې پـرې سبحان دے
کوم وخت چې رب رضـا شي يو ځل خو به تېرېږي

دا نن که شونډ بوسے کړي يا غېر غماز که خاندي
کـه وس ئې په مونږ اوشو په نيت کښې د تـالان دي
سبا بـه کـوزې سترګې کـه خېـر وي نـو پسخېږي

زۀ تـا تـه بـه ښـکاره شـم زړګے لکـه ائين کـړه
زمـا پـه تـا يقـين دے تـه هـم پـه مـا يقـين کـړه
زمـا ښـکلې خـو مـا تـه پـه ډاګـه کښې ښـکارېږي

يـو دغـه صـديقي يمـه چې نغـاړې مـې پـه غبرګـو
د نـــورو خلقـــو واړو ازغـــے يمـــه د ســـترګو
چې سـتا سـره مـې اووينـى پـه تپـو شـي ړنـدېږي


pukhto.net

# د هجر مشغولا

خوږه راته بې شانه د هجر مشغولا ده
کوم وختې چې مجنون شم ستا مینه د لېلا ده

چې ستا وفا ته ګوری نو سوزی په لمبو کښې
چې جمع شی یو ځائے ته نو ستوری په لمبو کښې
بحثونه نور څۀ نۀ وی زمونږه واویلا ده



ukhto.net

دا خبر کـه تـۀ پـردی ئـې زۀ خپـل وومـه پـردے شـوم
دا اوس چې سپک نظر کړی هم دوئ ته بر ليدے شوم
کـــه وس ئـــې چرتـــه اوشـــو تيـــاره کـــربلا ده

الله صـــبر راکـــړی مـــونږ دومـــره صـــبر اوکـــړو
کوم وخت چې ئې لاس بر شی دوئ هلته جبر اوکړو
زمـونږه هـر څـۀ ډاګـه د دوئ هـر څـۀ کښـې غـلا ده

پـه سـخته کښـې دشـمن يـم راحتـه کښـې يـم پـلار
د ټولـو بـه داجـی وومـه چې پـښن بـه ئې شـو کـار
اوس لېچـــې بـــه لالا وهـــی نمـــړی د عبـــد الله ده

تميـز راتـه معلـوم شـو پـه دوسـت او پـه دشـمن کښـې
اے ښـکلی جـو چـې مـخ مـې او نـۀ وينی کفـن کښـې
وصـــيت د صـــديقی دے پـــه دې بانـــدې صـــلا ده



pukhto.net

## د ښکلو ښکلو سترګو

ژړا مـــې دې يـــادېږي د ښـــکلو ښـــکلو ســـترګو
خنـــدا مـــې دې يـــادېږي د ښـــکلو ښـــکلو ســـترګو

مـــا څـــومره ظلـــم اوکـــړو تـــا صـــبر اوکـــړو
د دې لاســـيوا هـــم قســـمت مـــې جبـــر اوکـــړو
وفـــا مـــې دې يـــادېږي د ښـــکلو ښـــکلو ســـترګو

تـــل تـــا تـــه د نـــا اهلـــو پـــه ســـپک نظـــر کتـــل وو
دا تـــول زمـــا دپـــاره پـــه صـــبر تېـــرؤل وو
دنيـــا مـــې دې يـــادېږي د ښـــکلو ښـــکلو ســـترګو

مـــا اوکـــاتو خپلوانـــو تالـــه ئـــې زمـــا وټ کـــړو
تـــا هـــم عجيبـــه اوکـــړه زړګـــے دې رانـــه پـــټ کـــړو
دا غـــلا مـــې دې يـــادېږي د ښـــکلو ښـــکلو ســـترګو

يقـــين اوکـــړه جانانـــه ارمـــان ئـــې پـــه زړۀ نشـــته
بـــې ملکـــه صـــديقي د ے خفګـــان ئـــې پـــه زړۀ نشـــته
يـــو (تـــا) مـــې دې يـــادېږي د ښـــکلو ښـــکلو ســـترګو



pukhto.net

# بیت الله شریف ته مخامخ

## ۱۱-۵-۱۹۷۷

پـالـې او کـه رتـې مـې خـو ستـا در مـې دے نیـؤلے
پـوخ ډال پـه سـر دپاسـه د سـرور مـې دے نیـؤلے



pukhto.net

د زړۀ نــه مــې بتــان د لات منــات واړه ګــزار کــړو
ستــا حکــم پــه ریښــتیا د پېغمبــر مــې د ے نیــؤلے
د ژبــې د وفــا ســره پــرې لــوظ د ے پــه صــدق
پــه روح کښــې پــه بدن او پــه ځیګــر کښــې مــې نیــؤلے
څنــډل د شــنډې ونــو نــه خــالي جــولۍ مــې راوړه
اوس پوهــه شــوم چــې ډکــے د ثمــر مــې د ے نیــؤلے
پــه تشو منډو پښــې مــې شوې پولۍ زړګــے مــې شیــن شو
پــه کــور کښــې مــې بیــا نــه موندو بهــر مــې د ے نیــؤلے
غمــاز کــه وسوســو او یــا لمســون تــه مخــامخ شــي
پــه لاسو کښــې تیــار ورتــه خنجــر مــې د ے نیــؤلے
پــه وخــت د ازمــائش کښــې تینــګ ولاړ یــم نــه جــارؤځم
هــم دغــه قربــانۍ تــه د زړۀ ســر مــې د ے نیــؤلے
بــل خــوا تــه چرتــه نــه ځــم خپلــه برخــه ترینــه غــواړم
چــې وېش کــړي د کــرم هغــه دفتــر مــې د ے نیــؤلے

عاصــي یــم صــدیقي یــم پــه قسمــت بانــدې نــازان یــم
چــې کــور پــه اخــر وخــت د پــاک اکبــر مــې د ے نیــؤلے



ukhto.net

# په بیت الله شریف کښې

۲۲،۷،۱۹۷۷

فریاد خو مې در رسی چې قبول به کله شی
بیا ستا د رحمتونو دا نزول به کله شی

زۀ نه یم نا اُمېده خو دشمن مې خوشحالیږی
زما په خوشحالۍ باندې ملول به کله شی
ولاړ یم لاس تړلے په زارو په ملتزم کښې
چې څوک مې ژړوی هغه ریپول به کله شی
په شکر خو زیاتیږی ستا د در نه نعمتونه
زما غوندې مجرم سره معمول به کله شی
کړاؤ دے مُتازی ده ستا د در په رسېدو کښې
د دې بې اسرې عمر څۀ حصول به کله شی

د چا چې صدیقی ته دی هغه خو ئې راکاږی
د دۀ چې په چا پورې دی وصول به کله شی



ukhto.net

## جانانه مشغولېږم

نن بیا دې په یادونو کښې بې ځانه مشغولېږم
جانانه مشغولېږم جانانه مشغولېږم



ukhto.net

د فکر په تالونو کښې چې پورته په هوا شم
نو ستا په مشغولا شم
ډېر وخت د خوشحالۍ وی ستا سره چې په خندا شم
خو بیا درنه جُدا شم
رودونه مې په مخ څې د ارمانه مشغولېږم
جانانه مشغولېږم جانانه مشغولېږم

تېرېږی په تا هلته په ما دلته کښې هجران
په مثل د نېران
د اوښکو په شیبو کښې کر کوّم د ګلستان
چې او نه کړی نقصان
دشمن ته په سلګو کښې د خندا نه مشغولېږم
جانانه مشغولېږم جانانه مشغولېږم

یا هغه زمانه وه چې د لویو وړو پلار ووم
کوم وختې چې د کار ووم
په خښته چې مارۀ شو ما ته ئې اوکاتۀ اوزګار ووم
په سترګو کښې ئې خار ووم


ukhto.net

دا څکه په صفت ئې د هر خوا نه مشغولېږم
جانانه مشغولېږم جانانه مشغولېږم

غېرت دې راله راکړو چې په دې عمر کښې بر شوم
د کوره چې بهر شوم
هر چا ته شومه سپک نو تا ته درونډ لکه د غر شوم
رېښتيا دې د زړۀ سر شوم
په نوم د مسافر يمه شاهانه مشغولېږم
جانانه مشغولېږم جانانه مشغولېږم

کوم وختې چې په شونډو دې يو ګوټ د مينې راکړو
شکرونه پرې ډېر ما کړو
اوس زيات په صديقي باندې رحمونه چې مولا کړو
فخرونه څکه تا کړو
بيا خبر دے که سرتور لکه رندانه مشغولېږم
جانانه مشغولېږم جانانه مشغولېږم



pukhto.net

د عمر په سفر کښې سر وهلې غونډې ګرځم
چې تهٔ راته رایاده شې نو غلې غونډې ګرځم

د زړهٔ سترګې چې اوغړومه تهٔ راته ښکاره شې
یو اه مې د خلې اوځی زړهٔ چاؤدلې غونډې ګرځم
په فکر کښې چې ستا سره د راز خبرې اوکړم
د غم د سمندر نه بیا ختلې غونډې ګرځم
شمو نه د طارقه پورې تاسو خوب کښې وینم
د خوبه چې راپاځمه نو ښکلې غونډې ګرځم

دا ژوند د صدیقی دې رب حساب نه کړی په ژوند کښې
چې ستا په جدایې کښې زهٔ ویشتلې غونډې ګرځم


ukhto.net

# خو څوک ؟؟؟؟

زۀ ستا په نصيحت که خوشحالېږمه دلبره
خو څوک په دلاسه مې پاهه لر کړي د پرهره

لوئې کار مې ستا ديدن وو چې ديدن شو رانه پاتې
پروا مې په دې نشته که وطن شو رانه پاتې
په عشق چې لاهو کيږي اول ودانګې د سره



ukhto.net

تا خان ما ته بخښلې وو دا ستا ښکلې وينا ده
اوس وار که دې خطا شي نو دا څۀ رنګې وفا ده
انصاف درلـه درکومـه تپوس اوکړه د څيګره

تصوير په تصور مې جوړۀ او خوشحالېږه
ما خان سره راوړے دے خوږې مه خفه کيږه
چې ګورمه تا وينم د ماښام نه تر سحره

ژوندون هغه ژوندون وي چې ژوندون خو د حيا وي
اشنا وي چې صفا وي چې رښتيا وي چې وفا وي
خوږلې منګرو يو خان ساته د بازيګره

يو تۀ پنځه ګلونه يو غنچه د ګلستان ئې
د مينې په دنيا کښې ثريا پسې روان ئې
چې ستا مينې ته ګورم ئې د ټولو راته غوره

زما په لوئے همت خو په تا خلق آفرين وائي
چې مونږ کړو دعاګانې فرشتې به پرې امين وائي
ته خبر د صديقي غواړه مدام د رب د دره


ukhto.net

# بیت الله شریف ته مخامخ

هیڅ نۀ پوهېږمه چې سوال دې په در څنګه اوکړم
یم ګناهګار د خپل ګناه به عذر څنګه اوکړم

په خُلې منلی مې احکام خو په عمل کښې نۀ دی
سترګې مې کوزې دی د دې به عذر څنګه اوکړم
پښې ابله سرتور درله راغلے یم په ډېره طمعه
خپلې خوږې لویو وړو ته خبر څنګه اوکړم
تخم دې راکړو کرؤندې له چې توبښه یوسمه
په دغه سترګو به بیا بل ته نظر څنګه اوکړم

د صدیقي عمل که بد دے ستا کرم دے سیوا
وروستو د دې به د دشمن نه خطر څنګه اوکړم



ukhto.net

د زړګی سره ستا په یادو کښې ژوندون تېرؤم
پټ په ګوګل کښې ګزارونه د بېلتون تېرؤم

وطن بدل ژبه بدله زۀ تېرومه عمر
هغه د سوری د ګرمئ واړه هېرومه عمر
سختې راحتې زۀ د مینې په قانون تېرؤم

غوټې خوړلی مې بې شماره په دریاب د مینې
په اخر عمر ما وې زۀ شوم کامیاب د مینې
ستا په فرقت به وخت د فکر په زنګون تېرؤم

یقین محکم زما په تا دے ته شکمنه په ما
اول خوشحال معلومیږې اوس غمژنه په ما
شومه سپین ږیرے پاتې عمر په لمسون تېرؤم

صدیقی ستا دے ته د خان شه دغه ستا خوښه ده
په پاتې عمر ستا رضا زما رضا خوښه ده
هره ګړۍ د سوی زړۀ په خیګرخون تېرؤم



ukhto.net

# زمانه اجل خان پتهٔ

زر دے کـه یـو نیم ورځې زمـا نـه اجـل خـان پتهٔ
رب خبـر چې څـو مـې پـه دنیـا سـاوونه پـاتې دی

مـا خـدمت کـوُلـو بـه پـردے بـه وو کـه خپـل بـه وو
دوئ بـه ویر بـدل چې د پیـری تموپی پـه سـر مـې وه
حقه خـو وه حقـه پـه نـا حقـه کـنبـې مـې مـل بـه وو
هـره یـو خبـره پـه هـر وخـت د بـر نـه بـر مـې وه



ukhto.net

اوس چې تپوس کوم د زوړ اشنا نو په چل خان پټېږ
زړ دے که یو نیم ورځې زما نه اجل خان پټېږ
یا خو د شېطان رجیم په ما داوونه پاتې دی
رب خبر چې څو مې په دنیا ساوونه پاتې دی

جهاز رېل کښې ملګرے مې مرزا د پنجیګرام وو
دے که جمعدار وو صوبیدار بیا تحصیلدار شو
ګلې مېلمستیا کښې به بېره د ګلیګرام وو
دے چې تابعدار وو نو ناڅاپه تحصیلدار شو

خدائے دې ئې راته نه ښائی دے عادت لکه غل خان پټېږ
زړ دے که یو نیم ورځې زما نه اجل خان پټېږ
نن سبا ترې تهول د سېیتوب کارونه پاتې دی
رب خبر چې څو مې په دنیا ساوونه پاتې دی



pukhto.net

## نیمه خوا

ګلونه ستا د حسن په هجران کښې زما رېژی
غوټۍ سره د پاڼو په بوستان کښې زما رېژی



ukhto.net

د خوب په شانتې وخت را باندې تېر شو د وصال
یقین کړه نه پوهېږمه چې ورځ وه او که کال
چې ستا خوږې خبرې مې رایادې شي په خیال
سرې سترګې مې نا څاپه په ګرېوان شي پشکال
اوس پاتې عمر واړه په ارمان کښې زما رېږي

سرې سترګې وچې شونډې رنګ دې وو لکه زعفران
یو تندر د بېلتون وو په مونږ راغې د اسمان
رااوښتم د کوره دا وو حکم د سبحان
چې وَ مې کتل شا ته ستا وو حال د مرګ په شان
تل اوښکې به د سترګو په ګرېوان کښې زما رېږي

که کور وو که دېره وه په هر یو نظر زما وو
د سختې نه مرګ نشته ارماني سفر زما وو
زخمي که دې زړګے وو نو غلبېل ځیګر زما وو
درونډ بار د بې کسۍ او د ارمان په سر زما وو
د سپینې ږیرې ګټه په تالان کښې زما رېږي

طلعت به څې کمرې ته پیچې غواړې د داجي نه
شمو امو په فکر سترګې نغاړي د داجي نه


pukhto.net

کابل ، عطاءالله ، طارق به ژاړي د داجي نه
رنګ شوے کور د دوئ په نظر ښارټې د داجي نه
ښېګړې دشمنۍ شوې په احسان کښې زما رېږي

رور ځويه مطلبي دي او دوستان ګوري وارونه
ثابت په تجربو شو څۀ اومه غونډې تارونه
بقا نشته په ژوند د خلقو اوکړه مدارونه
سندان شه په سر واخله د پلکونو ګزارونه
داګټه ده د عمر په تاوان کښې زما رېږي

هر وختې هر سحر کړمه دعا د رب په در کښې
فرياد به په سلګو کړم په روضه د پېغمبر کښې
چې ګرانې يو اسانې شي په ورځې د محشر کښې
تشويش د زړۀ نه لرې کړه د دنيا په لر و بر کښې
ښۀ بد د صديقي وائي په ميزان کښې زما رېږي


ukhto.net

# دومره درته ویم

دومره درته ویم چې د وفا سترګې ړندې نهٔ کړې
لاړ شه خو چې خپلې د حیا سترګې ړندې نهٔ کړې

نهٔ راځي غیرت په هیڅ صورت چې حیا لاړه شي
راشي دنیادار له په بل ځائے که دنیا لاړه شي



pukhto.net

ستا عزت زما دے چې زما سترګې ړندې نۀ کړې

بوی تري اخر لاړ شی د هر ګل چې شوکېدلے وی
ګل ته فکر اوکړه دے په خپل بوټی کښې ښکلے وی
دا دې نن سبق کړه د سبا سترګې ړندې نۀ کړې

مینه مې تاله شوه دا په دې چې زۀ مجبوره شوم
غوږ د رقیبانو په ګوګل د غم په توره شوم
تا ته مې اشنا دی چې اشنا سترګې ړندې نۀ کړې

یا خو هغه وخت وو چې په مینه لېونے به وې
وخت په وخت زما د دؤو سترګو سپېلنے به وې
ځان چې دې مجنون کړو د لېلا سترګې ړندې نۀ کړې

واړه علامې که په دنیا کښې ئې میراتې وی
خبر د صدیقی سره خو ستا مینه دې پلتې وی
سوال کوم چې دا د مشغولا سترګې ړندې نۀ کړې



pukhto.net

# زما نخښنه

اې ښکلې ستا د زلفو په غنچو ده زما نخښنه
د ژوند د پسرلي دې په وږمو ده زما نخښنه

هر څو که درنه لرې لرې ناست يم لرې نۀ يم
هر وختې دې يادوم درنه غافله چرې نۀ يم
په زړۀ دپاسه هم او په لېمو ده زما نخښنه

وې ستا خوږې خبرې د لوکاټ د سورې لاندې
که نورو ته قهرېږې ما ته ډېره ډېره خاندې
د ژمي په کوټه باند په غرمو ده زما نخښنه

دا واوره زما ښکلې چې ښۍ لاس به دې کابل وي
دا سپېڅ عطاءالله به دې د سرو ګلو بلبل وي
تصوير ستا د ښائست هغه شمو ده زما نخښنه

طارق بن زياد دې شي طارق ستا په ژوندون
په روئے د خپل حبيب دې مولا ختم کړي بېلتون
ساده په مونږ مئينه هم امو ده زما نخښنه



ukhto.net

زۀ خبر کـه مسـافر شـوم چـې نـور وارې شـو د کـار
زمـونږه ثـواب ګیـر شـته دوئ دې وی ګـلِ ګلـزار
پـه دا رنګـې بـې ننګـه کـه زلمـو ده زمـا نخښـه

د پـاکې زمکـې شـګې تـاؤ زمـا د تـاؤه اخلـی
نـیلام پـه منـډهې کښـې داؤ زمـا د داؤه اخلـی
د اور د هـر بخـری پـه لمبـو ده زمـا نخښـه

ستا یاد یم ستا دې یاد یم نور که هېر مې کړی نو خبر دے
زنځیر ستـا د الفت رانه چاپېر مې کړی نو خبر دے
پـه مکـر د هـر کـس او د سـلګو ده زمـا نخښـه

درځـم خـو چـې تـا وینـم د رحمـان رحیم پـه در کښـې
بیا خوا په خوا چې کښېنو په روضـه د پیغمبر کښـې
صـرف پـاتې پـه ګوګـل دغـه ارزو ده زمـا نخښـه

د غـم او د افسـوس کـه یـو خبـر دې چـرې راشـی
پردېس دے هسې نه چې صدیقی دې وار خطا شی
سـتا صـبر اسـتقلال د ارادو ده زمـا نخښـه


ukhto.net

# داغِ برهان

د عظمتونــــو رفعتونــــو خدایـــــه
د رحمتونــــو شــــفقتونو خدایـــــه
د حکمتونــــو قــــدرتونو خدایـــــه
پــه سترګو ســرو چــې ستا پــه در ژړېــږم
هــم پــه روضــه دې د ســرور ژړېــږم

پښــې ابلــه ســرتور دې د پــاک کــور چاپېره
پــه ملتــزم اســود دعــا مــې ډېــره
یــا پــه حطــیم ســره د زوره زیــره
لاس مــې کــړو چــوَت د ابــراهیم پــه مقــام
چــې پــه زم زم شــوم پــه ادب پــه ســلام


ukhto.net

په سترګو سرو ترينه صفا ته لاړم
رو رو په دؤ کښې ترې مروا ته لاړم
وروستو جنتِ معلى ته لاړم
بيا مې سر کېښود د حرا په لمن
او په سلګو د غارِ ثور په دمن

د رب د لورې ئې رضا بيامونده
ډېر په سوالونو ئې منشا بيامونده
بابا ادم چې پرې حوا بيامونده
يقين محکم چې ستا په ذات مې اوکړو
د خوږ زړۀ سوال په عرفات مې اوکړو

ډېر په اُحُد بدر مې هم اوژړل
په هر ماښام سحر مې هم اوژړل
ستا د حبيب په در مې هم اوژړل
حېران پرېشان وومه منبر ته لاړم
هم د کونين هغه سرور ته لاړم

وفود ، جبريل ، حوس ، سرير په خوا کښې
د عائشه روشن ضمير په خوا کښې



ukhto.net

اولبابــه غونــدې دلګيــر پــه خــوا کښــې
ډوب پــه ســلګو کښــې حنانــه ليــدلم
ربــه زۀ هـــر اســـطوانه ليـــدلم

خنـــدق ، اُحُـــد ، بقيـــع جـــدا جـــدا دی
د خـــوږ زړګـــی پـــه حـــال خبـــر زمـــا دی
ټـــول پـــرې ګـــواه هـــم قبلتـــېن قبـــا دی
مـــا وې د ســـوی زړۀ ارمـــان غوارمـــه
ډېـــر پـــه زارو درنـــه برهـــان غوارمـــه

زۀ خبـــر نـــه ووم مـــا ژړا کۀلـــه
پـــه دې ژړا کښـــې مـــې دعـــا کۀلـــه
تقـــدير پـــه مـــا پـــورې خنـــدا کۀلـــه
تـــاخير تقـــديم اجـــل تـــه ځـــان نـــه نيســـی
بدلـــه لاره د قـــرآن نـــه نيســـی

پـــه فريـــادونو پـــه غوغـــا وَنـــۀ شـــوه
پـــه کوششـــونو د دنيـــا وَنـــۀ شـــوه
زمـــونږه چـــاره پـــه قضـــا وَنـــۀ شـــوه
دے نـــې تـــولی د شـــهيدان تـــه بلـــو


ukhto.net

مونږ خبر نه وو چې ئې خان ته بلو

که زۀ ناپوهه قیل و قال کؤمه
صبر بېدې نه شمه فی الحال کؤمه
ربه توبه مې ده یو سوال کؤمه
ثنا صفت چې هغه ستا وائی اوس
شازیه چا ته به با با وائی اوس

هر غلام حکم د آقا به منی
چې ستا غلام وی ستا رضا به منی
په ګیلو نه ښۀ په خندا به منی
مونږ دې بندیان یو مونږ ته مه کوه قهر
ښۀ ده چې ستا زمونږ نه ډېر وو پکار

زۀ صدیقي سوې خیګر به ګرځم
ښۀ مطمئن په زړۀ پرهر به ګرځم
چې ستا رضا ده در په در به ګرځم
زۀ چې داغونه په ګوګل ساتم
داغ د برهان به پکښې بل ساتم



ukhto.net

# د شمس الملوک (کابل) په نوم

شمسه ! غیرت اوکړه او ما اوګټه
خان له د دین دنیا حیا اوګټه
خپله پښتو او تربوري ازده کړه
عبثې پرېږده بهتري ازده کړه
د بل په ماته باندې مه غرېږه
کارونه ټول د ازمري ازده کړه
په طمع مه کښېنه د سوال نمړۍ ته
په نره علم مزدوري ازده کړه



ukhto.net

لُوټه پېزار په څۀ اسره مه کوه
د قوم خدمت او سرداري ازده کړه
چې موتې بند نۀ کړې سخا کوه تۀ
خو داسې نۀ چې لوفري ازده کړه
ثابت قدم په خپلو پښو اودرېږه
چې چمچه نۀ شې رهبري ازده کړه
د غلامۍ سبق د چا او نۀ وې
که ازده کې نو سالاري ازده کړه
که خان اودرې د سرپيتوب په قط کښې
پرېږده حسد خو دلداري ازده کړه
د خپلې خاورې هغه پانه لؤله
پکښې جرات او بهادري ازده کړه
مه اخله ښېرې مدام دعا اوګټه
خان له د دين دنيا حيا ازده کړه

ما خپل پردي او هم دوستان ساتلي
ما بختور او غريبان ساتلي
د زړۀ په سر رالګه ګزار راکوي
ما په لستوني کښې ماران ساتلي
غوښې د زړۀ او د بدن مې شوکئ

چې مې په کور کښې شرمخان ساتلي
هر يو کوشش د تباهۍ مې کوي
چې مې په خوا کښې رذيلان ساتلي
ځکه پېغور د بې وفا راکوي
چې په نازونو مې ياران ساتلي
ورله په سترګو کښې ازغي نالوي
کوم ځائے ګلونه چې باغوان ساتلي
رشه ترې يوسي دے نهر پاتې شي
ښکلي فصلونه چې دهقان ساتلي
هغه رسمونو ته کړه سترګې بينا
چې وډېره ، چوهدري او خان ساتلي
سلوک بخشش د يادګېرنې قابل
دا که جرنېل که حکمران ساتلي
په صداقت خپله منشا اوګټه
خان له د دين دنيا حيا اوګټه

واوره خويونه د ارزل وا نۀ اخلې
د ظالمانو سره پل وا نۀ اخلې
يو زورور ته دې بدل پرې نۀ ږدې
د غريبانو نه بدل وا نۀ اخلې


ukhto.net

خپله کاته د عمر پاکه ساته
هیڅ شی د چا نه په څۀ چل وا نۀ اخلې
چې په سبا ئې شرمېدلے ولاړ
هغه رفتار هغه منزل وا نۀ اخلې
مه څه تش لاس ګله د ښکار په طمعه
د یک وهلو له چې شل وا نۀ اخلې
ماریز وهه خو د احسان په توره
په چا پسې توره بمبل وا نۀ اخلې
څوک چې په لوټه باندې لور تېره کئ
هرګز د داسې سړی مل وا نۀ اخلې
ژبه خوږه ډېره په پاک ئې ساته
چې مور او پلار ته دې کنځل وا نۀ اخلې
د شريفانو په صحبت کښې اوسه
خویونه هرګز چې د غل وا نۀ اخلې
په ابتدا دې انتها اوګته
خان له د دين دنيا حيا اوګټه

مطلب پرست باندې یقین مه کوه
عمل په لمسه د لعين مه کوه
هر چا ته ګوره د عزت په سترګو


ukhto.net

په خپل خلوص کښې تور او سپین مه کوه
غواړه راشي او مرتشي نه امان
کړ په سوکړه کښې په سادین مه کوه
سيالي کوه خو د وطن په مينه
هوس د زر او زن زمين مه کوه
په پیار مه کتې یا اندېری ثمَله
خوب په صوفه او په قالین مه کوه
ځان له اسلام کښې خلیفه پېدا کړۀ
د امریکې ، د روس او چین مه کوه
په خپله کار چې کوم کوَلې نۀ شې
د هغه کار بل ته تلقین مه کوه
چې دې لر کئ د خدائے رسول د لارې
حاوي په ځان هغه ائين مه کوه
دین مکمل درله درکړے دے رب
متابعت د غېر د دین مه کوه
پاک شفاعت د مصطفی(ص) اوګټه
ځان له د دين دنيا حيا اوګټه

ساز دې بدن دے چرته چور ئې نۀ کړې
په ایمان غوړ دے ګورې سپور ئې نۀ کړې



ukhto.net

سترګې کړه تورې د حیا په رانجو
د زنانه په کجل تورې ئې نهٔ کړې
شونډې دې سرې کړه د غیرت په وینه
چې پرې سرخي د بازار پورې نهٔ کړې
مخ دې صفا کړه د عمل په صابون
چې په پاؤډرو د لاهور ئې نهٔ کړې
زلفې کمند کړه چې دشمن اونیسي
خو چې د جونو د پېغور ئې نهٔ کړې
نوکونه سپین ساته د دین مطابق
اوږده رنګدار لکه د لور ئې نهٔ کړې
ډسکو جامې د نر نه ښځه جوړې
چې په ځان نوم د ښځې پورې نهٔ کړې
جینی هلک چې دې فېشن ته بلی
دی مخنث چې خور او رور ئې نهٔ کړې
فېشن د مال د تباهی سبب دے
دا مې وصیت دے په ځان سور ئې نهٔ کړې
ټول دروغژن دی تهٔ رینتیا اوګته
ځان له د دین دنیا حیا اوګته



ukhto.net

خان سره هره شپه حساب کوه تۀ
د ځانه سوال د ځان ځواب کوه تۀ
د وطن جونه زمونږ خوږيندې ميندې
خيال ئې د ستر د حجاب کوه تۀ
په بې شرمۍ چې مو اسلام شرموی
تکړ د داسې انقلاب کوه تۀ
چې په جامو کښې ئې اندامونه ښکاری
د داسې تور سرو اجتناب کوه تۀ
چې زينديقان درله په مخه راځی
ورته پاره شه پيچ و تاب کوه تۀ
ساقی ته وايه د حق مينه اوڅښه
وروستو صفت د ميو ناب کوه تۀ
چې ئې ثانی په دې دنياکښې نشته
عمل په هغه يو کتاب کوه تۀ
که په وينا باندې عمل دې اوشی
صديقي هله خور و خواب کوه تۀ
د حق د لوري مرحبا اوګټه
خان له د دين دنيا حيا اوګټه



ukhto.net

# د فضل ودود مور چاچې

پـــه ســـفر لاړې بـــې زمـــا نـــه لاړې
پـــه حســـــرتونو د دنیـــا نـــه لاړې



ukhto.net

د مبارک سفر اخر خبري
مونږه وو دواړه باقي ټول وو لري
يواځې تلۀ دې مجبوري وه زما
د ملګرتيا نۀ وې زما وزرې
په ناجوړتيا دې څه خوړلې نۀ شو
ورځې او شپې وې ستا د حج نهرې
سترګو وئيل به دې د زړۀ حالونه
د زمانې د لاسه در په دَرې
ووم سرګردانه پرېشانه لاړې
چې نيمه خوا زما د خوا نه لاړې

راغلم واپس خو د فکرونو سره
په دوه بجې مې ټيليفون اوکړو
عبدالرحيم ته د غمونو سره
بحث مې ستا د حال زيون اوکړو
ستا بې نيازي به مې ګوزاره کړله
هر څو شېطان که به لمسون اوکړو
د خواؤ شا خوشامند ګرو خلقو
زمونږ په جوړه کښې بېلتون اوکړو
دا چې ناڅاپه شان روانه شولې



pukhto.net

خفه زما که د بل چا نه لاړې

درې کم ځلوېښت کاله اول خبره
وې په منډو زمونږ په کور ناسته
راغلم ناڅاپه د سبدو نه هلته
ته وې په خوا د خپلې خور ناسته
ته نا خبره زۀ هم نۀ ووم خبر
دا وه صلاح زما د مور ناسته
په اشارو کښې ئې اندا ته وئيل
بې بې په ډډه لکه ترور ناسته
رضا د مور وه ته مې خوښه کړلې
د هغې پس مې د وينا نه لاړې

اوشوه کوژدن هم دې وادۀ وو تيار
ډېر عنايت به پرې کړو شهريار
کلونه ديارلس دې لا نه وو پوره
ستا د معصوم عمر اوچت مې کړو بار
وروستو قربان که شوې زما په مينه
چې ته لا نه وې ستا اول ووم زار
شېږ ځلوېښتم وو د عيسوي د عمر



ukhto.net

ستا د گلشن په ونو راغے بهار
زۀ دې يوه اودا دې بلـه ميوه
د خپلې داسې مشغولانه لاړې

که مې حيا که عزت ستا وو په لاس
که څه اسره که دولت ستا وو په لاس
نۀ پکښې مور نۀ پکښې نندرور شريکه
زما د کور حکومت ستا وو په لاس
که مې څه ښه که مې ناکاره عمل
د ژوند هر يو امانت ستا وو په لاس
زۀ چې مجرم ووم تا برى ساتلم
دا بې مثال شرافت ستا وو په لاس
د وخت مختار ته دې په نخښنه کړمه
په کوم سبب دې د وينا نه لاړې

دا ستا ملگرے پرې تقدير وو زما
خود دې مينه ما له تا راکړى
د تهمتونو د باوونو په زور
د غيرت وينه ما له تا راکړى
بد مې په رگ او په ايمان کښې نۀ وو



ukhto.net

بغــض او کینــه مــا لــه تــا راکــړی
چې بـه تـر مرګـه پـورې پاکـه نـۀ شـی
خولـه دا سـپینه مـا لـه تـا راکـړی
پرېـږدم دا بحـث څـه فائـده نـۀ لـری
ځکــه د بحــث د منشــا نــه لاړې

د ســفر وار زمــا اول وو لــه تــا
خـو تـه بـې وختـه پـه سـفر لاړې
د نـورو کـور شـته د بچـو مشـغولا
زۀ کــه مجــرم ووم د اختــر لاړې
ستا بې وصیته به وصیت پوره کړم
د دۀ پــه غــم پــه زړۀ پرهــر لاړې
زمــا دعــا بــه در سـره وی مــدام
کــه مــې د ســترګو د نظــر لاړې
تــا د خپـل زور پـه خـوا مقـام اونیـۀو
نــورې محــروم د تــور لالانــه لاړې

کـه سـتا بچـی هـر چـا بچـی اوګڼـل
زۀ بــه ئــې هــر قســم قدرونــه کــۀم
تـول دې خبـر شـی بـن والـی نـۀ غـوارم



pukhto.net

په خپل طاقت به پرې سودونه کړم
د مور د خوی د لور نمسی حقونه
په خپل خپل ځائے به پرې فکرونه کړم
د کور بهر خلق دې مونږ کړی معاف
دا په اخر ورته سوالونه کړم
زۀ دې کړیږم تا دې رب او بخښي
چې د دې خلقو د ریا نه لاړې

کور ته چې لاړې تا بلال اولیدو
سائره هم او تا کمال اولیدو
وو سلیمان او سکندر دې خوا ته
کابل او سېتهه دې ډېر خوشحال اولیدو
طارق ، طلعت تنعیم په تیغو سترګو
تا ته ئې کتل او ستا ئې حال اولیدو
که سعیده که حمیده که شمیم
په خپل دیدن کښې دې لېوال اولیدو
اوس رحم جان به شي په چا دلاسه
ته د نجما او د سلما نه لاړې


pukhto.net

رابعې ستا حق د نمک ادا کړو
چې په اخر کښې ستا خدمت ئې اوکړو
عزیزه غلې غلې اوښکې تويئ
ډېر تاسف ستا په فرقت ئې اوکړو
آراء پرېشانه دعاګانې کوی
که ستا په حق کښې تلاوت ئې اوکړو
ضياء د کټ لاندې به څوک ګوری
څوک به اوس نۀ ويئ شرارت ئې اوکړو
راشه اوس خلقو له چاچې اوګوره
څنګ د رضا او نا رضا نه لاړې

حليمه ژاړی صبر بدلے نۀ شی
حرم په پټه خُله زهيره ناسته
په ډېر خفګان کښې تسلی ورکوی
بی بی ابۍ او بې نظيره ناسته
نصيب رنا نسرين بې حده خفه
هره تور سری ده دلګيره ناسته
يوه د بلې سره جوړ به اوکړی
خو زما خور ده بې وزيره ناسته
نور دې په زړۀ باندې زغملې نۀ شوه



پښتو ukhto.net

## خکـــــه د تیولـــــو د ژړا نــــــه لاړې

تـا ئـې خـدمت ډېـر پـه اول کـښـې کـړے
د اسـمـاعيل شـاکـر د مـور پـه ځـائے وے
شـېر پـه دعـا کـښـې بـه يـادئ دې مـدام
زېن العابدين ، برکا د خور پـه ځـائے وے
پـه صـبـر صـبـر دې خـواب ورکـړے
د وړو راوړو او شـر و شـور پـه ځـائے وے
اسـتـقـامـت لــه دې شــاباش ورکــوم
وے پـه ژوندون کـښـې خـو د ګـور پـه ځـائے وے
سـتـا نـه انـکـار د چـا پـه زړهٔ کـښـې نـهٔ وو
وه دې پــه زړهٔ د څــه ســودا نــه لاړې

پـه سـتـرګـو سـرو ژاړي بـي بـي حـلـيـمـه
اخـتـر د خـپـلـې مـور پـه شـان ګـڼـلـې
نجـم ، شـهـاب ، انجـم دې يـاده سـاتـي
د خـپـلـې نـيـا شـان ئـې پـه ځـان ګـڼـلـې
زمـا پـه زړهٔ کـښـې قـدر سـتـا وو مـدام
خـبـر دے کـه نـورو بـه تـاوان ګـڼـلـې
سـتـا پـه قـسـمـت بـه وو نـاترسـه مـرض


ukhto.net

لویــــو وړو خــــو بــــه درمــــان ګنلــــې
لــــوئې بــــلا درلــــه ګوګــــل اوخــــوړو
ســــتړے ګوګــــل د دې دنیــــا نــــه لاړې

فضــــل ودود بــــه وی د زړۀ پــــه خــــوراک
فضـل وهـاب بـه کـړی د عمـر پسـخاک
زیـب النسـاء مهـر النسـاء چـې راشـی
قلـم قلـم پـه زړۀ ځیګـر بـه وی چـاک
اختــر حســین بــه ســر ګردانه ګرځــی
زمـا پـه شـان بـه ترې څوک نۀ کوی بـاک
جبـار ، غفـار بـه مېلمانـه شـی رو رو
د سرسینۍ مـور خـو بـه نۀ لـری ژواک
د سـوچې خـور او وچـې حـال بـه څۀ وی
بیــا خــو زمــونږ د واویــلا نــه لاړې

د امینــې ، حــال د شــمو بــه څــۀ وی
تســنیم ، زیبــا او د امــو بــه څــۀ وی
کلثـوم وه لـرې تـه بـه ئې نۀ ئې لیـدلی
د دوئ پـه زړونـو پـه لېمـو بـه څـۀ وی
مـور مـې عـادت ده خـور مـې غـم لیـدلے


ukhto.net

سېلاب د غم دے په کمو به څهٔ وی
چې زهٔ ئې ډوب کړم د فکرونو په وَل
بیا په زَړو او په زلمو به څهٔ وی
تهٔ خو زما او د راجو خفه وې
ولې اشنا او د نا اشنا نه لاړې

قسم په خدائے دا ئې وینا کړی ده
په پاکه زمکه ئې دعا کړی ده
چې وو موجود د حرمېن په حدود
په بېت الله ئې التجا کړی ده
په عرفات ، په نور ، قبا باندې
په قبلتېن ، اُحُد ، حرا کړی ده
خطونه ئې شته هر څوک کتلې ئې شی
چې ستا صحت ئې مدعا کړی ده
ملګرے څوک کله یواځې پرېږدی
ته د راجو د ملګرتیا نه لاړې

ورځ نا قلاره شپه شوګیر وی زما
زما په برخه شوګیرې دی مدام
وی ګېر چاپېره د دنیا غمونه


pukhto.net

د مــــال و زر واړه اســـرې دی مـــدام
په ژوند اوزګار چرته د سختو نۀ شوم
ګـوړې د چـا راتـــه ښـبرې دی مــدام
د عمـــل پنګـــه د اخـــر نـــۀ لـــرم
د دغــه غمــه ســترګې سـرې دی مــدام
مــا تــه د جـرم دې اظهــار او نــۀ کـړو
څُلــه دې کـره پټـه د حیــا نــه لاړې

د مـــرګ پیالـــه د هـــر زنـــده برخـــه ده
په خپل خپل وخت به ئې په دهن کېږدی
د هــر بهـار انجـام تـه فکـر اوکـړئ
اخـر خـزان ئـې پـه ګلشـن کېـږدی
د نــور جهـان او تـاج محـل قبرونـه
جـدا جـدا چـې ئـې ځنبـتن کېـږدی
پـوره خـدمت بـه پـه قسـمت مـې نـۀ وو
څوک چې مجبور شی پرې قدغن کېږدی

د ودود مــور بــه زۀ اوس چــا تــه وایــم
د صـــدیقی غونـــدې جلیـــا نـــه لاړې



ukhto.net

# غزلیات

که بهار وینې اے بلبله خزان هم یادوه
ګورې غنچو ته ریژېدلی ګلان هم یادوه

د حسن شمعې د ګلونو که خورې ورې دی
د پتنګانو هسکه غاړه سوزان هم یادوه
ګله ښکلا کله خندا کړې د هر رنګ په ګلو
په دې مستۍ کښې پرې ږلی، د اسمان هم یادوه
شراب د وصل په وښکو چې د بورا بهېدل
د خندۍ په سر سورې خیګر ئې ارمان هم یادوه
د پېغلو باګې تېل په تېل څی د مېرو په ګلو
چې کور ته راشي ورته تاؤ د جانان هم یادوه

صدیقي نن چې په شا اؤړې د مستۍ په خندا
ګرم مجلس کښې د دوستانو هجران هم یادوه



ukhto.net

اسره مې ستا د مینې اوکړه چې ګوهر لری دا
نه وه معلومه چې موجونه سمندر لری دا

د ګل په خوا کښې خندۀ و خار ولې بورا ژړوی
چې په اخلاص کښې بې وسواسه ډال ځیګر لری دا
په شد و مد د عاشقۍ کښې په مطلق د سبق
کله پښوونه په جبین کښې زېر و زوَر لری دا
د زمانې په هره پانه د مطلب تکی وی
کله په لاسو کښې مرهم کله خنجر لری دا
لوټه پېزار له به ئې یار په منډه منډه زغلی
چې وخت بدل شی په یارۍ کښې شور و شر لری دا
واوره ګل رنګه په خپل حسن چې غاوره نۀ شې
سحر تازه ګلونه مړاوی مازیګر لری دا

خوښې نا خوښې د هر چا ته صدیقی کوه پام
که وی د زړۀ نه که د شونډو که بصر لری دا


ukhto.net

چې پاتې عمر ورته اوبخښم نو څهٔ به اوشي
وايه جانانه چې دا بد دی او که ښهٔ به اوشي

نوره ارزو نهٔ وه خو دا چې تش ديدن به اوکړم
ستا په وصال کښې تسلی زما د زړهٔ به اوشي
اوس د تقدير د فېصلې به انتظار کؤمه
ګورو چې ستا د خوږې خُلې نه (اؤ) که (نهٔ) به اوشي
جفا وفا د زمانې په ولقه مه ورکؤه
څنګ چې دې خپله اراده وی نو هغه به اوشي
بت پرستی رالېږي غور د کل عالم جوړ کړے
دا مدعا مې په دعا که په مانځه به اوشي

زهر شربت د صديقي مرض له دواړه ښهٔ دی
ګورو علاج چې په تراخهٔ که په خواږه به اوشي


pukhto.net

تـه چـې پـه مړوند بانـدې بهـر داغونـه کېـدې
مـا لـه خـو رسـا د زړهٔ پـه سـر داغونـه کېـدې

دا خـو راتـه اووايـه د چـا د يـاري نخښـه ده
کلـه پـه مابنـام کلـه سـحر داغونـه کېـدې
يـو داسې پکـار دے چې همـه داغونـه وران کـړي
شـک يقين تـه رسـي چې اکثـر داغونـه کېـدې
مـا لـه يـو پوره دے چې پـرې عمر لـه رنځـور شـوم
نـور بـه وی د نـورو کـه تـهٔ زر داغونـه کېـدې
ستا میني تـه مـا سجده د مینې پـه داغونو کـړه
څـهٔ اوکـړم چې تـهٔ پـه هـر خیګـر داغونـه کېـدې

بيا چې صديقي نهٔ وی پـه نخښـه بـه ئې څـهٔ اوکـړې
اوس کـه ئې بې شـماره پـه پرهـر داغونـه کېـدې



pukhto.net

څوک ستا د کږو وروځو په نازونو څهٔ پوهيږی
مخلوق زمونږ د مينې په رازونو څهٔ پوهيږی

که لوارٍ ئې که شابارٍ ئې که په قبنج که په مکبز ئې
نادان د لب شکر په اوازونو څهٔ پوهيږی
خبرو د مطلب باندې شوم پوهه د ګنګرو نه
توبه د رياکارو په سازونو څهٔ پوهيږی
دعوې د بناپيرک په الوټو کړمه حيرانه
پرواز ته د شاهين او د بازونو څهٔ پوهيږی
يقين کوه دعوه د غرځنو هسې بې ځايه
لامبو د سيند چپو په شنازونو څهٔ پوهيږی

وی ستا سره مدام به که پياده ملګرے غوارې
نانجانه صديقي په جهازونو څهٔ پوهيږی



ukhto.net

په عقل نهٔ شي محبت له خو ماشوم پکار دے
په يارانه کښې غل او ساز لره معلوم پکار دے

چې يار ګټې نو پکارېږي سخاوت د ضمير
د دنيا ګټې له کنجوس او په خوئے شوم پکار دے
د يارانې کوشش کوې خو چې پالې ئې که نه
که په فهرست د عاشقانو کښې دې نوم پکار دے
د وخت په چاڼ باندې معلوم شولو ياران د دهر
د دې ژوندون نه د کرم غوندې مرحوم پکار دے
چې د سازونو په پردو کښې درته لار اوښائى
وايه مطرب او په واعظ کښې درله کوم پکار دے
شراب د مينې په کنډول او که په جام کښې راکے
ساقي خبر شه هغه نه يم ما له خُم پکار دے

چې شاه زلمی ئې په ليدو باندې نارنج غوندې شی
دغه سختو له صديقي غوندې مجرم پکار دے



ukhto.net

بې د تشې مینې نه خندا لـه تا لـه څهٔ راوړم
وړې تـړې ګرځمـه سبا لـه تـا لـه څـهٔ راوړم

لویــو د وړو نــرو د ښــځو د خنــدا شــومه
شـرم مـې پـه غـاړه شـو حیـا لـه تـا لـه څـهٔ راوړم
قصر پـه محل ایوان جونګړه کښې څهٔ نشـته د ے
داسې مجبوری، کښې به صحرا له تا له څهٔ راوړم
ستا پـه مېلمستیا کښې به قطرې د خېګر پېش کړمه
سیم و زر مـې نشـته د ے وفـا لـه تـا لـه څـهٔ راوړم
سود که دې کېدې شي په ملنګ چې قلنګ نه لری
خـان او د نـواب غټـې منشـا لـه تـا لـه څـهٔ راوړم

غــل د صــدیقي د کــوره تــش لاســونه تلـے د ے
وائی پـه داسې حال کښې به سودا لـه تا لـه څهٔ راوړم



ukhto.net

نـۀ وایمـه تـا تـه چـې سـودونه دې راولېـږه
ډېـر بـه شم خوشـحاله ډېـر غمونـه دې راولېـږه

تنـګ بـه زمـا اوکـړې زمـانې راتـه بـد اوکتـل
مـا تـه دی منظـور همـه ظلمونـه دې راولېـږه
ټولـو بـې اسرې کړمـه یـو تـه اسـره مـې پـاتې ئـې
تـا چـې بـه کـؤل هغـه لوظونـه دې راولېـږه
یـو دې بـل سـبوا کـړه تـا وې سـتا د یـارۍ نخښـه ده
شـمار لـه د تسـکین سـوی داغونـه دې راولېـږه
مـا زارۀ ژړلـی تـا خنـدلی نـوی نـوی دی
هـار د یـارانو د سـرو ګلونـو دې راولېـږه
تـه بـه ترې ناشنا ئـې زمـا ږیـره پکښـې سـپینه شـوه
پـوهې لـه کـه غـوارې تپوسـونه دې راولېـږه
زړۀ دې اول ګټـه کـړه چـې شـش د ځـائے نـه او نـه کـړې
وروسـتو راتـه وایـه غزلونـه دې راولېـږه

سـر ورتـه نیـؤلے صـدیقي ئـې انتظـار کـوی
نـور کـه درنـه پـاتې وی حکمونـه دې راولېـږه



ukhto.net

اوس بـه زۀ هرګـز د یـار اشـنا نـه ګیلـې نـۀ کـوم
یـار اشـنا خـو څـۀ کـړې د دنیـا نـه ګیلـې نـۀ کـوم

څوک چې پروادار وی د خفګان جواز ئې نۀ کیـږی
تـه ئـې بـې پـروا د بـې پـروا نـه ګیلـې نـۀ کـوم
هـر مطلـب پرسـت وی بـې وفـا او خـود غرضـه وی
زۀ د خـود غـرض او بـې وفـا نـه ګیلـې نـۀ کـوم
چـا نـه چـې فائـده وی تـا تـه هلتـه سلامونه کـړه
ستا حاجت دې اوشي زۀ پرې ستا نه ګیلې نۀ کوم
سـر و مـال چـې ورکـړمـه یقین ئې پـه مـا را نۀ شـی
دا رنګـې دوسـتانو د آقـا نـه ګیلـې نـۀ کـوم
نۀ پرېږدی مې خان ته زۀ به بل طرف ته لاړ نۀ شم
بـاغ د سـرو ګلونـو د صـحرا نـه ګیلـې نـۀ کـوم

لاس او پښـې چـې اوکـړی ګـواهی پـه صدیقی بانـدې
دې کښـې پـه سـزا بـه د مـولانـه ګیلـې نـۀ کـوم


ukhto.net

یو سوال مې درنه اوکړو بې نوا لاړمه زهٔ
دا ښهٔ شوه چې محروم د لوظ ستا لاړمه زهٔ

نهٔ وصل نهٔ یاری دا مې علاج د مرض اوشو
خو ستا په عاشقی کښې مبتلا لاړمه زهٔ
د وخت سره دې کار په ابتدا کښې زهٔ دهوکه شوم
شوم تېر د سر و مال په انتها لاړمه زهٔ
رقیب سره خندا وه زهٔ به کوزې سترګې ناست ووم
په ډېرو ارمانونو په ژړا لاړمه زهٔ
په خپلو ګناهګارو چې مې وېش د مینې اولید
بیا څکه د مجلس نه دې په غلا لاړمه زهٔ

یو وخت به صدیقی وائی په افسوس راپسې ژاړې
خبر چې په تا اوشی د دنیا لاړمه زهٔ



ukhto.net

ستا د یادونو قافلې راځي
څه شو که ډېرې فاصلې راځي

نا اُمېدي چې را تر غاړه وځي
ما له بیا هلته حوصلې راځي
که دې هجران په صبر صبر تېر کړو
بیا په دشمن به زلزلې راځي
کله دریاب کله کریاب شي ښکلې
داسې په عشق کښې مرحلې راځي
دا د هجران ساعت به تېر شي په خبر
ستا به په زړه کښې ولولې راځي
چې ستا په یادو مې مجبور کړي ژړا
ورته سودونه د لېلې راځي

د یخ نه جم د صدیقي وینه شي
ستا د هجرانه پرې خوځلې راځي



ukhto.net

دا د هجـر ورځــې پــه ژړا بــه تېـرې شــی
پـاتې کـه رب اوکړی پـه خنـدا بـه تېـرې شـی

صـبر او دعــا بانـدې تــل ګرانــې اســانېږی
رب چـې رحـم اوکـړی نـن سبا بـه تېـرې شـی

دا قـدرې مهلـت کړه چې بیا بـل تـه مُتـاز نـه یـو
خبـر کـه پـه افسـوس یـا واوېـلا بـه تېرې شـی

مینـه پـه هجـران کښې کمے نـۀ کـړی خـو زیـاتېږی
ډېــر پـــه اُمېــدونو تمنــا بـــه تېــرې شـــی

تــۀ د صــدیقی او هغــه ســتا د غــاړې هــار دے
وروستـو کـه خدائے اوکړی سـا پـه سـا بـه تېرې شـی



ukhto.net

چې مې ستا د زلفو جال په ځيګر خور شي
شم خوشحاله سوې زړۀ مې خور مخور شي

دا خزان وهلے زړۀ په صبر ټينګ کړه
که وی خبر نو د زړۀ باغ به دې سمسور شي



Pukhto.net

د راحتـــې پـــه ملګـــری یقـــین مـــه کـــړه
کـــه دې څویـــه کـــه عزیـــز او کـــه دې رور شـــی
پـــه هجـــران کښـــې ســـړے دا رنګـــې غمـــژن وی
پـــه ژوندون بانـــدې پـــه شـــان مـــړے د ګـــور شـــی
چـــې غېـــرت مینـــه وفـــا ورپکښـــې نـــه وی
هـــم پـــه دیـــن او پـــه دنیـــا بـــه ئـــې مـــخ تـــور شـــی
زۀ کـــه دلتـــه مـــزدوری کـــؤم غېـــرت دے
چې ناراست په کور کښې ناست وی هغه سپور شی
دا هجـــران دې زمـــا ســـتا دپـــاره خېـــر شـــی
کـــه کامیـــاب شـــوم پـــه کـــم اصـــلو بـــل بـــه اور شـــی
پـــه تهمـــت کښـــې د ســـختو مقابلـــه کـــړه
غېـــر غمـــاز کـــه هـــر ســـاعت درتـــه پـــه شـــور شـــی
نـــن چې ستا غـــواړی څوک بد چـې پـه خېـر درشـم
هغـــه ســـر بـــه پـــه ادب درتـــه نســـکور شـــی

د راجـــو غـــړی بـــه اورســـی اســـمان تـــه
پـــاتې عمـــر صـــدیقی چـــې ئـــې پـــه کـــور شـــی


pukhto.net

دا حقیقت دے ښکلي ویمه افسانه خو نهٔ ده
زما او ستا څهٔ دروغژنه یارانه خو نهٔ ده

مېوه د صبر چې څوک اوخوري پرې خوشحاله وي ډېر
یقین پرې اوکړه دا مې تا ته بهانه خو نهٔ ده
ما چې راکاږي خپل طرف ته هر ماښام و سحر
دا ستا د تورو زلفو دام سره دانه خو نهٔ ده
تهٔ چې په کور کښې هر طرف ته په سرو سترګو ګورې
ستا نه د مینې ورکه شوې خزانه خو نهٔ ده
چې په غېرت باندې ګټه اوکړي د ایمان ګټه ده
د سوال نمړۍ کښې د غېرت څهٔ نخښانه خو نهٔ ده
که سپک نظر درته چا اوکړو شي په خپله به سپک
زما هغوئ ته په زړګي کښې بخښانه خو نهٔ ده

چې ستا په سترګو کښې د اوښکو ملغلرې جوړې
د صدیقي د زړګي سوې ترانه خو نهٔ ده



ukhto.net

خبر که د هجرانه وچې شونډې نن سبا یم
نۀ مرمه د غمه ښکلې ستا په مینه پایم

دلته که سختي شي پاکه زمکه مې خوشحاله کړي
تل شکرونه وایم رضامند پرې د مولا یم
متې خدائے راکړی د بنده نه طمع نه کؤم
ځکه ستا نه لرې د الله د در ګدا یم
دلته چې سردار دے د کونښو نو غم نشته
لاندې زۀ د سوری نه د هغه دلربا یم
ټولې تلؤسې او خطرې دې د زړۀ لرې کړه
ستا د پاره ښکلې زۀ خو ټول دعا دعا یم

وائي صديقي چې د هجران سفر به ختم شي
غم د زړۀ نه لر کړه خوشحالېږه چې زۀ ستا یم



ukhto.net

په پاکه زمکه چې کوم وختې ثنا خوان شمه زۀ
ویم چې د رب د احساناتو نه قربان شمه زۀ

چې ستا خوږې خوږې خبرې په کاغذ کښې وینم
په غم کښې زوږ د خوشحالۍ نه ورته ځوان شمه زۀ
د یار په در کښې خوب د زمکې ته بادشاه کړیږی
ستا د یادونو په تخت کښېتم شاه جهان شمه زۀ
د هجر تاؤ چې رانه تاؤ شي سوزېدو ته قریب
د خوشحالۍ نه پرې د اوښکو چې باران شمه زۀ
په خوب کښې راشه که په ویښه درته ګرانه وی خبر
چې په کوم وختې د لیدو دې په ارمان شمه زۀ
هر یو ساعت د جدایۍ لکه قیامت دے په مونږ
په فکر فکر دې سرو سترګو ته حېران شمه زۀ

د صدیقي پورې کړه صبر بیا خوشحاله به شې
که وار خطا شوې بیا به دلته په تاوان شمه زۀ



ukhto.net

ستوري د اسمان دي په ماښام کښې ننداري کوي
ښکلي ښکلي سترګي چې دي ما ته اشاري کوي

غـم دي خوراکـه ده د فکرونـو اسـوېلو سـره
بې لـه تـا نـه هـر يـو زمـا غـم د ګزاري کـه وي
دا رنګي بېلتون کښې د قيامت نخښې څرګندې دي
سـوي سـوي زړونـه زمـا سـتا ورتـه بـارې^ کـوي
لـوظ تيېنګـوّل د مينـې حق د بنـده غـوارې تـل
څوک چې وي بې پتـه دے خوېونـه د پـارې کـوي
مـونږه تـورې وران يـو بـل اخيسـتي پـه تقديـر سـره
ګـوره خـوا ؤ شـا تـه چې د مينـې اجـارې کـوي

تـهٔ د صـديقي وصـيت پـوره پـه پـاتې عمـر کـړه
هسـې نـهٔ چې بيـا ئـې زړهٔ د وينـو فـوارې کـوي

^ مورچې



ukhto.net

زمکـه تـوده شـوله قهریـږی هـم اسـمان خفـه د ے
یمـه غمـژن را معلـومیږی چـې جانــان خفـه د ے

بلــبلان غلــی د ښــکاری د جــال د ویــرې ژاړی
څـوک بـه کـوګی د ګلـو اخلـی ګلسـتان خفـه د ے
پـوزه راکاږمــه پـه زمکـه تـورې ګټـې ښـکلوم
ذرې ذرې د درده پــروت یمــه درمـان خفــه د ے
پـه نـا پـوهی یـم سزاوار مګـر پـه سـود مـې یقیـن
یمـه حیـران پـه هـر څـۀ پوهـه د نـادان خفـه د ے
چـې خوشـحالیږی پـه ژړا مـې اوښکې وینې بـه کـړم
نه ده معلومه چې پـه سـود کـه مـې پـه زیـان خفـه د ے

پــه هــره ســخته کــوی صــبر نــا اُمیــده نــۀ د ے
د صــدیقی پــه حوصــله بانــدې شـیطان خفــه د ے



ukhto.net

په مال و سر چې څوک ویرېږي یار به څنګ اونیسي
چې اناالحق وئیلې نۀ شي دار به څنګ اونیسي

په ګرمو اوښکو او په وینو اوبه خور چې نۀ وي
هغه شجر د چا د مینې بار به څنګ اونیسي
چې بې خطره سفر نۀ کړي د دلبر په طرف
چونتې کوُل څۀ کړې د زلفو تار به څنګ اونیسي
د چا چې صبر حوصله په جدایي کښې نه وي
چې وار خطا شي د رقیب ګزار به څنګ اونیسي
شراب د مینې چې کاسې ته په مقدار اچوي
د ښکلو سترګو د نشې خمار به څنګ اونیسي

چې احترام د محترم د چا د فکره اوځي
صدیقي وائي هغه ښغه لار به څنګ اونیسي

زۀ کــه د زړۀ حالونــه اووايــم نــو تــا بــه ســبزي
کـه ئې پټومـه تـا تـه ئې نـه ويمـه نو مـا بـه سـبزي

د زړۀ په صدق د خدائے پاک په کړو دې صبر اوکړه
سـتا دغـه صـبر د دشـمن هـره منشـا بـه سـبزي
پـه هېوادونـو شـوم جـدا خـو حوصـله پخـه کـړه
بـې وفـائي نـه ده هرګـز زمـا جفـا بـه سـبزي
دې خوږې مينې تـه زمـا او سـتا چې اوګوري څوک
عاشـقان څۀ چې د مجنـون سـره لـېلا بـه سـبزي
وصال که نۀ دے د فراق د خونده زيات خو نۀ دے
مينـه کـره کـړي د شـکوک هـره سـودا بـه سـبزي
ختلـي نمـر تـه چې هـر چـا پـه احتـرام اوکتـل
مطلـب پرسـت دي د غيـرت سـره حيـا بـه سـبزي
سـترګې د زړۀ دې لـړې پورتـه کـړه چې مـا اووينـې
دغـه نظـر چې د هـر غـم سـره سـودا بـه سـبزي

صـديقي تـا د لـوئے الله پـه پاکـه زمکـه غـواړي
د جـدايۍ دا اوږده پـړي پـاک الله بـه سـبزي



پښتو علومپال
ukhto.net

دا څۀ شو خزانه که د دیدن زما نه لاړه
که غواړې زما خبر نو دا د پاک الله نه غواړه

د زړۀ قطرې مې تا ته په پنځه مجمو کښې ایښې
په خپل بورجل کښې ناست ئې ته زما غوندې په شاړه
ریښتیا مینې ته ګوره چې ژړا زما نصیب شی
که ژاړې ښکلې ژاړه خو په صبر صبر ژاړه
چې څنګه درله رب درکړے خوئے او رنګ صفا دے
خوږې خبرې تل کوه چې ژبه نه کړې لواړه
هیڅ ګرم نه یم په چا که مې دشمن شی واړه قام
متاع د تهمتونو دې وې تل زما په غاړه
زما په مال و سر باندې داوونه هر سړی کړو
چې لاس مې شو خالی ملګرو کښېښنښوده غاړه
نن تیز په ډیلی د هغه خلقو نه ماتیږی
چې وګی ئې تښتولی دی د هر سړی د تراړه

ژوندون د صدیقي په مینه ستا ګلِ ګلزار دے
ستا مینه ورسره وی که وی ورانه که ویجاړه



ukhto.net

روغ نۀ یم لېونے یمه چې ستا جمال مې اولید
بیا ستا د پاکې مینې محبت کمال مې اولید

مطلب هر یو پوره کړه بیا په شا باندې روان شه
بې شانه د هر یو په نظر خپل زوال مې اولید
ستا چرګ یمه خو واوره چې حلال مې چرته نۀ کړې
هر څو که منزرې وو سراسر شغال مې اولید
شکرونه پرې اوباسه چې نا شکره چرته نۀ شې
حرم د پاک حبیب درګاه د ذوالجلال مې اولید
ما ځان پله راکاږي خوزېدلے چرته نۀ شم
کوم وخت چې په ګوګل کښې بیا د زلفو جال مې اولید
لوانده د بنهو غشي چې دې پورته کړو جانانه
نا څاپه چې مې اوکتل په زړۀ نهال مې اولید

بې ستا نه صدیقي وائي رنځور غوندې ګزران دے
شي جوړ به بې دریغه ستا په سر که شال مې اولید



pukhto.net

چې نه وو د کړېدو هغه زړګے اوکړېدو
د ګل په شان په مخ ئې ګُور کمان اودرېدو

چې وخت وو د وصال نو وو مضبوط لکه فولاد
د هجر زلزلې شوې وارخطا اونړېدو
نا اهله مې پالل زه خبر نه ووم ستا دپاره
دا ځکه په تا راغلو په ځوانۍ کښې زړېدو
يو داغ د جدايۍ وو سپی لانور درنه چاپېر شو
يو غم لاختم نه وو چې بل غم اوغړېدو
دا ګرانه جدايي راته تقدير کړله راپېښه
وو زړونه زما ستا چې په يو بل نه مړېدو
په ډېره مينه تا ته چې اواز به ئې کؤو ښکلي
بې واره په سلګو دې هغه يار اوژړېدو

رضا د صديقي نه وه ګوګله مجبوري وه
د سرو ګلونو باغ چې دې بې وخته شړېدو



ukhto.net

نۀ مې لوئې سینه زور شو پکار
نۀ مې عزیز او نۀ مې رور شو پکار

ما که تاله کړو سر و مال په تولو
نۀ مې څۀ نقد نۀ مې پور شو پکار
چې ئې په کور او په صحرا خوږلم
نه د دوستانو هغه تور شو پکار
په خان مې نۀ وو چې په چا مې وو سود
نن د هغې وینې پېغور شو پکار
چې د مطلب دپاره ئې رور وومه زۀ
ډېر سپک نظر د هغه خور شو پکار
هغه خوانان لا په دې برېت تاؤهی
پلار ئې دشمن او نۀ د مور شو پکار

په یخو اوبو کښې ئې نصیب به نۀ وو
د صدیقي د هجر اور شو پکار



ukhto.net

د خپلـــو هتکـــړو او د زنځيـــر ســـره جنګيـــږم
اوس ګورو چې څۀ کيـږي د تقـدير سـره جنګيـږم

په خپله پاتې کړے مې نور ځائے د ګيلې نۀ دے
د خپلـــو عـــادتونو او ضـــمير ســـره جنګيـــږم
خوبونـــه د نفـــرت مـــې تښـــتولی دی د ځانـــه
ميـدان د پرځولـو کښـې شوګير سـره جنګيـږم

پــازه رابانــدې نــوره د دروغــو ســحر نــۀ کــړی
پــه دې کښــې د مریــد او هــم د پیــر ســره جنګیــږم
پــه تېــر ســاعت پســې چرتــه ارمــان مــې پــه زړۀ نشــته
د نــن د ســپکاوی ښــکلی تــدبیر ســره جنګیــږم
چــې خپــل وو پــه ځــائے پاتــې شــو پــردی پــه مخــه لاړل
پــه فکــر کښــې ئــې ولــې د تصــویر ســره جنګیــږم
نــا اهلــو مــې زړۀ دومــره ټکــوُلے د مخلــوق دے
دا ځــۀ رابانــدې اوشــو د قجیــر ســره جنګیــږم
پــه مــا چــې ایرابــې کــوی پــه خپلــه بــه شــیره شــی
جــرات مــې دومــره شــته چــې د پــامیر ســره جنګیــږم
د فلان دامــان پــه شــانتې پــه خښــتګ کښــې وی لــوئے شــوې
پــه کــور دننــه ویــۓ د عــالمګیر ســره جنګیــږم
چینــدخ لُوتــې تــه اوختــو کشــمیر ورتــه ښــکاره شــو
ښــۀ نــۀ ده چــې د داســې هــوا ګیــر ســره جنګیــږم
دا واوره شــېخ فریــده چــې خُلــه پټــه بهتــری ده
بــد ښــکارمه پــه دې چــې د خنزیــر ســره جنګیــږم

وینــا او پــه عمــل کښــې صــدیقی ئــې فــرق اولیــد
بیــا نــور ولــې د دا رنګــې تحریــر ســره جنګیــږم



pukhto.net

پـه مـا د پېرزوېنـې چـا او نـۀ کـړه اوازه
معلومـه راتـه نـن شـوه د دوسـتانو انـدازه
د هجر په صحرا کښې بـه تـر هغـې پـورې ګـرځم
تنـاکې چـې د پښـو مـې وچ ازغـی نـۀ کـړی تـازه
کـه سـتاد دلـورې حکـم شـو جانانـه خـو بـه درشـم
جنـت بـه قبـول نـۀ کـړم د بـل چـا پـه مـلازه
دا نـن پـه څوارلسـمه چـې د غـره پـه سـر خلیـږی
سـپوږمی وه کـه د یـار پـه مـخ مـې اولیـده غـازه
نیکـی بـدی مـې چرتـه نـۀ هېرېـږی د دوسـتانو
کـه سـر مـې لګېـدو تـه شـی د قبـر پـه خـازه
ازغـے یمـه پـه سـترګو کښـې د هغـه شـریفانو
ورکـړی چـې مـې چـا لـه د زړګـی نـه تـرازه
نـن هغـه خلـق وینـم پـه شـرابو کښـې لـوبیږی
خـوړه چـې بـه ئـې پـلار پـه ډېـره مینـه دوپیـازه
منتـر د جـادوګرو کـه چـاپېره شـی زمـا نـه
بـې سـتا د دؤو سـترګو پـه مـا نـۀ کـوی پـازه
ولاړ پـه انتظـار کښـې واړه تـور ډکـی ئـې سـپین شـو
کـه غـږ پـه صـدیقی اوشـی یـو ځلـې چـې راځـه



ukhto.net

د غم سره اشنا چې وی غمونه پرې راځي
د مینې په سفر کښې تندکونه پرې راځي

وفا جفا د مینې دوه لازم ملزوم حصې دی
د یار د لورې خبر دے که ظلمونه پرې راځي

دا نن چې ئې لوټکے د اوبو ډک په لاس کښې وینې
سبا له به وی تش دغه داوونه پرې راځي

چې سر ته د غره اوخېژې اخر ترې کوزېدل وی
دنیا کښې رنګا رنګ غونډې وختونه پرې راځي



pukhto.net

تول عمر د ارام د چا د مور په غېږ کښې نۀ وی
انسان چې وی د سختې منزلونه پرې راځی

فرعون او د قارون قصې په پاک کلام کښې ګوره
چې څۀ وو وروستو څۀ شو عذابونه پرې راځی

په حقه چې دعوه د کوم بشر د غلامۍ وی
په در کښې د رحمان پنځه سوالونه پرې راځی

په سپک نظر غریب ته کتل بد وی دا مې واوره
اخر به دې یو خل چرته وارونه پرې راځی

د یار د در نه چرته ئې زړګے په بېرته نۀ ځی
د تورو زلفو وینمه جالونه پرې راځی

وصال وو صدیقی وو د هجرانه خبر نۀ وو
ګرېوان ته ئې اوس ګوره چې رودونه پرې راځی



ukhto.net

د تولو خلقو په ایمان پوهه شوم
ښهٔ ده چې اوس په سود او زیان پوهه شوم
بیا به غلط په خوشامندو نهٔ شم
ځکه په هر یو بې ایمان پوهه شوم
واړه تازیان به وو چاپېره زما
لکې په شالاړو په ځان پوهه شوم
د رور عزیز او د تربور ځهٔ ګیله
د خپلې وینې په تاوان پوهه شوم
باغ وو سمسور تشه جولۍ ترې راغلم
زهٔ چې په نیت د ګلستان پوهه شوم
د سرو مېرو نه به چمن جوړوی
د خپلو اوښکو په باران پوهه شوم
ځکه په ډاګه ترې دریغ کوُمه
چې د نا اهلو په ګمان پوهه شوم
ما ترې زخمی زړګے په دې جرنده کړو
د ډاکه مارو په تالان پوهه شوم
دصدیقی چې ته نصیب شوې ښکلې
بیا شو پوره په خپل ارمان پوهه شوم



pukhto.net

د ژوند یوه ګړۍ وه چې تر کومه پورې لاړه
د غلـه د سر شړۍ وه چې تر کومه پورې لاړه

بې ستا او ستا زما نه عجب ژوند د تماشو دے
د زهرو یو نمړۍ وه چې تر کومه پورې لاړه
د سترګو نه توئیږی زۀ ویم وچې به شي خدایه
د اوښکو یو چړۍ وه چې تر کومه پورې لاړه
منزل په تصور کښې مخامخ او بیا فنا شي
د طمعې یو لړۍ وه چې تر کومه پورې لاړه

حلقه د محبت د صدیقي د زړۀ چاپېره
ناشنا غوندې کړۍ وه چې تر کومه پورې لاړه



ukhto.net

پـه سـر د دار چې ختـې نهٔ شـې محبـت او نـهٔ کـړې
پـه خپـل نصـیب چې د هجرانـه شـکایت او نـهٔ کـړې

د تهمتونـــو د بارانـــه ګيلـــې مـــه کـــوه تـــه
بيـا پـه چمـن کښې د وفـا بـه تـه زينـت او نـهٔ کـړې
د خـوږې مينـې پـه لـذت بانـدې بـه پوهـه نـه شـې
چې پـه مجلس کښـې تـه پـه نـره رقابـت او نـهٔ کـړې
رينښـتينې مينـه پـه دنيـا کښـې څـهٔ ويـړيـا خـو نـهٔ ده
مهـر د خلقـو چې پـه تـا وی د تهمـت او نـهٔ کـړې
د م نـه ډک جامونـه ښنــه هلـه ښـېرازه بـه شـې
چې د نـا اهلـو نـه اسـره د حـلاوت او نـهٔ کـړې
پـه ژبـه خـوږ پـه عمـل تـریخ بانـدې بـه څـهٔ غـولېږم
طمـع د دا رنګـې خبـر خـوا نـه د شـفقت او نـهٔ کـړې

فکـر کـوه ښـکلې پـه هغـه بانـد سـتومانه بـه ئـې
چې کـوم یـو کـار د صـدیقی پـه اجـازت او نـهٔ کـړې



ukhto.net

پټ تپوسونه دې د خوږ زړګي زما کوه تۀ
په صبر صبر کښې ژړا لکه خندا کوه تۀ

د سرو او سپينو د فقير نه چې اُميد او نۀ کړې
زما نه طمع د يوې لپې دعا کوه تۀ
لويو وړو ستا په تهمت کښې لېونے کړمه زۀ
دا مې وصيت دے چې خويونه د لېلا کوه تۀ
ما امانت درله درکړی په چا کار مه لره
د پنځه ګلو سره ځان له مشغولا کوه تۀ
کور هغه کور دے خو له تا نه پکښې ورک شومه زۀ
که دې بيا نه موندم تپوس مې په صحرا کوه تۀ
که دې د سترګو نه فنا شوم په لېمو کښې به يم
بيا مې ديدن د زړۀ د سترګو په رڼا کوه تۀ
څۀ حاجت نشته چې تکرار د دې خبرې اوکړم
دغه مې سوال دے چې لږ خيال مې د حيا کوه تۀ

صديقي ستا په وفا هر چا ته منديل وهلے
په شرافت کښې لحاظونه د هر چا کوه تۀ



ukhto.net

اوزګار چې شم د غمه او ستا غم اوبه کړم
نو لاړ شمه په اوښکو پاک حرم اوبه کړم

چې لاړې مې په مخ د اوښکو نۀ وی نو دلګير يم
د زړۀ په وينو بيا د سترګو نم اوبه کړم
د زښړمو د چينو نه مې مشکونه دومره ډک کړل
کور څۀ کړې چې د کلي هر يو چم اوبه کړم
لېمې مې غوړولي دی يو څو قدمه راشه
زخمونه رانه ورک شولو مرهم اوبه کړم
غماز په وسوسو کښې چې جارباسی مې له تا نه
د رحم په بوسه ئې د صنم اوبه کړم
چې ګل مې د ګوګل د مينې مړاوے شی رنا کښې
د فکر په تناؤ ئې په تورتم اوبه کړم
خزان د وفادارو د چمن نه لرې تښتی
دا ځکه په خلوص ئې دم په دم اوبه کړم

زۀ هغه صديقي يمه که خيال دې راته اوکړو
د ګټې نه سخت زړونه په قلم اوبه کړم


pukhto.net

زمـــا د لوڅـــو پوڅـــو بـــه در رســـی خبـــر څنګـــه
تیریـــږی بـــې زمـــا نـــه پـــه تاســـو عمـــر څنګـــه

زۀ دلتـه پـه هجـران کښـې تکـې کبـاب کبـاب شـوم
پـه داسـې جـدایۍ کښـې پـه تـا وی اثـر څنګـه
تـاؤده تـاؤده بادونـه چـې تـاؤ د کـوم شـجر شـی
غـوټۍ چې ئې ګل نۀ شی نیوے شی ثمر څنګه
د زړۀ پنځـه قطـرې مـې خپـل سـاه تـه حوالـه کـړې
اوس عمـــر وې تېریـــږی د کـــوره بهـــر څنګـــه
جامې چې د حیا ترې اوباسی ساعت په ساعتې
رایـاد پـه داسـې حـال شـی پـدر تـه پسـر څنګـه
شفقت چې پکښې نۀ وی غېرت چې پکښې نۀ وی
بیـا فـرق بـه معلـوم شـی د ښـځې د نـر څنګـه
اقـرار د ژبـې غـواړی تصـدیق د زړۀ مـومن شـی
ماښـام چـې لـوظ اوکـړی بـدل شـی سـحر څنګـه

نـور پرېـږده چـې څـۀ وائـی بـه وائـی صـدیقی تـه
چـې ښـۀ وو کـه ناکـاره دے سـتا پـه نظـر څنګـه



ukhto.net

هر څۀ که ویمه خو مې شاد خوښېږی
په کومه ژبه دې فریاد خوښېږی

منصور خندا کړله او دار ته وخوت
کار د مجنون که د فرهاد خوښېږی
ما په امان کړې یم په سختو رضا
چې د نمرود او د شداد خوښېږی
تو یه د ظلم او زیاتی ده زما
خبر دے که دلته کښې جلاد خوښېږی
څوک ترې په کور کښې شپه او ورځ پتېږی
د چا جانان په بل بلاد خوښېږی

د پاکې مینې دا ثبوت پوره دے
ستا صدیقي غوندې نامراد خوښېږی



pukhto.net

○

د عمر په سفر کښې سر وهلے غونډې ګرځم
چې ته راته راياده شې نو غلے غونډې ګرځم

د زړۀ سترګې چې اوغړومه ته راته ښکاره شې
يو آه مې د خُلې اوځى زړۀ چاؤدلے غونډې ګرځم
په فکر کښې چې ستا سره د راز خبرې اوکړم
د غم د سمندر نه بيا ختلے غونډې ګرځم
شمو نه د طارقه پورې تاسو خوب کښې وينم
د خوبه چې راپاڅمه نو ښکلے غونډې ګرځم

دا ژوند د صديقي دې رب حساب نۀ کړى په ژوند کښې
چې ستا په جدايۍ کښې زۀ ويشتلے غونډې ګرځم



ukhto.net

جذبه ده ستا د مينې چې په اور کښې مې ساتي
خو شحاله يم په دې د يار په تور کښې مې ساتي

ختې پورې وتې شمه په غرونو په سيندونو
د نرې حوصلې سره په زور کښې مې ساتي
رضا يم په قضا په خُله به اُف اونه کړم چرته
بهر که په صحرا او که په کور کښې مې ساتي
زۀ ستا مينې ته ګورمه په ما څۀ اثر نۀ وي
په غېږ کښې د دشمن او که د مور کښې مې ساتي
تاله مې کړله پنګه د ژوندون په حراميانو
که خپل دے که پردے خو په پېغور کښې مې ساتي
ګرېوان مې د حيا شو تار په تار په بل وطن کښې
يادونه دې په دې کښې هم په سور کښې مې ساتي

تېروم د بې عرضۍ عمر په صبر ستا په پټ کښې
دا څنګه صديقي دے چې په شور کښې مې ساتي


ukhto.net

چې شک او نهٔ کړې چرته د هر خوا نه دې زاریږم
وصال خو دې وصال دے د هجرا نه دې زاریږم

د دهر شرمخان را پسې گرځي لور په لورې
غیرت او حوصلې سره د توا نه دې زاریږم
مجرم یمه هرگز په دې کښې تا ته گناه نشته
شوې قید زما په پټ کښې د زندا نه دې زاریږم
باران د تهمتونو په تا عمر له وریږی
د ښکلو ښکلو سترگو د بارا نه دې زاریږم
نور سترگې پټې زهٔ ئې د زړگی په سترگو وینم
د مینې د عظمت او د لوئے شا نه دې زاریږم
د اوښکو ډکې سترگې دې په وخت د جدایۍ کښې
پرته مې په گوگل وی د ژړا نه دې زاریږم
ذرې ذرې وجود مې ستا په مینه باندې پائی
خلوص سره شفقت او د وفا نه دې زاریږم
هر څهٔ چې راته وائې تا ته ئې نا وئیلې نهٔ شم
د سترگو په لیمو کښې د فرما نه دې زاریږم
د خلقو دشمنۍ وربانډې دومره اثر اوکړو
جانان د صدیقی شو د جانا نه دې زاریږم



ukhto.net

پـه کومـو ګوتـو د زړۀ سـره تـا تـه خـط اولـیکم
چې تـا تـه نـه لـیکم نـو وایـه چـا تـه خط اولـیکم

سـتا پـاکې مینـې تـه سـلام د محبـت کـۀ مـه
د زړۀ پـه وینـو بـه زۀ سـتا وفـا تـه خـط اولـیکم
چـې تـرې شـرمیږی د غـانتیول او د نـرګس ګلونـه
د هغـه سـترګو شـرابی حیـا تـه خـط اولـیکم
د بـل د کرکـې سـتا د مینـې ډمـامې وهمـه
پـه شـکایت کښـې بـه شـاه وګـدا تـه خط اولـیکم
پـه غرېـدلو چـې دې وینـم زمـا سـود بـه اوشـی
چې ستا پـه غېږه کښې زۀ سـتا ادا تـه خط اولـیکم

تـه ځولپـه د دغـه یـادو پـه تکـل ئـې مـدام
چې صـدیقی غونـدې یـو بـې نـوا تـه خط اولـیکم


ukhto.net

خبر که په یارۍ کښې مې کارونه د جفا دي
ستا خو سراسر د محبت او د وفا دي

دومره صبر اوکړه چې په دنګه غړۍ د رشم
سترګې چې یو ښکته وي د رتله مې ناروا دي
ته خو پښتنه ئې خان کړه پوهه چې پښتو څه ده
یو ئې دشمني او بل غیرت ئې په معنی دي
ماشتې او کلونه انتظار په مینه بوج نه دے
ته وایه جانان مې راځي نن او که سبا دي
ژاړه خو په زړه کښې خوا چې یخه د دشمن نۀ شي
خوا ؤ شا ته خلق درته ټول په تماشا دي
ما درته غنچه د پنځه ګلو امانت ایښې
ستا خو نوبهار دے زما شپې ورځې تنها دي

بیا یواځې نۀ دے کړي شکرونه پرې خوشحاله دے
هر ځائے صدیقي او چې راجو ده سا په سا دي


ukhto.net

چا بختور او چا خواران لوئې کړې
ما په لستوني کښې ماران لوئې کړې

اوس که مې نوم چرته په ژبه نۀ اخلې
خود چې مې دا قسم ياران لوئې کړې

لکه د سين روان شو اوبه نۀ راځي
خود چې مې دا رنګې ياران لوئې کړې

دا چې په هر ځائې کښې جامې مې شلوي
دا خو په دې چې مې خاران لوئې کړې

يو نۀ دے خلقه چې ګيله ترې اوکړم
صديقي داسې هزاران لوئې کړې



ukhto.net

هر څو که په سلګو جدا د یاره شومه زۀ
خو ستا د فیصلې څخې ناچاره شومه زۀ

سا دین ته د هجران لمبتی مې اوترل د اوښکو
محروم په دې دپاسه د ګلزاره شومه زۀ
په سچه مې ارام هر ځائے په ځان باندې حرام کړو
ما څومره چې کوشش اوکړو بېکاره شومه زۀ
مزل د بې اسرې او ترګمې ذرې ذرې کړم
مشکور یمه په دې په سمه لاره شومه زۀ
زۀ وینم خوارونه راوځي ترې بې حسابه
جولۍ تشه بیا څنګه د انباره شومه زۀ
چا زړۀ چا په ځادر او چا په څښو کور ته یوړل
صرف پاتې بې نوا خو د واکداره شومه زۀ
ته ښۀ ئې ستا د شانه مناسب دی چې دا اوشی
بنده یمه دا پریږده که ناکاره شومه زۀ
سر ږدمه ستا په در او ستا د امن په جولۍ کښې
حیران یمه په دې کښې سزاواره شومه زۀ
د سیند په غاړه ترږے صدیقي په لمغړو دے
په دې لویو وړو ته شرمساره شومه زۀ



ukhto.net

رایـــاد چـــې ســـلوکونه د زمـــان و زمـــن شـــی
جـاری مـې پـرې د سـترګو نـه ګنګـا و جمـن شـی

چې ستا په در کښې خاورې شی نو هغه بختور وی
زۀ ویـم پـه حقیقـت کښـې چـې عقیـق د یمـن شـی

کـه نـه ګریـږی خـان پـه ګرېدو بانـدې سـالو کـړی
هر کس چې ستا د مینې په مرض کښې پمن شی

رېبار چې خوا له راشی اوستا سوال ځواب اونه کړی
بیـا ډکـه د افسوسـه مـې د اوښـکو لمـن شـی

غمونـه رالېږه پـه خوشـحالۍ بانـدې ئـې وړې شـم
درنېـږی پـه مـا نـۀ د چتـاکۍ نـه کـه مـن شـی

ورځ هغـه بـه اختـر پـه صـدیقی شـی سـتا د لـوری
روان کـه وریسـې چرتـه وارنـتې و سـمن شـی



ukhto.net

چاپېره د کعبې نه په سوالونو کښې روان
بهر چې شم نو ستا یم په خیالونو کښې روان

ارمان د سوی زړۀ به مې پوره په هغه ورځ شي
چې دواړه د یثرب شو په ګلونو کښې روان
په دې خزان وهلی چمن بیا به نوبهار شي
چې لاس په لاس کښې یو شو په سېلونو کښې روان
نوم چرته به په خُله د ازادۍ باندې وا نه اخلم
د زلفو که دې بیا شم په جالونو کښې روان
عجیبه تماشه وی یو تر بله مشغولېږو
کوم وخت چې شم د فکر په تالونو کښې روان
یو بل ته به ځان څنګه مخائی په محبت کړو
یو دواړه د فرقت په منزلونو کښې روان

مجنون ، فرهاد به غږ اوکړی لېلا او شېرینۍ ته
راجو او صدیقی دی په شالونو کښې روان



ukhto.net

○

پـه پـټ کـښـې دې جانانـه بـې وطـن شـمـه نـو څـۀ
کـه سـتـا پـه سـر د خلقـو زۀ دشـمـن شـمـه نـو څـۀ

زۀ سـتـا يـم تـه زمـا ئـې هـر تکليـف مـې خوشـحالي ده
بـې سـتـا کـه ملغلـره د عـدن شـمـه نـو څـۀ

لاهـو مـې شـو خـدمت او مـال پـه تېـره زمانـه کـښـې
ددې نـه پـس کـه بيـا ئـې زۀ خـوږمن شـمـه نـو څـۀ

بادشـاه پـه بـل وطـن دې شـي چـې را نـۀ شـي پـه بېرتـه
کـه مشـر د وربرونـو او زامـن شـمـه نـو څـۀ

زۀ ګرځـوم هـر ځـائے د تهمتونـو هـار پـه غـاړه
داغـداره ځـائے پـه ځـائے بـه پـه لمـن شـمـه نـو څـۀ



ukhto.net

بې وخته جدايي مې په هيڅ اثر او نه کړو
د کوره بې اسرې که په رفتن شمه نو څه

د سر سترګې چې پټې کړم د زړه سترګو له راشې
لېواله په فرقت که د ديدن شمه نو څه

د سپکو کتو چا ته څه ګيلې منت او نه کړې
چې ستا ګټه او نه کړم که تورزن شمه نو څه

غېرت په بيعه نه دے چې ځان خرڅ کړم دوئ له واخلم
هر څو که بې کينو ته په ګفتن شمه نو څه

د چرسو عاشقان به مې هرګز قدر او نه کړي
نافه په خوشبويي که د ختن شمه نو څه

د سختې صديقي ملګرے نشته په دنيا کښې
که مړے په ژوندون کښې د کفن شمه نو څه



ukhto.net

زما د زړۀ باغچې لره بلبل نۀ شو پېدا
هر څو که زۀ بلبل شومه نو ګل نۀ شو پېدا

خدمت په مال و سر د هر مريض چې کړے ما وو
کوم وختې چې مريض شومه اجمل نۀ شو پېدا



pukhto.net

دنیا مې واړه چاڼ کړه په تلاش کښې د خلوص
په سم په غره صحرا کښې په ځنګل نۀ شو پېدا
د مینې د حدونو تېروتل زما ګناه ده
د ترس په ما ځکه یو ګوګل نۀ شو پېدا
الحبُ جانبینِ والبغض هکذا
زما په برابر خو دا متل نۀ شو پېدا
د زړۀ په غوښو لوښې مې کړو تیغک په ډېره مینه
په برخه چرته باز مې په منګؤل نۀ شو پېدا
لاس ورکړمه په مینه خو لستوڼي ما له راکړی
خوا خوږے مې ترا وسه تر ازل نۀ شو پېدا
ټول چاڼ مې خپل پردی کړلو د فکر په غلبېل
مخلص په ډېره بربت او په وربل نۀ شو پېدا
لویغاړی راپسې دی پشی شا مې زېلي ریبی
تپوس چې ترې کؤمه پکښې غل نۀ شو پېدا
دپاره د نااهلو په لټو لټو به ګرځم
زما دپاره یو پکښې بسمل نۀ شو پېدا

چې ګټې زړونه موم کړي صدیقي هله قهرېږه
خو ستا په یو کتاب کښې دا غزل نۀ شو پېدا


pukhto.net

جانانه چې تر اوسه ستا په ما یقین او نۀ شو
بیا چرته اعتماد خو په دې سرزمین او نۀ شو

ما خان د مجبورۍ په هر یو ګګ هسې سالو کړو
نعرې وهی چې ما له په کوګۍ ګبین او نۀ شو



ukhto.net

په توک وهلے عمر په دګی د قصابانو
ښکره په دنیا ثواب زما په دین او نۀ شو
په سر که ئې ګرځومه پښې ئې نه لګی په زمکه
قهریږی چې سؤرلی له زما اس او زین او نۀ شو
محنت مسافری کښې یم روان په لوځو پوځو
یو ټکې د نیکی مې په سپېره جبین او نۀ شو
ما عمر ګانه کړے دا مې خیال دے چې به خرڅ شی
بیا وائې لا په دې خو زما جام زرین او نۀ شو
خدمت چې نن د چا اوکړم سبا هغه منکر وی
زما په برخه یو د چا قیاس قرین او نۀ شو
د چا نه ټکوم سر د چا نه اوکړمه فریاد
هیڅ شمار د بې وفا په ایک ، دو او تین او نۀ شو
په خوینده مینده ښځو که ئې اوکړل منتونه
اثر د معافی په حرامی لعین او نۀ شو
نن روغه سبا ورانه دا خاصه د منافق ده
په تور زړۀ ئې په عمر کښې یو ټکې سپین او نۀ شو

په صبر فیصله صدیقی اوسپاره الله ته
د فکر په دالان کښې دې یو ډکې شین او نۀ شو



pukhto.net

نهٔ ځم بوټ کوټي ته د سود ډکو اشارو ته ځم
زار چې ترې خوبان دی هغه سترګو خمارو ته ځم

چرته په محل کښې مې د مينې درک بيا نهٔ موند
ځکه لېونے شوم د مجنون سره مېرو ته ځم
ستا د عشق په سيند کښې که ګوډو او که لامبو وهم
خوښ يم په غولو کښې هغه نه يم چې کنارو ته ځم
لاړ د عافيت رقيب د مينې په منزل لټيږ
ما چې لګړه کيږنو زهٔ به هغه شرارو ته ځم
چا ته به خندا چا ته خوږې خوږې خبرې کړې
ما چې پرې رټې زهٔ به ئې شونډو چوارو ته ځم
قصر د محل او د شاهانو لاس په سر يمه
نُور چې پرې وريږي زهٔ اوس هغه مُنارو ته ځم
هر فرعون د دهر او قارون ابن الوقتي کوي
نهٔ ځم او که ځم نو بې نوا او بې اسرو ته ځم


ukhto.net

خان لـه کـه بې کـاره یـم دبـل سـړی د کـار یمـه
اخلـم دعاګـانې داسـې نـه ویـم چې ښـېرو تـه ځـم
نـه لګـئ الـزام صـدیقی خپلـه تجربـه وائـی
سترړے شوم بې شانه اوس د پېرښو نـه نرو تـه ځـم
آثـار راتـه ښـکاریږی خپـل مقـام تـه روانېـږم
خبـر نـۀ یـم سـحر او کـه ماښـام تـه روانېـږم
د خپـل عمـل د لاسـه شـونډې وچې تـږے ګـرځـم
د رحـم سـمندر علـی الـروام تـه روانېـږم
فانی ژوندون مې ختم د شېطان په خوشحالی کړو
د فضـل و کـرم عمـر بالـدوام تـه روانېـږم
هـر څـو کـه خطـا کـار او ګناهګـار او سزاوار یـم
ایمـان مـې پـه وحـدت دار الـسلام تـه روانېـږم
یـاران او عزیـزان راپـورې ښـتـې شـرموی مـې
سـردار د شـفاعت خبـر الانـام تـه روانېـږم
چې پورتـه پـرې روان وی ښـکته نـه پرېږدې چرتـه
پـه مینـه بانـدې هغـه در و بـام تـه روانېـږم

صدیقی وائی عاصی یم نـا امېده ستا نـه نـۀ یـم
یقـین مـې دے پـه تـا او سـتا انعـام تـه روانېـږم



ukhto.net

ستا په لمسون رانه ملګري په چل پورې وتو
رقيبه تا ته مې د تولو بدل پورې وتو
د کرکې حد ته زلفې ، سترګې ، شونډې اورسېدې
د شرافت د هر مقام نه کجل پورې وتو
چا چې منلے هر قدم پلِ صراط په دنيا
ډېر په اسانه د معروف په عمل پورې وتو
منافقت او صداقت په عمل ځان پوهه کړه
د رب د در نه پردې پاتې شو خپل پورې وتو
بډې رشوت ، دروغ ، غېبت د اخرت تاوان دے
کوم ضدودت پرې د رهزن او د غل پورې وتو
رب ته قارون به کړي په ګوته موجوده مسلمان
ستا مسلمان خو د دولت په نهل پورې وتو
بې حيائي بې حجابي جونو تهذيب اوګنهو
ښکاري په مهر په رباب و دهل پورې وتو
صديقي کېږي به حساب د خېر و شر په ډاګه
داسې به نۀ اورې چې ساز پاتې شو غل پورې وتو



ukhto.net

# قطعات

هر څوک چې ګناهګار وي توبه ګار شي رحیم ته ئې
په صدق په خلوص په استغفار شي رحیم ته ئې
بنده کوی خطا چې ستا د رحم نظر اوشي
بې شکه بیا د هر څهٔ نه اوزګار شي رحیم ته ئې

×××××

هر څوک چې په اقصی کښې د نبیانو امام وي
پرې ستا د ملائکو تل درود و سلام وي
سرور د کائناتو په دنیا و آخرت
یو ته ئې لاشریک پاتې صفات پرې تمام وي

×××××



ukhto.net

چې ستا ثنا صفت نه وي په ما کښې دم دې نۀ وي
هرګــز متحــرک مــې دې پــه لاســو قلــم نــۀ وي
د اوښکو په اودس ولاړ کـه پـروت پـه نیمـه شـپه وي
خــو عفــو د یــو کــس بــه بغېــر ســتا د کــرم نــۀ وي

×××××

تپـوس د سـپکاوي چـې د خپـل پـلار کـوُلے نـۀ شـي
غېـرت پـه نـام ونـنـګ بانـدې یـو کـار کـوُلے نـۀ شـي
اسـره چـې ئـې پېسـه وي د خـدمت جذبـه ئـې نـه وي
عــلاج هغــه طبیــب د یــو پیمــار کــوُلے نــه شــي

×××××

څوک ناست وي په ښېنکونو څوک په ګوټ کښې ئې شماري
څـوک څښـي پـرې شـرابونه څـوک کـوي پـرې جـواري
خـور رور او یـار اشـنا تـه د مطلـب پـه سـترګو ګـوري
مـور پـلار چـې ئـې زاړۀ شـي د ګرنـګ ئـې ګـزاري

×××××



ukhto.net

که تور پلوؤ ته دې د چا اوکتل
لوپټې سپینې به داغدارې دې شي
که تهٔ د بل په عزت لاس اولګے
حلالې تا باندې مردارې به شي

×××××

مینه په سوچ نهٔ په لېونتوب باندې کېدے شي
قدر د سړي په سړیتوب باندې کېدے شي
ښونه چې رذیل ته کړې سنده ته الاهو ده
نه شي په منت خو دا په چوب باندې کېدے شي

×××××

د دنیا په مال کښې دومره حصه دار ئې
څو چې اولېږه دې مخکښې اخرت ته
پاتې مال د وارثانو دے ستا نه دے
که پوهېږې شي به پاتې شر شدت ته

×××××



ukhto.net

وي کـــه برخـــوردار يـــا د لغـــړې ســـينې يـــار شـــي
څوک چې بې وفـا وي په لستوڼي کښې بـه مـار شي
څۀ اُمېد تـرې کړې د زړۀ په ځائے چې د چا سګې وي
مرګ ترې ښۀ دے ډېر چې د نا اهلو سړے پلار شي

×××××

غټ وي او که کچ چې ئې د خپلې خوا نه لرې کړې
يـو ځلې کـه چا پـه سپک نظر د ځانـه لـرې کـړې
بيا کـه دې توکاري چې د سپي پـه شانې ور نۀ شي
تيـک هلتـه پـه تلـوئې د غېـرت حيـا نـه لـرې کړې

×××××

داسې خلق شته دے چې خپل خوري په کټوتې کښې
شـرم حيـا پرېـږدې د بـل غـوارې پـه چـاچې کښـې
خـان د بـل پـه ګټـه تيـز کنـدو کـړي نـۀ شـرمېږي
خپل وي که پردي وي هر څۀ غوارې په جولۍ کښې

×××××


ukhto.net

هر یو نیکي غود په سپیتوب نه حسابیږي
نن که په مستۍ کښې وي سبا له خرابیږي
خدائے رسول د حکم بغیر شته د نظرېي خلاف
نور په سپکاوي کښې د محسن به عذابیږي

×××××

ګورې پردي مال ته دا پردي غمونه پرېږده
خپله ګټه لوکره ناروا ستومونه پرېږده
ځان که پاکوې په سیند غوپه شه بیا ترې خېژه
نر شه د ډندوقي او چینو زیَمونه پرېږده

×××××

ځان له نهر کښېنه خو د بل د لاسه مه خوره
خېر دے که ته مړ شې د ارزل د لاسه مه خوره
نوم درباند د نر دے ښکته نۀ شې پرې شرمېږې
ډېر په ننواتو د وربل د لاسه مه خوره

×××××



ukhto.net

ننګ چې په خپل نۀ او پردي اوخوري بې غېرته وي
دغه کارنامه ئې توره نۀ خو د شامته وي
پښې شا کنځل او مخامخ چې سلامونه کړي
داسې خصلتونه ئې څرګند د رذالته وي

×××××

خبر که لوئې واړه راته په قهر که په ضد وي
داسې بې ایمانه که بې نیازه که مرتد وي
بد نه مدام بد د ښۀ نه ښۀ اُمېد کېدے شي
ښۀ به کوي ښۀ او بد به بد کوي چې بد وي

×××××

عمر له وي شنډې داسې بوټې مېوه دار نۀ وي
خبر که ترې پېدا شي چې یو خوې پکښې د پلار نۀ وي
سخته که راحته وي د پلار عمل ته ګوري
خورې چې په کوم لوښې کښې بیا غُل پکښې پکار نۀ وي

×××××



ukhto.net

څوک ځي په خلوت او څوک په زوګ او شور پسې ځي
څوک اخلي دشمن او بعضې رور په رور پسې ځي
چا کښې ډېر خويونه د خپل پلار او د نيکه نۀوي
څوئے د ثاني ادم غلط په مور پسې ځي

×××××

پېتې کوه چې په لحد ئې وړې شي
چې ويلې نه شي منجمد ئې وړې شي
په هر عمل کښې دې اصراف مه کوه
دومره نېکي کوه چې بد ئې وړې شي

×××××

د چا غريب او د چا خان پېدا شي
د چا ډنګر د چا انسان پېدا شي
د رب مخلوق دے ډېر افسوس دے په دې
خو د سړي نه چې شېطان پېدا شي

×××××



ukhto.net

د منافق سړی ښکلور نخښې دی
کله چې وائي دروغ خبرې کوي
وعده خلاف او امانت هضموي
د جنګ عمل د حد نه لرې کوي

×××××

پردو په ژوند کښې بد نام کړے نهٔ یم
خپلو خپلوانو نېک نام کړے نهٔ یم
لارې زما د تباهۍ لټوي
نمک حرام په ارام کړے نهٔ یم

×××××

په ننواتو منتونو راشي
پوزه لګئ په صلاتونو راشي
مطلب پوره کړي نېغ په مخه لاړ شي
بیا که راځي په آفتونو راشي

×××××



ukhto.net

نن غتې نمرې چې په حملو ئې تېروې
د پر پردې نمک چې په شکم کښې هېروې
دا د شرم لوښے سبا چینګه خُله ولاړ وی
خپل مشر په لمسه په دباؤ کښې ګېروې

×××××

خپلې په انصاف باندې دا شپې ورځې دې شمار کړه
مه ژاړه پرون پسې سبا له ځان تیار کړه
ستا نه به تپوس د هر عمل په اخرت کوی
بیا چې پرې افسوس نه کوې دلته هغه کار کړه

×××××

دا متل زمونږه په وطن کښې پخوانے دے
زور چې کوم سړے شی خلق وائی لېونے دے
ځوئے ورته هم د سړیتوب په سترګه نه ګوری
اینګور ئې ورته وائی سودائی او پېریانے دے

×××××



ukhto.net

پاتې يو اسره مې تربورانو ته په نخښبه شوه
نه دی دا پردی خو سراسر زما د پخه شوه
چرته به په دې کښې د بل چا نه ګيله نۀ کوم
دا به مې قسمت وو خپله وينه زما يخه شوه

×××××

نۀ خرڅېږی چرته چې قسمت په بيعه واخلم
خپلو بې غېرتو له غېرت په بيعه واخلم
سر و مال که واړه د نا اهلو نه قربان کړم
زۀ چې تورو اوکړمه تهمت په بيعه واخلم

×××××

خبر شه تا ته وايمه بزرګان راسره شته
صفا سپينو جامو کښې هم ګرګان راسره شته
بل ځائے که پېدا نه شی دا اطلاع کومه عامه
د چا که پکاريږی دله ګان راسره شته

×××××



ukhto.net

ما له د مطلب د پاره کوزې سترګې راشي
کله چې واپس شي نو رقیب ته په خندا شي
بحث چې په مور و پلار کوي د مخالف سره
دلته به تور مخے په اخر کښې به رسوا شي

×××××

ډېر راته ګوابښېږي ګوره دا ئې په ما مینه ده
ما ته چې ترقیږي دا زما د ځیګر وینه ده
جوړ به ترې جمروز کړو که زمونږ په رضا رانغے
مه قهرېږئ خلقه دا صفا خبره سپینه ده

×××××

سود کوه په بل هغه په ځان چې دې کېدے شي
وي که په پردو که په خپلوان چې دې کېدے شي
ځان له نمړی غته بل له کچه که دې خوښه وي
کله سلامت د غه ایمان چې دې کېدے شي

×××××



ukhto.net

ما چې وو لوئے کړی هغه نۀ راځي په لاس
خلق کړی پېغور وو غلط زما قیاس
زۀ په خپلو کړو نۀ یم نادم شکر اوباسم
خوښه دې ده خپله که ځان لرګنې که پاس

×××××

یا خو اصیلان د نمک حق ادا کوی
یا دی رذیلان چې نوک او وری جدا کوی
خپل او پردی ځۀ کړی خو چې ښته ئې پرسیږی
یو ځائے چې خروب کړی د بل در ګدا کوی

×××××

نن تازی اسونه متازی کوی د خرو
ځکه چې هارونه ئې په غاړه دی د سرو
نه ئې وه چې ربړه هغه په بِلتې پروف کښې ګرځی
ستوری د اسمان ورته حیران په ننداړو

×××××



ukhto.net

بعضې نران وائي په تماچه به ئې اوولم
یا د تیز کندو په ډُنکاچه به ئې اوولم
دوئ نه که خطا شو مه زما نه به رضا شي
ښۀ د څربو غوښو په خوانچه به ئې اوولم

×××××

واوره زمانه په هر یو حال باندې بدلیږي
کله په ساعت کله په کال باندې بدلیږي
خپل عمل به ورېږ د خان سره باقي دے پاتې
هر عروج ته ګوره په زوال باندې بدلیږي

×××××

څوک وي خود غرض څوک په ریښتیا ملګرے وي
څوک وي د مطلب څوک د وفا ملګرے وي
نه ورځي په لاس که څوک پرې سر و مال تاله کړي
څوک چې هر درے شي د هر ځا ملګرے وي

×××××



ukhto.net

یقین مه کوه چرته پرې که څوان وي او که زوړ وي
بدلیږي رنګ په رنګ چې په مثالې د کربوړي
د لاسه د مکار محسن په دار شي څو وخت تېر وي
بیا وروستو که پرې هر څو د افسوس منګولې مروړي

×××××

منظور ئې کړه یو سوال درته کوم په څو کراته
چې ژبه اوکړې چرته خپله ژبه نۀ کړې ماته
مجلس یا په جمات یا په حجره کښې چرته کښېنې
پېغور د بې لوظۍ چې یو سړے او نۀ کړي تا ته

×××××

کرام الکاتبین سره د هر چا کتاب شته
جزا ده په نیکۍ کښې په بدۍ کښې عذاب شته
دې ستا مداریتوب ته خاص و عام ګوته په خُله دي
که نن حساب او نۀ کړې په بل ځائے کښې حساب شته

×××××



ukhto.net

اوس وخت دے د توبې الله رحیم دے توبه ګار شه
په شان د لُبابه کړه ځان مجرم په سمه لار شه
پردې غوټه په ترخ کښې دې نیولې پرې ریږې
ډیر لرې ئې ګزاره که د هر څۀ نه اوزګار شه

×××××

نن تا ته به ترخې وی دا زما د حق خبرې
عمل که دې پرې اوکړو شي خوږې به د شکرې
تسلیم د سر یو ټک دے پکښې هیڅ کوُلے نۀ شو
بې مثله سحرګر ئې مداری ئې بازیګر ئې

×××××

توبه ګار شه کفر پرېږده اسلام واخله
په خلوص رائے د خاص او د عام واخله
پردے حق پرېږده په حقه مسلمان شه
دیانت اوکړه د رب نه انعام واخله

×××××



ukhto.net

ستا عمل ته شیطان اوګوري بوګنیږي
چې ته راشې ستا د خوا نه روانیږي
توپ کښې د ماشومانو جوړې ولې
بل خوشحاله کړې چې د ځانه به ورانیږي

×××××

څه نیکي به تا او ما سره کوي
بد سلوک چې د آقا سره کوي
که د کوره ئې بهر اختیار په لاس شو
غلا غولتي به د دنیا سره کوي

×××××

منافق وي منافق سره ملګرے
هر صادق وي د صادق سره ملګرے
شیطان کله د شیطان نه جدا کیږي
هر فاجر وي د فاسق سره ملګرے

×××××



ukhto.net

هر چا ته معلوم دی که ئې په ډاګه که په غلا تړی
څوک پټو پردو کښې منافق سره به ملا تړی
ده یوه جرګه د منږکانو د پیشو خلاف
میاؤ چې کله واوری نو به یو بل برملا تړی

×××××

اوکړی چې خبرې ته به وې په سمه لاړ دے
هر ځائے ئې چرچه ده هر یو کلے ئې د پلار دے
خان له ئې دنده روانه کړی د اسلام په نوم
لاسو کښې قرآن مګر په غاړه ئې زنار دے

×××××

په بل کوه خو چې په خان به څۀ وی
په دې کښې ګټه او تاوان به څۀ وی
په امانت کښې خیانت چې کوی
ګوره د دې خلقو ایمان به څۀ وی

×××××



pukhto.net

چې پلار ته ګوري سپک د زوی حق پرې پاتې نه وی
اُمېد د بخښنانې ئې يو رمق پرې پاتې نه وی
که اوکړي درګزر په دې کمزورے ورته ښکاری
تمام شي تول سودونه يو سبق پرې پاتې نه وی

×××××

چې ښځه هر يو ځوان د مور او پلار په بدل اخلي
تسپو د مدينې يه ځائے زنار په بدل اخلي
هر څو که په مجلس کښې په هوښيار باندې يادېږی
يو موتے خوشحالي به د خروار په بدل اخلي

×××××

خپل چې شو پردی بيا د پردو نه ګيله نشته
نن په ما د يو سړی د رحم صله نشته
خان ته که نر وائی بيا دې خپل ماضی ته اوګوره
وايمه ئې صفا د چا په دې کښې حيله نشته

×××××



ukhto.net

چې د شاهانو شوکتونه لاړو
د عزت مندو عزتونه لاړو
ځنې پرېږدی د جینکو په مثال
نن د ځوانانو غېرتونه لاړو

×××××

د پلار دشمن چې هم خانه ساتی
پټه په زړهٔ کښې بت خانه ساتی
سود ئې د خپلو په پردو وی سېوا
د رقیبانو خېل خانه ساتی

×××××

خېر که ستا د لاسه زما زړهٔ پرې پرې شی
یا مې هر اندام په بد سلوک ارې ارې شی
رب دې راله صبر ان تر مرګه پورې راکړی
خان ته به مجرم وایم که تا ته مې بنبرې شی

×××××



ukhto.net

عمر د ازمېښت دے د مهلت مېعاد پکښې دے
ګټې تـه ګوري ورسره بېلاد پکښې دے
غوره ځان له واخله چې په ځان دې څۀ پېرزو وي
دواړه یو شان نۀ دي مکمل تضاد پکښې دے

×××××

د پلار د سر ګوزاره ئې اول کړه عمامه
چې مور ئې وه په کور کښې نو خمتا ئې وه جامه
مور مړه شوه په لټونو پلار ئې بند کړو په پنجرو
ریښمیني ئې جامې کړې د نیکلس سره نامه

×××××

تلین نه وو پوره شوے چې تې وی ئې کړو رنګین
اوکے ئې وی سی آر کړو چې بېګم اوکړو تلقین
بیا وروستو ډبل بېډ او د صوفې اوشو فرمان
سبا به درله راشي که دې وي په ما یقین

×××××



ukhto.net

د هر چا نه چې دوه ژبې مار پېدا شي
خپلې وينې نه دشمن د پلار پېدا شي
څهٔ به ننګ د پلار په شرم باندې اوکړي
هغه ځوئے چې د لُور په وار پېدا شي

×××××

درته وايمه د مکاره خان ساته
منافق او د عياره ځان ساته
که حاجت دې پوره نهٔ شي صبر اوکړه
د رذيل سړي د باره ځان ساته

×××××

ښه چې تينګه په رکاب کؤلې نهٔ شي
سورلی په آب و تاب کؤلې نهٔ شي
غيبت مه کړه پشې شا د هغه خلقو
مخامخ چې ئې جواب کؤلې نهٔ شي

×××××



ukhto.net

نـــن چـې تـــا تـــه د دروغـــو دوپـــې ولـــی
ســبا بـــل ســـره پـــه منـــډه منـــډه زغلـــی
بـــل ســبا چـــې پـــه دریـــم ځـــائے لمغـــړې کـــړی
هـــر درے او هرکــــاره دے د هـــر کلـــی

×××××

دا متــل خــو عــام دے چـې ریښــتیا وئیــل تراخــۀ دی
ویمــه ئــې پــه ډاګــه ښــۀ دی کــه نــا ښــۀ دی
مخ چې هر څوک پټ کړی د کروړو په پولۍ کښې
ډېره کـه ئـې اوګـده کـړی ږیـره نـۀ ده خـو واښـۀ دی

×××××

خبر که په دنیا کښې ځائے په ځائے باندې حارس شته
ډیــر پراتــه پــه پټــه زمــرد ســنګ پــارس شـــته
داسې په کمال ئې کړی راغونډ چې څوک ئې نه وینی
مــونږه کښــې بــې شــکه ډېــر تګــان د بنــارس شـــته

×××××



ukhto.net

تېنګه نۀ خو د يار مينه شوه نروبه
دا په دې چې زما وينه شوه نروبه
څۀ يقين او سود د چا په وينا اوکړم
چې وعده هره سنګينه شوه نروبه

×××××

يو داغ چې د حبيب که د محبوب په لمن راشي
ښائسته بشر ئې هر ځائے په نظر کښې پمن راشي
د مينې يارانه چې د هر چا په سوزېدو شي
د سترګو نه مې هلته کښې ګنګا و جمن راشي

×××××

هغه سحر هغه ماښام رانغے
زما د وچو شونډو جام رانغے
خومره سفر چې کوم سفر اوږدېږي
خو د سکون هغه مقام رانغے

×××××



ukhto.net

د وخـــت تغیـــر پـــه خـــاص و عـــام راځـــی
هـــرې ســـختۍ پســـې ارام راځـــی
ډیـــره ئـــې ګرانـــه د یـــوې نـــه بلـــه
وار چـــې زمـــا غونـــدې بـــد نـــام راځـــی

×××××

چـې زار یـدم تـرې پـه مـا څـوک بـه شـی زار
چـې خوار یـدم پـرې پـه مـا څـوک بـه شـی خـوار
عمـــر مـــې دا بـــې وفـــائی اوکړلـــه
ژونـدون مـې لویـو هـم وړو تـه شـو بـار

×××××

څـــوک د الله نـــه اوږد ژونـــد غـــواړی
څـوک سـؤرلۍ لـه تېـز سـمند غـواړی
څـوک د عـــزت څـوک د دولـــت پـــه تکـــل
د چـــا مـــات شـــوے زړۀ پیونـــد غـــواړی

×××××



ukhto.net

څــوک ســرګردانه د دنیــا پــه طــرف
څــوک وهــی منـډې د اشــنا پــه طــرف
هــره دنــده بــه دې نیمګــړې پرېــږدې
کــه شــو نظــر دې د عقبــا پــه طــرف

×××××

رېبــار رقیــب او هــم دلال پېــژنم
مخلــص مکــار او شــوم شــغال پېــژنم
پــه مــا دې شــک د لېــونی نــۀ کــوی
زۀ پــه تنــدی کښــې د زړۀ حــال پېــژنم

×××××

پــه کنــد رضــا یــم شــړې مــه راکــوه
ډګــره مــې خــوښ دی وړې مــه راکــوه
ســاه مــې حاضــر دے چــې محتاجــه نــه شــم
د بــل د لاســو نمــړې مــه راکــوه

×××××



ukhto.net

ما سره موجوده یارانه د غم نه ډکه ده
او به سپړم تا ته امیانه د غم نه ډکه ده
څوک دې راته نۀ وېي چې ناچاره شو تش لاس دے
خان له مې ساتلې خزانه د غم نه ډکه ده

×××××

یو خوا بې ایماني بل سلامونه زیاتوي
بې شانه مې په دې باندې غمونه زیاتوي
ساقي په مېخانه کښې چې مې اوګوري حالت ته
ما پرېږدي رقیبانو ته جامونه زیاتوي

×××××

هر څوک چې متازي ډله بازي کړي د اغیار
په ژوند به قدم کښېنږدي هرګز په سمه لار
په دا رنګې نا اهله به یقین د وفا نه کړي
خپلیږي به دې څنګه چې څوک خپل نۀ شي د پلار

×××××



ukhto.net

یو داسې سړے مړ شی ننګ و نام پرې میراتیږی
پکښې وی پعضې بعضې چې خپل قام پرې میراتیږی
افسوس پرې نۀ کړی څوک چې نۀ د ښۀ وی نه د بد وی
ماتم وی په هغو چې خاص و عام پرې میراتیږی

×××××

د لمسون نمړی په هر ځائے کښې خوږه وی
د شیطان به د لعین سره جرګه وی
که یو کال لکی د سپی بوتل کښې بند کړې
ښغه نه شی چې را اوخی نو کږه وی

×××××

څوک چې ننګ په خپل عزت باندې او نۀ خوری
یو نمړی به په غیرت باندې او نۀ خوری
څوک چې مال د سړیتب په بدل اخلی
هیڅ لذت به په قیامت باندې او نۀ خوری

×××××


ukhto.net

ځان له ګڼې او ما له نل خوښوې
په خپله بره بل له تل خوښوې
چغې وهې چې مسلمان يمه زۀ
دا لاتدې باندې په څۀ چل خوښوې

×××××

د بل ناصحه په ښۀ شان پوهېږې
دا راته اووايه په ځان پوهېږې
په څۀ چې ما رټې په خپله ئې نۀ کړې
ښۀ په حديث او په قرآن پوهېږې

×××××

ستا خو ګلرنګه او ښائسته خوښه وی
په هر کمال دې اراسته خوښه وی
ځان له بې چوکسه او بې عيبه ګورې
بل له دې څۀ رنګې ورسته خوښه وی

×××××



ukhto.net

څوک د محبت او مروت په اسره تېر وځي
څوک د شرافت او لیاقت په اسره تېر وځي
نه ویم چې سړے دے یا په عمر کښې سړے به شي
هر یو ابن الوقت چې د دولت په اسره تېر وځي

×××××

د هر بشر د غم او واویلا تپوس کوه
په لاره د نېکۍ کښې د هر چا تپوس کوه
چې ستا په ژوندانه اولاد په کور کښې دې بالغ شي
د خویه لور د خوښې او رضا تپوس کوه

×××××

جفت کله پاتې کېږي په اخر کښې طاق به شي
انکار د نېغې لارې د شېطان مذاق به شي
په ځُله یوه په زړهٔ بله دا کار د منافق دے
چې تل وي نا فرمانه هغه ځویه عاق به شي

×××××



ukhto.net

کـه زوړ دے کـه ماشـوم دے او کـه ځـوان تـړلے دے
قــدرت ذی روح اجــل تــه پــه هــر شــان تــړلے دے
د ســترګي رپ ، صــدۍ دواړه د عمــر انــدازې دی
ایمــان دې پــه ماســکو کــه پــه فــاران تــړلے دے

×××××

ســیم و زر چــې ښــکلوې او قـــرآن نـــۀ
مضـــبوطے د هـــوس پنګـــه ایمــــان نـــۀ
خلیـــل اووئیـــل آذر تـــه ښـــۀ پـــه ډاګـــه
یـــو الله منمـــه پـــلاره بُتـــان نـــۀ

×××××

کــه پــاتې شــؤلې وروســتو زمانــه در ځنــې لاړه
کـه عقـل در پکښـې وی ځـان د خلقـو نـه را نغـاړه
شـی پـاتې امانـت بـه کـه وصـیت وربانـدې اوکـړې؟
پیشـو تـه چـې امېـل کلـه د وازږو کـړې پـه غـاړه

×××××


ukhto.net

د خدائے مخلوق ته که دې سپک اوکتل
څهٔ دې بیا نه موندو تا ورک اوکتل
په تا به هیڅ څوک اعتماد او نهٔ کړی
که هر مخلص ته دې په شک اوکتل

×××××

د هر عمل هره صله ډېرېږی
په هر حالت کښې په هر چا تېرېږی
یادې ئې خلق د څهٔ وخته پورې
خو د ماشوم او د بادشاه هېرېږی

×××××

یو درګزر بل انتقام ته ګوره
هر یو سلوک د خاص و عام ته ګوره
صبر کوه که په تا ظلم اوشی
رب ته ئې اوسپاره انجام ته ګوره

×××××



ukhto.net

که په مانځه باندې بنده ولاړ وي
دے که وي پاک او که ګنده ولاړ وي
د رب نه پټ نشته خو نیت ته ګوري
منافق هر ځائے شرمنده ولاړ وي

×××××

په پس پُسې په هر ځا نخښې کوې
شکم پروره ګرمې یخې کوې
پوهېږې نۀ او که پرې سترګې پټې
چې قتلمې د رور د غوښې کوې

×××××

تا بې کینې سبق د ځا وئیلې
نۀ خو دې پلار او نۀ دا دا وئیلې
د نر خویونه په برقعه کښې نۀ وي
نه وو شوے (هغې) په تا ئې (آ) وئیلې

×××××



ukhto.net

پټ دې پالو چې ښان بې پټه نه کړې
په هر ډېران کښې لټه شته نه کړې
هر څو دباؤ او که سزا در کوي
خو زماني ته چې سر ښکته نه کړې

××××××

مخ مخ ئې ګوزاري شا ته چې خوري
د ګیدړ په شان د بل ماته چې خوري
هر مردار حلال په ښان باندې پیرزو کړي
بدبد ګوري هر ساعت تا ته چې خوري

××××××

که ښکته زمکې که اسمان ته ګورې
که تخت نشین او که دهقان ته ګورې
هر چا ته ګوره خو په هغه سترګو
په کومو سترګو چې ته ښان ته ګورې

××××××



ukhto.net

څوک په رضا او څوک په زور وي روان
څوک په چا سور او څوک په سور وي روان
هر يو روان پاتې کېدلې نهٔ شي
که مور و پلار خوېه که رور وي روان

×××××

څهٔ چې په نوم د سړيتوب کښې کوي
يا چې نخرې په لېوتتوب کښې کوي
چې په عمل دې شېطان برېت تازه کړي
دا ته په وينه او که په خوب کښې کوي

×××××

مسلماني اول په خان راوله
عمل يقين دې دې په قرآن راوله
چې خپل عمل پرې بنهٔ په ډاګه تلې
نور وله هم هغه ميزان راوله

×××××



ukhto.net

زما هر لفظ سر سری ښکاریږی
چا ته تانبا چا ته زری ښکاریږی
هر منافق ته د ګنډېر په مثال
خو صادقانو ته تری ښکاریږی

×××××

شربت د سرو شونډو په جام خرڅوې
کله په ستېج کله په بام خرڅوې
تا ضمانت چې د حجاب لرې کړو
عزت دې خکه په نیلام خرڅوې

×××××

د بل په عېب کښې چې فائده لټوې
دا ناروا دی حقیقت پټوې
خپله لوئی او بد ګوئی د نورو
شوې چټاکی پرې که اول ستړه وې

×××××



ukhto.net

قیصه دې لنډه که اوږده راوسته
په خپل عمل دې ازموده راوسته
الله به سل پردې په تا واچوی
که تا په بل باندې پرده راوسته

×××××

ښکلے که په رنګ ئې خو خپل ځان ته لاړې مه توکه
چرته په تحقیر باندې انسان ته لاړې مه توکه
بل که سړے نه پېژنې ځان په خپله پېژنې
ستا په مخ به پرېوځي اسمان ته لاړې مه توکه

×××××

ځان ته د اول نه تر اخره چې نظر کؤم
غور او فکرونه د خپل عمر په سفر کؤم
زۀ یمه مجرم په خپلو کړو د بل ګناه نۀ دے
سوال د معافۍ په لوئے دربار کښې د اکبر کؤم

×××××



ukhto.net

چا پـه تـورو سـترګو نـرو وروځـو پـه وربـل کـړے
چا راتـه پـه سـوال او چا پـه حکـم پـه ما زغـل کـړے
دا زمـا خطـا د هغـو نـۀ وه خـو مطلـب ئـې وو
مـا تـل د بـې لوظـو پـه لوظـونـو بانـد عمـل کـړے

×××××

خلـق ډېـره مينـه پـه هـر ګـل پـه نوبهـار کـړي
ډېـره خوشـامنده مُتـازي بـه د ماليـار کـړي
رنـګ و بـو چـې ختم شـي پـه قهـر ئـې راواخلـي
واخلـي د ګلدانـه ئـې ډېـران تـه ئـې ګُـزار کـړي

×××××

بـر شـته پـه دنيـا کښـې د خپـل ځانـه بـر تـه اوګـوره
مـه اوره د هـوس خـو چـې وي سـتا نـه لـر تـه اوګـوره
ځـۀ لـه غـرۀ کېـږې د دولـت او د رتبـې پـه سـر
وار پـه وار فنـا شـي هـر مابنـام سـحر تـه اوګـوره

×××××



ukhto.net

استاده قهر شته د رب سودونه پکښې نشته
سختي بيانوې چې راحتونه پکښې نشته
دا وې چې رب قهار دے تپوس کومه رحيم نۀ دے
دربار د ذوالجلال دے رحمتونه پکښې نشته

×××××

څوک وږے تږے ناست وي تنګوي د غم رباب
څوک مور شي په شا واوړي د تکو او د کباب
د سوال په کفن خخ شي څوک رېښمو پورې خاندي
څوک دې ته فکر نۀ کوي چې ورځ شته د حساب

×××××

چې ويني زوروَر د ګزني په شان رپېږي
غريب سړي ته هر وختې په ډنډ کښې خولې کېږي
شريف سړي ته پشم دې د خُلې وُځي بې شانه
نا اشنا د اشاروئې په ډانګې باندې پوهېږي

×××××



ukhto.net

که په چا لاس اوشوه دعوه د یو خبرې
بې تپوسه حکم او نه کړې پرې چرې
شریعت جاري کوې په نورو خلقو
خو په خپله د عمله تـه مُنکر ئې

×××××

استاد د فرشتو په تکبر باندې لعین شو
ادم چې توبه ګار شو سرفراز په سرزمین شو
طوطي په شان دې یاد کړو کتابونه که عالم شوې
عمل نه لاس په سر ئې زړۀ دې تور دے کله سپین شو

×××××

مخ تور وی د بې لوظه نارینه که زنانه ده
هر خائے د بې وفاؤ شرمېدلي یارانه ده
ترې اوکړه کناره چې دې په اوچه ډاګه پرېږدي
ګیلې د چا نه مه کړه د بې ننګو زمانه ده

×××××



ukhto.net

د کور سلوک په بل بهر کوه ته
د عمل جاج ما بنام سحر کوه ته
سترګې د سر درله دهوکه درکوی
د زړۀ په سترګو دې نظر کوه ته

×××××

نمړی د خوشامندې د ارزل د لاسه مه خوره
که خوان ئې وږے مړ شه خو د بل د لاسه مه خوره
په تا ئې ډمامه کړی د نر ده که پوهېږې
چمچه د چا په در او د وربل د لاسه مه خوره

×××××

مضبوطې ارادې که دې دوران ته کړېږې شی
بیا ستا د اُمېد ونې به خزان ته کړېږې شی
شه ګټه په راستۍ کښې دباؤ هم په بل او نۀ کړې
یوه ګوته شی بل ته څلور ځان ته کړېږې شی

×××××



ukhto.net

هر څوک يه چې زلمے شي نو د پلاره جدا شي
کوم رور چې بختور شي نو د خواره جدا شي
اصيل په خپلو پوړې کم اصلان ترې کناره شي
ازمېښت چې کله راشي د خپل ياره جدا شي

×××××

د سترګو دې ښائست د غزاله نهٔ شي کېدے
مثال دې په کوښو حواله نهٔ شي کېدے
که اوشي عجب نه ده په وعدو د لامکان
زما د ګناهونو ازاله نهٔ شي کېدے

×××××

مخلوق ځان ته راوارئ چې ګويانه په منبر شي
په خپلو فېصلو کښې سړے نهٔ وي څناور شي
احکام د شريعت د خپل غرض د پاره وائي
د حق نه شي منکر د دين نه اوځي ستمګر شي

×××××



ukhto.net

که خویه دے که روږ دے که اشنا نهٔ پکاریږی
هر څوک چې حرامی شی د هېچا نهٔ پکاریږی
که زمکې محلونه که د سرو سپینو انبار شی
سبوا د نېک عمل نه په عقبا نهٔ پکاریږی

×××××

هر څوک چې مې لوئے کړی شرموی مې ثواب دا دے
خپلوان دی که پردی دی تنګوی مې عذاب دا دے
بخشو په نوتهیه او تخت بهائی کښې داسې نشته
زما د زړهٔ د غوښو نه جوړ شوے کباب دا دے

×××××

مخلوق وائی اخرت زهٔ وایم دنیا ده ځان له ځان له
د هر سړی په فکر ئې وینا ده ځان له ځان له
بل خبر دے که ژړېږی که شرمېږی که رنځېږی
هر ځائے په تباهی کښې ئې خندا ده ځان له ځان له

×××××



pukhto.net

ژوندون دے بې وفا د ورځو شمار ئې وفا نهٔ کړي
نیمګړې ئې کارونه هر یو کار ئې وفا نهٔ کړي
اوږدې که مسودې کړي د خپل ځان او د اولاد
فقیر او میانه روځهٔ چې تاجدار ئې وفا نهٔ کړي

×××××

چې چرته نهٔ کړې چا ته د حاجت لاسونه پورته
ویزاره به شي ستا د مروت لاسونه پورته
حق لیرې استقبال ته اجابت په لنډه لنډه
کوم وخت چې شي اسمان ته د غربت لاسونه پورته

×××××

انسان که ځناور په دګ که پېرنه که نرے وي
د ژوند په ګرمو یخو پرې برے وي که لرے وي
کاسه د سوال په لاس وهي لکۍ د خوشامندې
کُوته دے اصیل نهٔ دے هر سړے چې هر درے وي

×××××



ukhto.net

څوک شرم وي د کور او څوک د کلي څوک د قام دے
څوک هغه مطلبي دے چې رسوا په خاص و عام دے
رټلے شرمېدلے در په در چې نیکي غود شي
بې مثله په دنیا کښې کتابي نمک حرام دے

×××××

هرګز د زمانې د انقلابه مه ویرېږه
په ژوند کښې د غمونو د سېلابه مه ویرېږه
په ضد ئې مستقل شه سرنګون په دباؤ نۀ شې
یو وخت د منافق د پېچ و تابه مه ویرېږه

×××××

یو داسې زمانه شوه د دنیا نه وفا لاړه
د چا چې تپوس کوم وائي زما نه وفا لاړه
د شرم په جامو کښې د عزت درک خو نۀ وي
هر ځائے د حیادارو د حیا نه وفا لاړه

×××××



ukhto.net

سر نهٔ دے تش کدو دے په مطلب کښې چې خم شي
نر نهٔ دے مخنث دے چې مایوسه په غم شي
پخه که دې په زړهٔ کښې اراده په صداقت کړه
بدل به دې قسمت هلته په لوح و قلم شي

×××××

نادانه خبر نهٔ ئې د ژوندون په رموز پوهه
اشنا ئې د وصال که د بېلتون په رموز پوهه
دا هر څهٔ هر څهٔ ښهٔ دی خو هېڅ نهٔ دی دا مې واوره
ازمېښت دې لږ څهٔ وینې شه د ملعون په رموز پوهه

×××××

که نن په اقتدار ئې اقتدار به دې ختمېږی
په تخت که په کرسۍ ئې دغه وار به دې ختمېږی
په حسن په رتبه او په دولت غرور او نهٔ کړې
پرېوځې به اخر ډول سنګار به دې ختمېږی

×××××


ukhto.net

د عمر تول سفر خو د منزل د پاره دے
کتاب دې شروع کړے د عمل د پاره دے
په خپله پکښې نخښلي وتې نه شي فنا کيږي
زندان چې تسار کړے چا د بل د پاره دے

×××××

هر نوکر چې په تاجدار نه شي دمه
يا چې يار په خپل يو يار نۀ شي دمه
څۀ صفت به ئې څوک اوکړي د مړانې
هغه خوېه چې پرې پلار نۀ شي دمه

×××××

عبث د حرص د هوا په سر بلا واخلې
چې په حرامو باندې دلته کښې دنيا واخلې
پروردګار ئې انتظام د رزق هلته اوکړي
د مور په رِحم کښې بچے چې کله ساه واخلي

×××××



ukhto.net

د ملک دپاره چې سر ورکړي بهادر وي حساب
چې په کمزوري ظلم اوکړي ستمګر وي حساب
چې د مخلوق سره ښېګړه او انصاف او نۀ کړي
چې اوخوري مړه شي په دنيا کښې ځناور وي حساب

×××××

نيکي نۀ ضائع کيږي د نېکيانو بدل وي
هر ځائے حراميتوب د حراميانو بدل وي
په مينه په خلوص په نيک سلوک ئې څۀ کار نۀ وي
ماډل په سنګدلۍ کښې د ګرګانو بدل وي

×××××

هر څو که علم ښۀ دے بې عمله ضلالت دے
په دين او په دنيا باندې انجام ئې خجالت دے
استاد د فرشتو په تکبر باندې ملعون شي
رجيم او مختورن شو بې نوا په قيامت دے

×××××



ukhto.net

کـه ئـې وریـژے بـه ګـل شـي دوبـاره خـزان کـړه پوهـه
شـهید حسـین مـړ نـۀ دے د یـزیـد سـنان کـړه پوهـه
یـو وارې سـر د لاتـدې یـا بـه پـر مخـې پریـوځې
تـل زور پـه ازمـائیلو بانـد کمیـږی ځـان کـړه پوهـه

×××××

اشـنـا پـه دوپـو نـه خـو پـه میـدان بـه معلـومیږې
پـه حـق چـې ګرفتـار شـې پـه زنـدان بـه معلـومیږې
نمـرود د زمـانـې کـه دې آتـش تـه ورګـزار کـړی
خلیـل پـه صـداقت کبنـې پـه نیـران بـه معلـومیږې

×××××

دا هـر څـۀ پـاتې کیـږی هـره خُلـه بـه قپـه کیـږی
انبـار تـه حاجـت نشـته ګـزاره پـه لپـه کیـږی
کـه سـره وی کـه ډالـر وی کـه درهـم وی کـه دینـار
اخـر لکـه د ګـِل پـه اباسـین بـه لاهـو کیـږی

×××××



ukhto.net

د زړهٔ سترګې بینا کړه ښهٔ او بد اوپېژنه
کارونه د مومن اوکړه مرتد اوپېژنه
سیرت ته د سردار د دواړو کونو مرۍ کېږده
صلوة درود پرې وایه محمد اوپېژنه

×××××

چې ځان په سود وی هر یو یار ئې د خپل یاره پتېئ
پسه چې اوشی نو اولاد سره د پلاره پتېئ
کوی نا حقې ناروا او په چرچه کښې ګرځی
چې مختورن شی خپلې سترګې د بازاره پتېئ

×××××

په ژوند کښې نزدې لرې فاصلې ځنې راځی
د سختې د راحتې مرحلې ځنې راځی
نرتوب د سړیتوب چې څوک په حقه اراده کړی
نا شونې کښې ممکنې حوصلې ځنې راځی

×××××



ukhto.net

په بده په زورنه د هیڅچا نه بدل مه اخله
زما د خدمتونو نور زما نه بد مه اخله
د خپل غرض دپاره د ګوګل سترګې ړندې کړې
هرګز د حیاناکو د حیا نه بدل مه اخله

×××××

په علم په دولت که سربلند درته ځان ښکاري
په فن په مهارت که قدرمند درته ځان ښکاري
دا ټول د اوبو زګ دے چې عمل ورپکښې نۀ وي
د رور عزیز په غوښو چې په شخوند درته ځان ښکاري

×××××

غمونه د دنیا که چرته ځان ته مخا مخ کړې
نور هیڅ ترې نه جوړیږي د دشمن زړګے به یخ کړې
خاموشه په خلوص په استقلال پرې صبر اوکړه
اخر به کامیاب شې که دا ټول په زمکه خخ کړې

×××××


ukhto.net

هر ځائے د نېک عمل او د اخلاقو بدل نشته
باقي واړه مسموم دي د ترياقو بدل نشته
ليکن د مېکالے او يا د ماؤ په تجربو کښې
د خدائے رسول د حکم د اسباقو بدل نشته

×××××

د پاره د سخيانو دا د شوم د پاره نۀ دي
زما غوندې بې لارو د معصوم د پاره نۀ دي
د ژوند مشاهدې په ناغارو مې ورته پېش کړې
ژړېږي به ظالم چې د مظلوم د پاره نۀ دي

×××××

ظاهر کښې شات شکر ئې د هيچا نه ازار نۀ اخلې
بدل د بختور کښې که مخلص وي نو خوار نۀ اخلې
په بل که په ناحقه ډنډې سمې کړې نو خبر دے
په خان باندې په حقه د دؤو ګوتو ګوزار نۀ اخلې

×××××


ukhto.net

د ښـک عمـل تخمونـه د خـرمن پـه بیعـه نـهٔ دی
ګلونـه د صـحرا د یـو چمـن پـه بیعـه نـهٔ دی
حېـران یـم د واعـظ د قـول فعـل پـه تضـاد
کـه لوښـه چـا ورکـړی دی زامـن پـه بیعـه نـهٔ دی

×××××

ډېر عمر ښهٔ نهٔ دے چې سړے پکښې بد رنګه شي
ښې خبرې نهٔ اوری که څهٔ اوری خو د جنګه شي
کیږی نـاروا خو تـوان ئې نـهٔ وی پـرې خاموشه وی
تل پـه سادوبۍ کښې پـرې دا لویه دنیا تنګه شي

×××××

کشـر چـې پـه مشـر بـې حیـا سـترګې راواړوی
ځـان تـه پـه زورنـه د دنیـا سـترګې راواړوی
نه دې وائی چې دروند یمه اخر د ښځې سپک به شي
څـوک چـې بـې ګنـاه تـه نـاروا سـترګې راواړوی

×××××



ukhto.net

تــا تــه د عمــل تلــه پرتــه ده ځــان پــرې اوتلــه
مخکښـې دې سـفر د ے د توښـې سـامان پـرې اوتلـه
ګټمې د بـېلاد پـه انـدازه بانـدې ځـان پوهـه کـه
واخلــه د انصــاف تلــه او خپــل ایمــان پــرې اوتلــه

×××××

څـۀ بـه علـم وفـن او څـۀ ایمـان د هغـه کـس وی
بـل تـه پـه برجـو مګـر د ځـان دپـاره پـس وی
ځائے پـه ځائے نعرې کـه د اسـلام پـه نمبرونـو کـړی
سپین وی پـه جامو کښې پـه ضمیر لکـه اطلس وی

×××××

خـاوره دې صـفا ده د ګلونـو بـاغ پـرې کېـږده
مینـه کـړه د حـق پـه زړۀ د حقـې داغ پـرې کېـږده
ځان لـه کـه څۀ نـه شـې د مخلـوق دپـاره ګـل شـه
مـلا اوتـړه کلکـه پـه خلـوص انـداغ پـرې کېـږده

×××××



ukhto.net

وخت ډېر قيمتي دے که د دې په قدر پوهه شوې
نېک د بد تميز روغې نا روغې په شر پوهه شوې
اوکړه پرې عمل خو سود او زيان د مينځه اوباسه
بيا کوه يقين د دين په زېر و زبر پوهه شوې

×××××

خپل هر يو عمل که د شېطان د باره اوباسې
ځان به په قيامت کښې د دوزخ د پاره اوباسې
نورو ته پېش کے قرآن حديث په ژړا سر وخې
نۀ کړې پرې عمل خو نور مخلوق د کاره اوباسې

×××××

طمع غټه مه کوه د بل چا نه وړه به شي
غوږ تالي ته مه ګوره جوارينه دې سړه به شي
بې د رب د ذاته اُمېد هر ځائے کښې نيمګړے دے
ګوڼده د لېور په طمع کښېناسته زړه به شي

×××××



ukhto.net

چې ښځې کوڅې کولې نهٔ شي انتظام چرته وانخلي
کړي ورځې خبرې د عوام چرته وانخلي
دنیا په اخرت کښې به له تا نه تپوس کیږي
ښېرې او اسویلې چې د خپل قام چرته وانخلي

×××××

نا حقي نه واپس په حقه تینګ لکه د غر شه
منکر او منافق سرې ته سدِ سکندر شه
د امر بالمعروف نهي احکامو شه پابند
چې لار ترې خطا کیږي هغه خلقو ته رهبر شه

×××××

سړو نه پیدا شوي شرمخان لیدلي ما دي
رنګین نمک حرامه حرامیان لیدلي ما دي
د ښو په بدل بد د رذیلانو تربګني ده
بد کاره بد عمله عالمان لیدلي ما دي

×××××



ukhto.net

نیکي په ژوند کښې کله د نېکانو نۀ هېرېږي
شېوه د بدو بد د کم اصلانو نۀ هېرېږي
د خېټې په تنور په کور کښې هر څۀ ئې پردي دي
دا تول د بې غېرتو بې ایمانو نۀ هېرېږي

×××××

هوش مخې له راشي چې کوم وختې ځیګر اولتوم
خپلو په پردو لویو ورو چې نظر اولتوم
بې ستا د درګاه نه تسلي مې په یو ځائے نه شي
منډې ترړې هر ځائے که د ژوند په سفر اولتوم

×××××

لیدلي چا که په تختي دي د تقصیر لیکلي
یا خطا شوي وخت په وخت وي د تدبیر لیکلي
ایمان تازه کړه ښۀ په نره باندې ملا اوتړه
چې خوښ دې نۀ وي هغه وران کړه د تقدیر لیکلي

×××××



ukhto.net

ستا تسلي او اطمينان د وخت د حاله سره
زهٔ په دهوکو او دروغژنو باند يقين نهٔ کؤم
ما چې تحقيق اوکړو نو رائې مې عوامو له ځي
واؤره صاحبه عمل ستا په تور او سپين نهٔ کؤم

×××××

پلار تري پردے شي او مور نهٔ پېژني
يو پېسه پېژني نور نهٔ پېژني
چې سره او سپين دي که حلال که حرام
د حق خو يو ټکے تور نهٔ پېژني

×××××

څوک اخرت او څوک دنيا له تدبيرونه جوړئ
د چا مرو او د چا پښوله زنځيرونه جوړئ
امداد کوه خو په نېکۍ کښې چې دې لاس اورسي
بل هغه کس چې د پۍ مخو تصويرونه جوړئ

×××××



ukhto.net

مینـــې لوظونـــه خوشـــامندې د حبیـــب پـــاتې دی
د ګـور د سـختې مـا تـه سـختې د رقیـب پـاتې دی
صـــیاد یـــو څـــو وزرې مـــا تـــه مخـــامخ اونیـــوې
بـــې نـــوا نخښـــې پـــه ګلشـــن د عنـــدلیب پـــاتې دی

×××××

مـــه چېـــره څیکـــر مـــې ګنـــې اور بـــه درتـــه اولګـــی
ستـا بـه خوښـه نـۀ وی خـو پـه زور بـه درتـه اولګـی
نوم د مینـې مـه اخلـه پـه انجام بـه ئـې سـتومانه شـې
نـۀ بـه غـواړې تـه مګـر پـه تـور بـه درتـه اولګـی

×××××

تـا تـه پـه منبـر پېش کـړی شـربت د روح افـزا پـه شـان
راشـی چـې پـه ځـان ئـې دغـه تـول زهـر زقـوم ګنـی
قـول پـه عمـل کښـې ئـې تضـاد د حـده زیـات وینـم
دۀ لـه څنـګ روا وی چـې لابـل لـه ئـې مـذموم ګنـی

×××××



ukhto.net

# فردیات

زهٔ چې خپل عمل ته ګورم د بخښنې ځائے مې نشته
خو چې ستا رحم ښکاره شي بیا ګناه مې نۀ ښکارېږي

×××××

د سترګو اوښکې د زړۀ وینې راشي
چې دواړه یو شي نو شعرونه جوړ شي

×××××

ستورو سپوږمۍ کښې د کورونو جوړونکو واورئ
لا د غریبو په جونپړو کښې ډیوې هم نشته دے

×××××

د بوټي د نکریزو اوبه څوړ د زړۀ په وینو کړم
ناست یمه په طمع که د یار په لاسو اولګي

×××××

چا ته جولۍ اونیسم سر د چا جولۍ له یوسم
داسې وختونه شو چې یو سړے جولۍ نه لري

×××××

په سپینه ږیره چې ئې پلار په مزدورۍ پسې ځي
لعنت په هغو شه چې دا رنګې زامن پېدا شي

×××××



ukhto.net

خدایـه پـه کومـه خُلـه او ژبـه زهٔ توبـه اوباسـم
زمـا نـه لویـو خلقـو لـوئې تـوبې مـاتې کړلـې

×××××

نـن تیـز پـه ډبلـې د هاغـه خلقـو نـهٔ مـاتیږي
چـې یـې وګـې تنبـتـؤلي دي د هـر سـړي د تـراړه

×××××

احمـد پـه پـاک وجـود دُرې خـوړلي
مـا پـه ناپـاک عمـر کښـې څـهٔ کـړي دي

×××××

څوک پـه همت اوتـړي مـلا چـې بـه جانـان تـه رسـي
څوک پرېشـانه پـه امېـد کښـې د تقـدير ناسـت دي

×××××

کـه پوهـه نـه شـوئ پښـتنو قسـم د ے خـاورې بـه شـئ
ستاسـو تـاریخ بـه د دنیـا د تـاریخونو ورک شـي

×××××

راځـئ چـې ورشـو او د غـاړو تپوسـونه اوکـړو
چـې د دمغـار د جـالې څـو سـړي ژونـدي پـاتې دي

×××××



ukhto.net

څوک چې سوال د چا نه اوکړی بې نوا ترینه رخصت شی
سخاوت ئې نه یادیږی خلق وائی چې دے شوم دے

×××××

زۀ شرابی یمه په لاسو کښې مې جام نیولے
که ته مومن ئې نو په لاسو کښې قرآن ونیسه

×××××

ستا جنتونه خو تر اوسه چا لیدلی نۀ دی
د کافرانو هر یو کلے د جنت په شان دے

×××××

د عشق مقام دے د دنیا و ما فیها نه بهر
د زړۀ نظر په سیم و زر باندې څۀ خیال نۀ کوی

×××××

ښائست که دې زیاتیږی غرور مه کوه جانانه
د بدر او زهرا رڼا ښکاریږی تر سحره

×××××

چې خو شحالی مخې له راغله ما کړو خان په ډډه
هرې سختئ ته په خندا شومه زۀ غاړه غتئ

×××××



ukhto.net

غلبېل راپاڅي او کوزې ته وائي
بې شرمې چپ شه تا کښې دوه سوري دي

×××××

خم ستا سره واعظه ما ته هر څۀ دي منظور
يو مخ د خپل عمل د رب دپاره اووايه

×××××

ستا په موندلو کښې زما د سترګو تور اوبه شو
هسې اوبه وو ته مې اوليدلې نور اوبه شو

×××××

ائينه جوړه به د فکر په همت کړمه زۀ
د عقل سترګې به د چا په سر کښې څنګ ولګوم

×××××

د هجر په صحرا کښې به تر هغې پورې ګرځم
تنهاکې چې د پښو مې وچ ازغی نه کړی تازه

×××××

مينه چې تقسيم شی زما هيڅ ورپکښې نه رسی
دا مې فېصله ده حصه نوره پکښې نه اخلمه

×××××



ukhto.net

زړګـے مـې سـتـا د مینـې تصـویرونه جـوړوی
سـتا مینـه مـې پـه پښوکښـې زنځیرونـه جـوړوی

×××××

زمـا خلـوص تـه د افـلاس پـه پېغورونـو بانـدې
سـتا د غنـا سـترګې اوشـونډې شـرمېدلی ښـکاری

×××××

فریاد مې نه اورې لاس مې ستا ګرېوان ته هم نه رسی
ګـوابښ د ظـالم نـه مـې د څیـرې ګرېـوان ولـې نـه کـړے

×××××

خپلـې مسـتۍ د بـل نېسـتۍ تـه نظـر دومـره اوکـړه
چـې د ارتې منګـوتـو څـۀ رنګـه چلـن نیـؤلے

×××××

هـره سـزا پـه نـن سـبا راکـړه زمـا خالقـه
خـو چـې لاسـونه د حاجـت مـې چـا تـه پورتـه نـه شـی

×××××

د زمـانې پـه خمـارو سـترګو غـرور مـه کـوه
هم دغه سترګې دی چې ستا نه ئې ما ته ډېر کتلی

×××××



pukhto.net

انګار د هجر تـه بنـې د اسوېلو وهمه
پـه سوی زړۀ باندې پرې نور سوی داغونه لګوم

×××××

سازوم تېرې چرې زۀ د دوستـۍ صله رحمـۍ نـه
پـه وخت د ضرورت کښې بـه پرې خان حلالـؤم

×××××

چې اوبـه کـړی مې کوم بوټی پـه خؤلـو پـه وينو
ميوه ئې بـل خوری ازغـی مـا لـه پـه ځيګر نالوی

×××××

مـه کړه اصرار زۀ روانېږمـه د پاتې نۀ يم
د بې عرضۍ نخښې چې ځائے پـه ځائے مې پاتې نه شی

×××××

پـه لوڅـو پوڅـو مړغـوچن درشـمه
خـودی زمـا راتـه وائـی سـوال مـه کـؤه

×××××

پـه سختۍ نـه خفـه کېږم د مرګی نـه پس دې هم وی
پـه لحد مې تېرې ګټې کـه ښکاره شی بـد ه نۀ ده

×××××



ukhto.net

زۀ ئـې کـړم پوهـه پـه رمـوز او حقيقـت د مينـې
وايـه چـې دغـه رقيـب دوسـت اوکـه دشـمن اوګـڼم

×××××

ونه بـارداره پـه هـر ځائې کـښې پـه پـېـسـو خرڅـېږي
سـېورے پـه اصـل کښې د شـنډې ونې ګـور ښـکاري

×××××

دغـــه خـــو دواړه تـــا تـــه ډېـــر خـــواږه دي
زۀ پـــه زړګـــی کـــه پـــه ځيګـــر اوژاړم

×××××

د خپلـه ځانـه خبـر نـه ووم د بـل عيـب مې ليـدو
ځـان تـه مې اوکتـل نـو هـر سـړے صـفا مې اوليـد

×××××

سـتا دی دعـا ګـانې چـې تـر اوسـه لېـونے نـۀ يـم
خپلـې دعاګـانې چـې کـۀم راتـه ښـېرې شـي

×××××

خپلـو پـردو لويـو وړو تـه شـوم رسـوا پـه جهـان
مـا د نيمګـړی مينـې څـومره لـوئے قيمـت ورکـړے

×××××



ukhto.net

عمر دې تېر شي په غمونو په ژړا دې تېر شي
خو چې ستا نوم زما د مينې د کتابه وُځي

×××××

خوشبو دې پټه د چمن کړه ترې غنچه جوړه شوه
دغه غنچه د مال دپاره په بازار خرڅوې

×××××

زړۀ مې غوښتلو ځکه زړۀ کښې مې ځُندې کړو جانان
پرېږده په خپله چې مې دې زړګي ته اور اولګي

×××××

اوس به شکايت د پردو خپلو د سلوک نۀ کوم
کرښې د قسمت به مې کږې وږې رواني وي

×××××

ګل يمه ازغي رانه چاپېره دي
بوی او په ښائست باندې مجرم يمه

×××××

صرف يو ثبوت د خپلې وفا ما سره موجود دے
په خپله خپل ضمير ته ګناهګار نۀ يمه زۀ

×××××



ukhto.net

پرېښـــومه هـــر ســـړی پـــه لاره کښـــې زهٔ
ښـــهٔ شـــوله دا چـــې مـــې ملګـــرے نـــهٔ وے

×××××

کـــه حـــوادث د زمـــانې رانـــه چـــاپېره شـــی ټـــول
ښـــکته کېـــدے نـــه شـــمه واوره ماتېـــدلے نـــهٔ شـــم

×××××

دلال لـــه چـــې ماشوم زړګے پـــه لاسو کښـــې ور نـــه کړې
اکثـــر دی مـــا لیـــدلی پـــه بـــازار ئـــې خرڅـــوی

×××××

هـــره یـــوه ورځ دې پـــه دا شـــان تېـــروه
وایـــه د ژونـــد مـــې اخـــری ورځ ده

×××××

سرخی کـــه پـــه جمال دې ځائې پـــه ځائې وهی موجونه
د چـــا د زړهٔ د وینـــو معجـــزه ده او کـــه نـــه

×××××

ځـــان بانـــدې مشـــکله مـــې ګمـــان د پېژنـــدو اوشـــی
دومـــره بـــدل کـــړے زمـــانې زهٔ نـــن ســـبا یـــم

×××××



ukhto.net

زړګـــي مـــې د غمونـــو ډېره لويـــه خزانـــه ده
دا چــا د بــې نيــازۍ پــه تــاخ کښــې بــر ايښــلې دے

×××××

تــولې قيصــې مــې د غـــم ختمـــې کړلـــې
د چـــا پـــه ســـترګو کښـــې پـــرې نـــم را نغـــے

×××××

تــهٔ خــو لاتــهٔ ئــې د غېـرت د تقاضــې پــه وجــه
وايم چې په خپله مې په ځان باندې احسان ونه شي

×××××

د غـــه نېکـــی بـــه دې کـــړم هېـــره کلـــه
چـــې ســـتا يـــادونو کـــړم اوزګـــار د غمـــه

×××××

تــهٔ چــې پــه مړونــد مــې کلــه اوده شــې پــرې پــوهېږم
هاغــه ســاعتونو کښـــې راوېښ زمــا نصـــيب شـــي

×××××

هـــر ســـاعت زمـــا ســـره فرېـــب د زمـــانې اوشـــو
خکـــه بـــد ګمانـــه يـــاره ســـتا پـــه دې خبـــرو يـــم

×××××

چې تهٔ وې ستا سره ملګرې به شم
تېر مشران څهٔ ډاکه مار غوندې وو

×××××

زهٔ وینم پرې پوهېږم مګر غږ کولې نهٔ شم
د سترګو سره شوندې مې حیا ګنډلې دي

×××××

استوګنه د بازار خو ده مجبوره په سودا
روزګار دے ددې خلکو اخیستل او خرڅول

×××××

د سرېتوب جرم څهٔ تېوقه نهٔ ده
دې له زندانه سره دار هم شته

×××××

ما وې رهبر دے د رهزن سره مې عمر تېر شو
زړهٔ مرور مې د هېچا سره قدم نهٔ اخلي

×××××

فکر زما د پرېوتو مه کوه
وخت به پرېوځي زړهٔ مې نهٔ پرېوځي

×××××



pukhto.net

پـه یـو فکـر مـزاج بانـدې جـوړېږي دوه یـاران
مطلب لـه هـر یو یار دے ځائے پـه ځائے زمـا او ستا

×××××

رېښـتیا پـه حقیقت کښـې د نظـر هسـې دهوکـه ده
مونـدلے پـه دنیـا کښـې نـه شـی خپـل او نـۀ پـردے

×××××

بـې طمعـې چـې ناڅاپـه رابـښـکاره شـۋلې دلبـره
د زړۀ پـه چمـن ځـائے پـه ځـائے مـې ګـل اوټوکـېـدو

×××××

کلـه د خـدائے پـه در کښـې کلـه ستا پـه در ولاړ یـم
څۀ خو مې بیـا نـۀ مونـدل ورک شومه د خپلـه خانـه

×××××

یـو لوبـه د ژونـدون مـې د لوبغـاړو سـره اوکـړه
پـه سـود مـې څۀ سـودا ده نـۀ پـه زیـان مـې څۀ سـودا

×××××

پېغمبـری جزونـه شـتـه پـه شـاعری کښـې مګـر
کـه پـه شـاعر کښـې د رېښـتیا وئیلـو خـوی راغـے

×××××



ukhto.net

بوی د دغا مکر فریب دي د خلوته راځي
د قام په وینو ستا شراب د ولایته راځي

×××××

پرقېږمه پنجره کښې خوشحالېږمه يارانو
چې اوګورمه تاسو ازده کړی الوتل دی

×××××

مظلوم ورته خندېږی او ظالم کوی فریاد
د زړۀ په وینو تکي دا زما قلم لیکي

×××××

تا له در غلے ووم یواځې صنم
چې زۀ واپس شومه دنیا اولیدم

×××××

که دې په خپله په ځان رحم اوکړو
رحم په تا به د هر لورې اوشي

×××××

بې ترسه ښنهار کښې زما زړۀ په درزېدو شو
ګنګرو دې لړ په سا کړه چې بې سا نۀ شمه زۀ

×××××



ukhto.net

ځُله چې ئې کوم وخت رقیب له ورکړله
او ئې وئېل چې دا زمونږه رسم دے

×××××

وینې د زړۀ ښبنمه نشه پوره کوم
ځکه په ما باندې شراب حرام دی

×××××

ځان به پکښې اوپېژنې ځان به پکښې اووینې
زۀ هغه شیشه یم که چا اوکتل ما ته

×××××

غم د عاشقۍ که وېم د چا سره ئې اوویم
اوس په دې دنیا کښې خو نه قېس او نه فرهاد شته

×××××

بې قدره سوچ اوکړه فکرونه اوکړه
مینه زما د پښو زنځیر خو نه دے

×××××

قولې په سترګو باندې ځکه ګرځم
تندې ته ګورمه خبرې کؤم

×××××



ukhto.net

دخپل ځان غم یمه ستا غم یم د دنیا یمه غم
که په غم ځان پوهه کوې نو راشه ما ته ګوره

×××××

په جدایۍ دې نا قراره یمه
چې ته د بل شې زما حال به څۀ وی

×××××

ژوندون کښې خو را نغلې خبر دے قبر له مې راشه
لحد توره تیاره به سپینه ورځ راباندې شي

×××××

زړۀ کښې مې بې شانه ډیوې بلې کړلې مړې شولې
سترګو د عبرت له مې ناڅاپه چې نظر راغے

×××××

ستا غم د جدایۍ زۀ په دا شانې کور و کر کړم
هر ور کښې "تا" کوُمه خو هیڅوک نه پېژنم

×××××

تا د بل جونګښې سوزېدو له چې بل کړے وو
نن دے هغه اور چې به محل ته دې را اورسی

×××××



pukhto.net

خوا لـه چې مـې راشـې لـږ پلـۀ د مخـه لـرې کـړه
زۀ بـه شـم خوشحاله سـتا د مـخ ګـلاب بـه اوخانـدی

×××××

د قبـر سـر تـه ئـې ډیـوه د حسـن بلـه کړلـه
پـه سلګو مړه شوه خو پتنګ ئې خوا لـه یو را نغـے

×××××

ستا سـو خـواهش د ے پـه ارام غـاړې تـه پـورې وُځـۀ
مـونږه غمـژن یـو پـه غُولـو کښـې بـه ګـدا جـوړه کـړو

×××××

مـا تـه کـه ګـورې نـو کـړه سترګې دې د اوښکو ډکې
ګلونـه زیـات ښائسـته پـه پرخـه کښـې سـحر ښـکاری

×××××

ډېـره مـوده د ځانـه ورک وومـه زۀ
سـتا پـه یـادونو کښـې مـې خـان اومونـدو

×××××

د وخت پـه سـمندر کښـې د یـو خـس پـه شـان روان یـم
د غـاړې او ګـودر پـه تنـاؤنو نـۀ پـوهېږم

×××××



ukhto.net

په طمع طمع د دوستۍ کښې مې عمرونه تېر کړو
چې د چا دوست وومه هغه راته دشمن وائی اوس

×××××

د زورورو دې خــدائے زور اوبــه کـــړی
څــوک چـې دا ســتا مینــه پــه زور اخلـــی

×××××

ســتا پــه یـــادونو کښـــې دې ورک شــمه زۀ
خبــر کــه پــه دې د بڼــې ســپک شــمه زۀ

×××××

دوستان خوشحاله نه دی او دشمن زما خفه دے
سـلوک د هــر یــو کـس جدا جدا وینمــه زۀ

×××××

هـر کلـه اشـنا چـې مـې د مـرګ اواز پـه تـا اوشـی
دومـره درتـه ویـم چرتـه پـه مـا پسـې او نـۀ ژاړې

×××××

زمـــا دې هـــر هـــډوکے څړیکـــې کـــوی
د چـــرس افیـــون او د شـــرابو بنـــۀ دی

×××××



pukhto.net

ملګریه ! ما ته لر شیبه اودرېږه
د ځانه ورک یمه چې خان اوګورم

×××××

د زړۀ قرار چې د ازله مې په برخه نشته
په حال مې ترس خود غرضه زمانې مه کوه

×××××

ګرد ئې د سترګو په نظر نۀ راځي
قافلې دومره په تُندې لاړې

×××××

د بل اواز راباند اثر نۀ کوي
زړۀ چې مې توپ کړي ویمه تۀ مې غواړې

×××××

زۀ که پرهر یمه خبرې کوم
خُله د پرهر خبرې چرته کوي

×××××

د زړۀ نه مې چاپېره ګناهونه په میشته وي
په دې وجه د خپلو ارمانونو وینې څښم

×××××



ukhto.net

په نصيحت دې بل ته خُله خيرې شوه
چرته په خپله دې عمل پرې کړے

×××××

چې د مرګې نه کوم سړے ويرېږی
هغه د ژوند په ادا پوهه نۀ شو

×××××

ګوره بې طمعې د زړګی په سترګو
چې غټ او کچ درته يو شان ښکاره شي

×××××

د سترګو نه مې سترګې لړې بېرته غوندې کړه
د دې نه د غمونو سېلابونه را اوځي

×××××

زړګے مې د ژړا نه په خلوت کښې په خندا شو
ناڅاپه چې مې سترګه د سبا شوله د سترګو

×××××

کوې څۀ له خندا مې په ګرېوان پاره پاره
راځه چې باغ ته لاړ شو د ګل اوکړه ننداره

×××××



ukhto.net

نور کله أمېد وو چې پائېدم په أمېدونو
اوس چې فکر کومه د فکرونو دنیا ورانه ده

×××××

که دې دنیا ته د خواهش په سترګو
اوکتل تا ته به بنائسته ښکاره شي

×××××

څوک چې غمژن زما په غم وو مدام
هغه یاران شو د انځر ګلونه

×××××

ما په نا اهله سرو ملا تړله
د پاتې عمر سزاوار شومه زۀ

×××××

د حقیقت نه پرې بهر نۀ اوځم
خبر که هر څو کړمه ترخې خبرې

×××××

صفت د بې وفا مې قلم هېڅ په ژبه نۀ اخلي
ګیلې مه کوئ خلقه د حضرت عتاب په ځائے دے

×××××



ukhto.net

مـــا کـــړې اراده ده اوس تـــرې الوزمـــه واوره ئـــې
بـــوده ســـتا د پنجـــرې راتـــه تلکـــې شـــي کـــه فـــولاد

×××××

یـــو اســـوېلے شـــي مـــې د خُلـــې نـــه اوځـــي
چـــې مـــې د زړهٔ پـــه مینـــه اور اولګـــي

×××××

نـــوم زمـــا چرتـــه پـــه خـــازه مـــه لیکـــئ
د بـــې وفـــا بـــه پـــرې نظـــر راشـــي

×××××

زهـرا او کـه سـپوږمۍ کـه ګـل غـوټۍ اوویمـه تـا تـه
رضـــا نـــهٔ یـــم پـــه دې چـــې دا زړې خبـــرې دی

×××××

خوږل او ښنبل چې چا کړې د سرو په ښمخوکو کښې
اســـرار او پـــه رمـــوز هغـــه د ژونـــد کلـــه پـــوهېږي

×××××

جونګېـــه کښـــې پـــه زمکـــه یـــو ســـاعت د ازادۍ
قربـــان پـــرې ســـیم وزر شـــه د دنیـــا د غلامـــۍ

×××××



ukhto.net

ساګ د شـر شـمو او د جـوارو روټـی
ستا پـه ګنـده شـرابو نـۀ بـدلوم

×××××

ځان ته چې مې اوکتل هرګز د معافی نۀ یم
ستا پـه پېژنـدلو کښې مې دومره خطا کړی ده

×××××

لاړې د عـدم کښې څوک ملګرے د هېچا نۀ وی
ځان ته مې نظر کړو پـه دنیا یـواځې پاتې شوم

×××××

کـه دې یـاد یږم کـه دې نـۀ یـاد یږم
یـاد بـه دې شـم چې مې خبرې راشـی

×××××

څـوک رانـه هسې مـرور لاړلـو
چا د دنیـا پـه بـدل پرېښـوډمه

×××××

لاړم د ګړنګـه سـر د لاتـدې ورګـزار شـومه
مـا د خـود غرضـو چې تکیـه پـه وفـا کړی وه

×××××



ukhto.net

د سترګو تور د زړۀ مرهم وومه زۀ
چې د پېرې تورې په سر وه زما

×××××

د مرګ په راز که پوهېدل غواړې
د ژوند په هره پاڼه ځان پوهه کړه

×××××

لوح و قلم ورته په خبر وئیلي
څوک د تقدیر چې بدلول غواړي

×××××

هر یو قدم دې په احتیاط چوتوه
تۀ د ژوندون په پېچ و خم ئې روان

×××××

زمونږ د عقل او شعور پته د دې نه لګي
چې ابن الوقت مونږه اخیستے د کامران په بدل

×××××

د زمانې په طوفانونو کښې رڼا کۀمه
د بل په لاسو په اختیار کښې بدلېدلے نۀ شم

×××××



ukhto.net

د چا منصب او د دنیا دولت ته مه پسخېږه
فرعون په نیل قارون په زمکه وار په وار ډوب شوی

×××××

کم عقل نۀ یمه پوهېږمه په غور ګورم
زما نه هر سړی ته تا زما نه بر کتلی

×××××

زۀ په سړیتوب او تۀ په مال سړی ته ګورې
دا یاری زما او ستا تر مرګه چلېدے نۀ شي

×××××

زړۀ مې دے خاموشه پرې یرېږم چې اودۀ نۀ شي
تا چې ورته یاد کړم دے به بیا تېپونه اووهي

×××××

مینه یو سیند دے دا غولۍ لری موجونه لری
که لاهو کېږې نو اول ترینه لامبو ازده کړه

×××××

وخت ته چې ګورې نو یاران بدلیږی
که ته بدلېږې ما یواخې پرېږده

×××××



ukhto.net

ستا په یارانه کښې ځان به دومره لېونے کړم
ښکلی به په هر ځائے کښې زما نه کناره کوی

×××××

اوښکې د زړهٔ په اور اثر نهٔ کوی
که په ګرېوان ورته سیندونه جوړ کړې

×××××

ګرد د کاروان مې په نظر نهٔ راځی
زهٔ د جرس په انګازه پسې ځم

×××××

چې د هر چا د در نه ئې تول ور کړے دے
هغه اوس بل ته دسترخوان غوړوی

×××××

غم دې ډېوه شی او میشته دې په ما
زما جونګړه کښې رڼا خو به وی

×××××

وینې به څښم شراب به او نهٔ څښمه
هر شرابی سړے وفا نهٔ لری

×××××



ukhto.net

د سبا غم ته زما فکر نۀ وو
ځکه د هر سرې نه پاتې شومه

×××××

اوده شوم ستا په غېږه کښې راویښ په تلوسو شوم
خوب کښې په خندا چې د رقیب سره ګویانه وې

×××××

شمعې ته اوګوره انداز ترې د ژوندون ازده کړه
په خپله ځان سوزوی بل ته رڼائي ورکوی

×××××

ما چې په ټېر عمر د هر چا په غم ژړلی وو
هغه خلق نن زما په حال پورې خندا کوی

×××××

ستا په موندلو کښې مې عمر تېر کړو
ځان رانه ورک شو ته مې بیا نۀ موندې

×××××

د غلا او د غولتې په یارانه خو نۀ پو هېږم
که دوست یم که دشمن یم د هر چا په ناغاره یم

×××××



ukhto.net

مینه دې ما سره وه شک پرې نۀ وو
خو ترهغې چې ستا د کار وومه زۀ

×××××

مایوسه زړۀ له تسلي په کومه خُله ورکړمه
زما وفا سره هر یو اشنا جفا کړې ده

×××××

اوپېژنه مرګ چې دا اټله فیصله ده
بیا به د ژوندون په هره لاره پوهه شې

×××××

که رورولي په پښتون والي کوې
د کلپاني ملک زاده جوړ شه

×××××

د کرسۍ خپل به دې یواځې پرېږدي
هر تاج ملوک څۀ تور لالاخو نۀ دے

×××××

په اسویلو دې څېګر مه سوزوه
سوی دانه زرغونېدلي نۀ شي

×××××



ukhto.net

مینه بې غاړې سمندر زړۀ نازوړے ^ پکښې
که ته ورګډ شولې نو پښې به دې په تل نۀ لګي

^ سین زاوړی د لرګی ټکړه ×××××

ستا د وعدو ښکلي غنچې جوړۀم
که کاغذي وي که رینښتیا ګلونه

×××××

ځي او راځي هره ارزو زما نیمګړې راشي
شل ارزوګانې چې یو ځائے شي د ځیګر وینه شي

×××××

د مینې ډک زړګے مې ورکړو خو لاسونه تش وو
په تشو لاسو مې د ډک زړګي قیمت او نه شو

×××××

د ناچارۍ صفت په څۀ د بره تا ته اوکړم
د زړۀ سورو ته د غمونو پیوندونه لګوم

×××××

د ځانه ورک یمه که ستا نه ورک شوم
زما شعرونو کښې تۀ ما لټوه

×××××



ukhto.net

زړۀ به دې ګل نۀ شي غوټۍ به وي تل
يوه خندا به ئې خو ستا پرانېزي

×××××

که ستا په يادو زما پېښه اوشي
زما ترخې ترخې زورنې ياد کا

×××××

زۀ بې وفا يمه که ستا د مجبورۍ د لاسه
زما او ستا په مېنځ کښې دومره فاصلې ولې دي

×××××

د غم تصوير پرې د ازله راسې
د زړۀ دپاسه مې ټالونه وهې

×××××

که دا ځل لاړې بيا دې نۀ يادوم
که ځې په سوچ او په فکرونو لاړ شه

×××××

که زمانې درته په ترس اوکتل
زۀ به دې سترګو په لېمو کښې نغاړم

×××××



ukhto.net

د چا په وینو که دې لاس سره کړل
دې قربانۍ له صدیقي یادؤه

×××××

په ځان په خپله زما چار نهٔ رسی
کم عقل زړهٔ زما پردی خپلوی

×××××

د ازل برخه مې خوره وره ده
کږه په سر لکه ګوجر ګرځمه

×××××

نن دې وی خوښ سبا ترې مور غوندې ئې
یو ستا د خوښې مې معیار اونهٔ لید

×××××

بل سړے ما سره وفا نهٔ کوی
د غم دلاله چا ته مه مې پرېږده

×××××

ګوټ نه یم ډېر به مې قیمت پیدا شی
خو که په لاس د جوهری وراغلم

×××××



ukhto.net

ما وخت په وخت په خان ظلمونه کړي
د خانه بد زما دشمن نشته دے

×××××

په پاتې عمر به خوشحاله نه شې
د خانه زيات که تهٔ په بل مئين شوې

×××××

ستا په غېرت باندې مې ملا تړله
ډېره مې طمع وه نهر پاتې شوم

×××××

اوس د مرګي په نزدېکت باندې خوشحاله يمه
د ژوند کارونه مې ټول اوليدل وفا نهٔ لري

×××××

د هر يو در نه مې د حسن ګدائي اوکړله
زړهٔ اواره مې اواره ګرځي په لاره نهٔ شو

×××××

هر حقيقت منم په سر سترګو
خو فرېبونه قبلولے نهٔ شم

×××××



ukhto.net

خـاورې ایـرې شـومه خاموشـه یـم فریـاد نـۀ کـړم
د چـــا د لارې د چـــاپونو اوازونـــه راځـــی

xxxxx

چـې دې نـا سـازې خـان تـه یـادې کړمـه
ویـم چـې پـه دې بـه یـو کتـاب اولـیکم

xxxxx

پـه بـده ورځ پـه بـد سـاعت د چـا ګیلـه مـه کـوه
د سـترګو رپ وی پـه دنیـا کښـې انقـلاب راځـی

xxxxx

تیـارې د هجـر هـره ورځ راتـه رقیـب جـوړوی
شـمعې پـه زړۀ کښـې نـوی نـوی سـتا د یـاد بلـؤم

xxxxx

کـه سـیم و زر پـه انبـارونو شـی قیمـت نـه لـری
زۀ بـه ډالـی د سـوی زړۀ ښـکلی جانـان تـه رسـوم

xxxxx

د ژوند مقصـد بـه مـې پـوره شـی د مظلـوم دپـاره
کـه د ظـالم هـر یـو ګـزار زمـا پـه سـر اولګـی

xxxxx



ukhto.net

تولې پردې د مېنځه لر کړې د دوستۍ په غرض
په لږ ساعت کښې د شرابو يارانې ورانې شي

×××××

ښې ابلـه پـه منډو سـترے کېږمـه نـهٔ
کـه يـو قـدم د چـا پـه کـار راشـي

×××××

اوښکې د سترګو نه وېزاره د ګرېوان په طرف
شـي را روانـې د سـکون يـوه جـولۍ لتـوي

×××××

ځـائے پـه ځـائے ولونـه دي غـولۍ د جفـا
د زړهٔ کشـتۍ بـه دې يـو ځـل ډوبـه شـي

×××××

غـم چې مې کـوم ځـائے کښې ځېګـر بيـا مـومي
د جـدائۍ پـه تـوره ئـې نـور اووهـي

×××××

د بـدې ورځـې مجبـورۍ نـه ډېـر خوشـحاله يمـه
دوئ په تميـز بانـدې د دوسـت او د دشمـن پوهـه کـړم

×××××



ukhto.net

که ارمانونه پاتې نه شي د وصال په وجه
پوره دې نه شي زما ستا مینه نیمګړې دې وي

×××××

ستا د خاطره مې دنیا پرېښوده
جهان پردے شو تۀ مې خپل نۀ کړلې

×××××

خورم دې د ګوړې د چکې په مثال
د غم سکروټې ستا نه اور نۀ لګي

×××××

نشته دنیا کښې د پې مخو کمے
زۀ خو قدرونه د وفا کؤمه

×××××

که یم که نۀ یم څۀ حاجت نشته دے
ستا سو مجلس دې په خدا وي اباد

×××××

چې ئې غنچو ته ستا د مخ اوکتل
د باغ ګلونو سلامونه کؤل

×××××



ukhto.net

که زهٔ مجبوره شوم نو غم مه کوه
څوک په دنیا کښې په یو حال پاتې دے

×××××

د اور بخرې مې د خُلې نه اوځی
کڅه په خُلې کښې مې لمبې بلېږی

×××××

کله رقیب ته کله ما ته نظر
زړهٔ مې په مینه څهٔ شکمن غوندې شی

×××××

د مشرانو مې قیصې اورېدې
هغه په خپله تولې ما اولیدې

×××××

ما له نېستی موقع را نهٔ کړه د شرابو څښلو
خلق دې نهٔ وائی چې دا صدیقی ښهٔ سړے دے

×××××

د خوبه ما ته شرابی سترګې را اوغړوه
ورک شوے خوب که زما سترګو له په چل راشی

×××××



pukhto.net

خواهش دې رب پوره کړلې زما د مرګه مخکښې
چې ستا د ګټمې زړۀ پرې لږ څۀ نرم غوندې شې

×××××

په دې مې مه زوره چې ستا نه لرې لرې ګرځم
یمه غافله څکه ستا نه چې ناتوان یمه زۀ

×××××

که په جونګړه په محل که په صحرا کښې ګرځم
یواځې نۀ یم ستا یادونه دی ملګری زما

×××××

سترګې ستومانه که بې څانه زۀ را پرېږدمه
ډیر به خوشحاله شم چې تاسو په منزل اورسئ

×××××

د بل نه څکه فریادونه نۀ کوم
ظلمونه ما په څان په خپله کړی

×××××

د هجر غم مې درته څکه مخا مخ او نۀ وې
تا د احساس په غوږو نه اورېدو خاموشه راغلم

×××××



ukhto.net

تولــه شپه روڼ مــې کــړه د ځــان ســره پــه دې خبـرو
چې زمــا ســتا د مینــې لاړ پــه څــۀ بدلــه شــوله

×××××

د خبـر پــه طمع کــه قدم مې ستا پــه لــور واخستو
غنــې جــوړې راتــه پــه خپلــه دروازه کښــې کېـــړده

×××××

یــو نــرۍ کرښــه د خنــدا کــه ســتا پــه شــونډو راشــي
د وصـــال تـــږو تـــه بـــاران د رحمتونـــو کېـــږي

×××××

قـــرار کـــه نـــۀ نیســـي زړګـــے زۀ شـــکایت نـــۀ کـــوم
ما ترې په خپله په کوشش باندې سیماب جوړ کړے

×××××

زۀ کـــه ناکـــاره یـــم خـــو یـــو صـــفت بـــه داســـې لـــرم
چـې پـه هغـې مـې ځـان تـه پرېـږدی دا ناکـاره خلـق

×××××

د غم پـه ولونـو کښـې خوبونـه کـوم عـادت دے زمـا
کـــه تـــه ویرېـــږې نـــو مـــا پرېـــږدوه جـــدا کښـــېنه

×××××


پښتو کتابتون
pukhto.net

زما خبرې څۀ خبرې نۀ دي
که څوک پرې پوهه شي په کار به ئې شي

×××××

زۀ به د دې ژوندون نه څۀ ګیله کړم
هره ګړۍ چې ئې په مرګ وي حساب

×××××

زړۀ مې یوه لار د وفا جوړه کړه په دې غرض
ځي چې بې وفا یاران پرې خپل منزل ته اورسي

×××××

که په ټول عمر سوزېدل وي زما
چې د ډیوې په مثال اوسوزېدے

×××××

نه خیال نه مې خواهش نه مې طاقت شته د ژوندون
خو ستا د مینې لوظ زۀ مجبور نیولے یم

×××××

لکه بنه د غم په باد به الوتلے وومه
مینې درنې دې کړمه د روند د خوزېدو نۀ یمه

×××××



ukhto.net

زۀ دې هېرومه فېصله اوکړم د ځانه سره
زړۀ رانه لاړ شي او د ځان سره دې بيا راولي

×××××

زلفې دې لرې د مخ لرکړه د نقابه سره
د هجر شپه توره تياره ده چې سبا راشي

×××××

نن د ې د زړۀ په سترګو هر طرف ته تا لټوم
سبا چې نه يم به د مخ په رڼا ما ګورې

×××××

نارې سورې زما خورې شوې د انګي په مثال
يا خو څوک نشته يا زما چغو ته خيال نۀ کوی

×××××

په مجبورۍ کښې په ژوندون باندې ستومانه شومه
چې په مستۍ کښې شم په مرګ پورې خندا راشي

×××××

ما ته چې شوی دی زما نه بل ته ډېرې شوی
د خُلې خبرې دی نو زۀ ولې خفګان کړمه

×××××



ukhto.net

په زړۀ کښې مې بل شوی ستا د حسن مشالونه
دې کور د محبت ته به صحرا نه اووایم

×××××

چې ورکه شي ښکاره شي يو عجيبه معمه ده
زرغونه شي دانه د هلال بدر جوړه شي

×××××

زۀ ئې ليکم د سوي زړۀ په قلم
که د غصې نه چا ته اور اولګي

×××××

ډيوه مسکۍ شي راته اوګوري چې سترګې غړوم
په خپله سوزې ته زما رڼا ته ولې ګورې

×××××

د زيات و کم نه څۀ حوړيږي په روا ناروا
د قبر خاوره وي اخر په قبر بيا اولګي

×××××

جسم تنور دے د هوس روح دې د نوره جوړ دے
اوس دې اختيار دے دغه نور تنور ته او نۀ سپارې

×××××


ukhto.net

نوم به ئې خنګ د وفادارو په فهرست کښې راشي
چې د دولت په بدل ما غوندې يار نۀ پېژني

×××××

په شوګيرو کښې چې مې سترګې لږ ساعت وراغلې
زۀ په سلګووومه رقيب ته دې خندا کړله

×××××

ستا غم مې جوخت نيولے دے سينه پورې دلبره
تکل ستا د موندو مې سروهلے ګرځوی

×××××

يو ائينه يم که شعور لري څوک
چې راته اوګوري نو ځان اويني

×××××

زۀ په غمونو کښې خوشحاله شومه
خلقه د غمه فرياد څنګه اوکړم

×××××

صحرا د لېونتوب کښې لکه باد هسې تېرېږم
رضا يمه ستا مينه زولنې دې جوړه شي

×××××



ukhto.net

شاید د زړهٔ کشتۍ مې د غم غاړې ته نزدې شي
هر ساه نه چې جوړومه زهٔ ګرداب تمنا

×××××

خالونه ستا د مخ لکه د ستورو رڼائی کا
دا ستوری سین کښې چرته اخر به رڼا شي

×××××

مرګ خو د هر سړي په برخه لیک دے
مړ شي سړے چې په حیا مړ شي

×××××

چې مې ارزو د ګناه نه وه کړې
د زاهدانو په فکرونو کښې ووم

×××××

خپلې په خندا د ارمانونو کشتۍ پرانیزم
ستا د غم چپې چې ګزارونه په مخ راکړي

×××××

د مرګه پس به راپسې ګرځي
دغه به ستا د بې رخۍ وی سزا

×××××



ukhto.net

صدیقي ښه به وي خاموشه کښېنه
ستا په خبرو څوک عمل نۀ کوي

×××××

لارې ته ګورم خپله لاړ خوښوم
ستا د راتلو په انتظار نه یمه

×××××

د زلفو سوری ته مې سر ښکته کړه
د دې نه بل ښکلې محراب نشته

×××××

چې په زړګونو مسافر اودروي
داسې چاپونه د قدم پرېږده

×××××

د بل نه څنګه د عزت طمع کړې
که دې په خپله ځان ته سپک اوکتل

×××××

زۀ به د شپې د ژړا هیڅ ته حالونه نۀ وېم
خو چې مې سرو سترګو ته اوګوری دنیا پوهه شي

×××××



ukhto.net

رڼا چې راشي د سحر د غم په خوب اوده یم
د بلبلانو په چغا نسیمه کار نۀ لرم

×××××

څاڅکي د اوښکو زما سپک مه ګڼه
د دوئ په غېږ کښې دریابونه شته دے

×××××

یار ته د سر و مال دریغ مه کوه
که د ریښتیا مینې تعبیر غواړې

×××××

زۀ د فکرونو د غمونو ارمانونو جوړ یم
ځکه شعرونه مې د ژوند ښکلې نغمې جوړوي

×××××

راشه چې دې پوهه د هستۍ په مطلبونو کړم
هره یو مستي راسره غاړه غتمۍ شوی ده

×××××

ما سره سودونه د زړو غمونو مه کوه
هر نوی ساعت له ما له نوے غم پکار دے

×××××



ukhto.net

خطا شوې په هر وارې د رقیب د ګزارونو
د خپل زړهٔ د ګزاره به خان څنګه اوساتې

×××××

که سړے مړ شي دغه غم خو نهٔ دے
په حقیقت کښې خو ژوندون غم دے

×××××

د یار په لور سفر کښې نوی نوی خوشحالۍ وی
منزل ته رسېدل خو امېدونه ختموی

×××××

چا ته جولۍ اونیسم سر د چا جولۍ له یوسم
داسې وختونه شو چې یو سړے جولۍ نهٔ لری

×××××

ما وې چې زهٔ بندی یمه یواځې په پنجره کښې
زهٔ اورم د پنجرو نه په زرګونو اوازونه

×××××

د غم قیصې به چا ته څنګه اووایم
نشته یو یار چې مې په غم اوژاړی

×××××



ukhto.net

په ننواتو په جرګو د دنیا
تېر شوے عمر په چا بیا نۀ راځي

×××××

کوم ځائے چې قصرونه محلونه د شاهانو وو
نن چې ورته ګورمه زړې کنډرې دي

×××××

اے خالق پروردګاره ما له دومره طاقت راکړې
چې زۀ ستا د بندګانو په کار څۀ نه څۀ خوشم

×××××

لوږې وږې خبرې ما ته د ژوندون ازده کړه
په هر قدم مې د هر یو اشنا سلوک لیدلے

×××××

څوک که مې نۀ پېژني ګرم پرې نۀ یم
په خپله ځان مې پېژندلے نۀ دے

×××××

خبر دے جانانه که زۀ ستا هېر شوم
خدائے چې مې هېر شو د هر چا هېر شوم

×××××



ukhto.net

خاموشـــــی لويــــه د وينـــــا چغـــــه ده
د فکـــــر غـــــوږ ورتـــــه نيـــــؤل دی پکـــــار

×××××

د غــم څــادر بــه د شــپې واغوندمــه ورک بــه شــمه
مــا بــه را ويښ کــړئ کــه ســحر د خوشــحالۍ راغــے

×××××

يم دې په خړپوسـو خـو چـې سـتا لمـن مـې اونيـوې
هلتــه بــه راپورتــه بــوړ بوړقــه شــم خــوره بــه شــم

×××××

اوخښــه صــديقي شــراب زۀ تــا تــه اجــازت کــؤم
شرط وړپکښې دا دے چې مستي درپکښې را نۀ شي

×××××

ګــل شــوه د زړۀ غــوټۍ مــې ســتا پــه ليــدو
چرتــه چــې وئــې نــه ربــژے فــام کــوه تــۀ

×××××

پــه تــا مــې شــک او ســتا پــه غــم مــې يقيــن
تــه بــه مــې پرېــږدې غــم دې مــا نــۀ پرېــږدی

×××××



ukhto.net

ګټــه مــې اوکــړه کــه بــېلاد مــې اوکــړو
چــې تــه مــې بیــا نــه مونــدې ځــان مــې هېــر کــړو

×××××

زړۀ چــې مــې ســتا پــه خــط و خــال اولګـــي
لکـــه چـــې نقـــش پـــه دېـــوال اولګـــي

×××××

ســتا پــه پېژندلوکښــې شــکمن پــه تلوســو شــومه
خُله کښې دې ووم زۀ رقیب دې زړۀ او په نظر کښــې وو

×××××

د ژونــد کـــاروان پــه یـــو پــړاؤ اوده شــو
د زړۀ جـــرس مـــې فریادونـــه کـــوی

×××××

هلــه بــه پــه ژونــد د ښــۀ او بــد پــه تمیــز پوهــه شــم
خــوب کــه د غفلــت مــې پــه ریښــتیا د ځــان لــرې کــړو

×××××

کرکــه مــې د خپــل عمــل د مخــه بــې انــدازه شــي
کــوم ســاعت چــې ګــورم پــه ائــین د تهمتونــو کښــې

×××××



ukhto.net

د منډو ترړو اوازونه د بهره راځي
خوب د غفلت صديقي مه کوه بېدار کښېنه

×××××

د زماني شرونه څۀ اوستايم
هره ګړۍ نوے قيامت راولي

×××××

بد يمه ناکاره يم په ما کښې صفت نشته دے
ما ته کړه زورنې خو لږ ځان په خپله اوګوره

×××××

د بند شونو زنځيرونه شلؤم تا له درشم
په حسرتونو د ازغو ډکه جولۍ راوړم

×××××

ځان ته چې ستا د غم قيصې وايم په دې وايم
زړۀ مې بې ترسه دے که ترس ئې په ما راشي

×××××

ستا اننګو او نرو شونډو له سرخي راوړمه
مينه د زړۀ خرڅؤم ګرځم خريدار ګورم

×××××



ukhto.net

چې مجبوري مې د دنيا اوليدې
ځکه دنيا کښې زۀ مجبور خوبښوم

×××××

پتنګ ته چا وئېلي نۀ دي راشه ځان اوسېزه
ولې په شمع د پتنګ د سوو الزام لګوي

×××××

نن که نمر ختلے خو په ما باندې تياره ده
دې ته صبر کوم که سبا اوخېژي رڼا شي

×××××

باغونه شته ګلونه شته دے محلونه شته دے
زړۀ لېونے مې بې له تا خوشي ليدلے نۀ شي

×××××

بې له تا بل څۀ په نظر نۀ راځي
ته مې د دؤو سترګو نظر کڅۀ ئې

×××××

د خوشحالۍ نه په جامو کښې ځائېدلې نۀ شي
زړۀ وو يواځې مېلمستيا له ارمانونه راغلو

×××××

نـۀ مـې څـۀ رتبـه نـۀ څـۀ خاونـد د سـیم و زر یـم
اوو ایــه پــه کـوم سـبب مـې یــاره احتــرام کــوي

×××××

ستا په فرقت کښې اسوېلو مې دواړه شونډې اوسوې
چې بهـر لاړم پـه ځنګـل بانـدې مـې اور اولګـۀ

×××××

هغـه نـرۍ شـونډې کـړې وروځـې د محـراب پـه شـان
هغــه یــم زۀ خــو د لیــدو دې پــه ارمــان نــۀ یــم

×××××

مینـــه دریـــاب ده پکښـــې خـــس یمـــه زۀ
خـــو پـــه چپـــو کښـــې نـــې لامبـــو وهمـــه

×××××

د ژونـــــــد اوږدې کـــــــړې ورېږ لارې دې
ســـتا د زلفـــانو نـــه اوږدې خـــو نـــۀ دې

×××××

خــان پوهــه کــړه زمــا د ســوی زړۀ پــه انــدازه
هـر غـم چـې رالېـږې نـو زۀ تـرې مخکښـې خبـر شـم

×××××



ukhto.net

ستا د وفا نه مرور یمه زۀ
که ګنهګار یمه خو ستا د مینې

×××××

چمن ته لاړمه په دې طمع زۀ
خو ستا په رنګ مې پکښې ګل او نۀ لید

×××××

زۀ ستا د مینې چرته کښې انکار کولے نۀ شم
ژوندون مې ستا د مینې د احسانه شو پیدا

×××××

لازم ده احترام چې به کړو د بېراګانو
سُور بېرې درته ویم چې هر سړے نۀوی شاه ګل

×××××

د حاجت سورے د کوم وخت نه چې په سر مې راغے
د بل به څۀ ویم خو په خپله ځان ته سپک شومه زۀ

×××××

زۀ که ئې ویم د چا یقین پرې نۀ وی
د دنیا غمه لړ ئې ته اووایه

×××××



ukhto.net

کــه تــهٔ زمــا ســره ځــې ځــان پوهــه کــړه
خوشــــحالی کمـــه ده غمونـــــه زيــــات دی

×××××

مــــا د بــــا بــــا د لاس شکســــــت خــــوړلے
چــــې د غنمــــو پــــه دانــــه تېــــروتم

×××××

د رنـګ و بـو د عطـرو بـه دې زوګ شـی پـه هـر لـور
ځيګـر د ګـل پـه شـانتې کـړه يـو ځـل پـاره پـاره

×××××

چــــې هــــره ورخ نــــوی لوظونــــه کــــوی
هــــيڅ اعتبــــار پــــه هغــــه يــــار مــــه کــــوه

×××××

خپلـې خـواری نـه بـه زهٔ هغـه سـرداری جـوړې کـړم
زمــا قيصــې بــه د شــاهانو نــه پــه مينــه وائــی

×××××

شـــمع ځـــان ســـېزی د محفـــل دپـــاره
چـې سـحر مـړه شـی څـوک پـرې آه نـه کـوی

×××××



ukhto.net

زما د ژوند د کوششونو حاصل
لکه ازغے مې هر سړے ګُزاری

×××××

صفت وو د بتانو خان مې هېر وو رب مې هېر وو
کاسه د ککرۍ کښې مې خېرات غوښتلے دے

×××××

د عاشقۍ په سمندر کښې ډوبېدو له راغلم
مینې دې راوسته کشتۍ غاړې ته پورې وتم

×××××

که اوس ناشنا دی خو یاران وو پخوا
ما ته ئې هم ډېر سلامونه کړی

×××××

په ژوندون خاورې په ما مه خوروه
خاورې خو نۀ یمه انسان یمه زۀ

×××××

د زړۀ جرندې مې پرانستلې نۀ شی
د غم کنجی کښۀ بې کاره شوله

×××××

غمونه ستا د وفا ګل شو تري ځادر جوړوم
د ارمانونو مې په زړهٔ نوی قبرونه شته دے

×××××

چې د خپل سبوری نه ویریږمه زړهٔ
پرده د شپې ډیر خطرات لري

×××××

د جفا ډیر په زړهٔ زخمونه لرم
چا ته ئې نهٔ ښایم عادت مې نه دے

×××××

په ځان مئین ووم چې مې اولیدې په تا مئین شوم
په ائینه کښې ځان ته اوګورم نو تا اووینم

×××××

د عمر ونه په نظر کښې ورته چیته ښکاري
خو دې زېلې د قیامت نه هم اوږدې تلې دي

×××××

که نهٔ راځي نو غم دې ما سره دے
د شپې زما سره خبرې کوي

×××××

که د مستۍ د چمن ډېرې هواګانې راشي
زړۀ چې غمژن وي په هوا د چمن کار نۀ لري

×××××

د صراحۍ او د ګنګرو عزت په دې وجه کوم
دې ګناهونو کښې ګېر شوي خلاصېدلې نۀ شي

×××××

څوک چې غمژن وي نو ژوندے وي مدام
چې غم ئې ورک شي نو انسان ورک شي

×××××

چې ويره ترهه د خطره کوي
هغه منزل ته رسېدلې نۀ شي

×××××

ګيلې په دې مې د يارانو راشي
ما چرته نۀ اخلي زما نوم اخلي

×××××

هره بلا چې د اسمانه راځي
د غريبانو تپوسونه کوي

×××××



ukhto.net

شرم تاوان کړاؤ مې اوشو ډېر خوشحاله شومه
خو چې ستا نوم زما د مینې د کتابه اووت

×××××

لاسونه پښې ژبه او سترګې دې تصویر جوړوی
کړه شکایت د خپل عمل نه د تقدیر مه کوه

×××××

چې د ظالم سرې په لاسو کښې خنجر راشی
د غریبانو په اینو سکو پرهر راشی

×××××

ژړا ښهٔ نهٔ ده خو بیا هم په هغه ورځ اوژاړه
چې ورځ شی تېره د نېکۍ پکښې قدم وا نهٔ اخلې

×××××

د اسماعیل په شان ادا د قربانۍ ازده کړه
که چاړه اودربړی خو ستا مرۍ چې او نهٔ خوزی

×××××

که یو ایمان د ابراهیم پیدا شی
ننني اور به ګلستان جوړ شی

×××××



ukhto.net

که زما عمل ته ګورې په هغې حساب کتاب وی
چې ستا رحم پکښې نهٔ وی بیا جنت له نور پیدا کړه

×××××

اسمان که ولې په توکانو ورته چرته رسی
خو ستا په مخ به دا توکلی لاړې بیا پرېوځی

×××××

وفا د غیرو که په زړهٔ کښې راشی بده نهٔ ده
مزه خو دا وی چې د یاره دې دشمن جوړ شی

×××××

څوک چې رانه اوکړی د جانان د مروت تپوس
هلته شی قسم دے بښکته سر د ندامت زما

×××××

فضل په ما غریب د دې نه د مولا به څهٔ وی
د حق په لار کښې چې تر اوسه لاکړېږمه زهٔ

×××××

هرې سختۍ ته زهٔ مسکے شمه خندا کؤمه
ځکه ګردش د زمانې په دې جواب ژړؤم

×××××



pukhto.net

نـه اوسـم پـه روغـو کښـې مخلوقـه لېونـو لـه ځـم
دا خــو ســتمګر دی وفــا دارو پخوانــو لــه ځــم

×××××

نـوی تهـذیب د زمـانې کښـې خوشـحالی دومـره وی
فرېب پـه خـائـے بـې غمـه پـروت وی خـو ایمـان لاړ شـی

×××××

کـرام الکـاتبین بـه پـه محشـر مـې عمـل اوښـائي
لیکـل چـې دوئ کـؤل نـو زمـا هلتـه کښـې څـوک وو

×××××

سترګو کښې تۀ ئې زړۀ کښې تۀ ئې تصور کښې تـه ئې
تـۀ راتـه اووایـه پـه دې کښـې بـل تـه څنـګ اوګـورم

×××××

څـوک کـه حـاتم شـی زۀ قـدم بـه ئـې پـه در کېښـږدم
پـتې پــه خپلــه پــه وریځــو پســې چرتــه نــۀ ځــی

×××××

پـه خپلـو پښـو کښـې پرېوتـل د بـل د پښـو نـۀ ښـۀ دی
دېوال چـې پرېوځـی پـه خپـل سـېوری وی بـل خـائـے نـۀ وی

×××××



ukhto.net

د نفس کوهي ته چې څوک پرېوځي ختې ترې نهٔ شي
د ارمانونو په درياب کښې چرته لاړ نهٔ مومي

×××××

اوږده اوږده خطونه که مې نهٔ درځي نو خبر دے
دا څو ټکي مې ځان ته په کتاب حسابَوه

×××××

ژوند مې تهٔ مينه مې تهٔ منشا مې تهٔ ئې
د باقي عمر عزت حيا مې تهٔ ئې

×××××

که اوخاندې په ناز باندې غنچې د ګلو ما ته
قسم درته کؤمه ستا تصوير مخې له راشي

×××××

خپلو پردو کړمه مجبوره ستا د در اووتم
ستا د ديدن غنچه مې پرېښؤده بهر اووتم

×××××

په رور عزيز کښې چې جانان دې بې عزته نهٔ شي
د غيرتي ښځې خاوند چې بې غيرته نهٔ شي

×××××



ukhto.net

حلال رزق د ستونی زما چرته نه تېرېږی
حاکم یمه قاضی یمه راکاږمه مرداره

×××××

د خپلو کړو چېې د ول نۀ چې مې غاړې ته کړی
بیا مې تپوس له د خپلوانو شوندې بُوسې راخی

×××××

جرم به دې ورک شی که په جرم دې اقرار اوکړو
جرم نه انکار سړے په بل جرم کښې ګډ کړی

×××××

د خنګ د لوری چې ګزار زما په سر اولګېد
ما وې دشمن دے چې مې اوکتل یارانو اوکړو

×××××

زۀ توبه ګار په نصوحا شومه بیا هم کړېږم
پروردګاره ګناهګار یمه کافر خو نه یم

×××××

په مال متاع حسن رتبه باندې غرور مه کوه
وُنه او بوټے چې میوه اونیسی سر ښکته کړی

×××××


ukhto.net

چې مخلوقات دې ریز مریز شي به ئې تپوس کوي ته
کــه انصــاف کــړې رب العزتــه نــو قیامــت راولــه

×××××

عــالم یــم نــۀ واعــظ نــۀ ایــډیټر نــۀ منســټر
کــوم کــار چــې نــۀ کــوم روره هغــه تــا تــه نــۀ ویــم

×××××

زۀ وینــم پــرې پــوهېږم مګــر غــږ کــولې نــۀ شــم
د ســترګو ســره شــونډې مــې حیــا ګنــډلې دی

×××××

مــا وې رهبــر دے د رهــزن ســره مــې عمــر تېــر شــو
زړۀ مــرور مــې د هیچــا ســره قــدم نــۀ اخلــی

×××××

د یــار پــه لــور ســفر کېــږي نــوې نــوې خوشــحالۍ وی
منــزل تــه رســېدل خــو اُمېدونــه ختمــوی

×××××

پــه ارمــانونو ګلعــذاره زمــا پــاتې بــه شــي
زۀ بــه رخصــت شــمه دلــداره زمــا پــاتې بــه شــي

×××××



ukhto.net

زه انتظار کومه ستا د سترګو

سیف الملوک صدیقي



زه انتظار کوّمه ستا د سترګو
ولې پناه شوې ته زما د سترګو

چې په ګلونو د دنیا کرم نظر
مثال مې نشته د اشنا د سترګو
که په سلګو یمه یواځې ته یم
اوښکې بهیږی د هر چا د سترګو
څومره ښائست چې ستا په سترګو کښې وو
نشته نرګس او د لالا د سترګو
هر چا ته ګورمه دنیا لټوم
نشته هغه چرته خندا د سترګو

صدیقیؔ خوښ دے په خلوت د دنیا
چرته به پټ شی د دنیا د سترګو


جان کتاب کور
JAN0345K951961KS